د افغانستان بانک



د ۲۰۱۹ کال لومړۍ ربعه
(د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر څخه د ۲۰۱۹ تر مارچ)

# اقتصادي او احصائيوي بولټن

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائيوي بولټن

د افغانستان بانک



د ۲۰۱۹ کال لومړۍ ربعه
(د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر څخه د ۲۰۱۹ تر مارچ)

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د پولي سیاست آمریت
د افغانستان بانک
ابن سینا واټ
کابل
افغانستان
ټیلیفون: ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+
وب پاڼه: www.dab.gov.af
بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ پیلیږي. دا بولټن د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې (د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر له ۲۲ نېټې څخه د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر ۲۰ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

**د محتویاتو لړلیک**


**عمومي کتنه** ........ ۱

**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ........ ۵

۱.۱ پرمختللي اقتصادونه ........ ۵

۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد ........ ۵

۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد ........ ۶

۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ........ ۷

۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد ........ ۸

**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه** ........ ۸

۱.۲.۱ د چین اقتصاد ........ ۸

۳.۲.۱ د ترکیې اقتصاد ........ ۹

**۲. د بانګې او پولي بازار بدلونونه** ........ ۱۳

۱.۲ پولي پروګرام ........ ۱۳

۲.۲ د نقدینګی حجم ........ ۱۴

۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې ........ ۱۷

۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ........ ۱۷

۱.۴.۲ د اسعارو د مبادلې نرخونه ........ ۱۷

۲.۴.۲ د اسعارو د مبادلې لیلام ........ ۱۸

**۵.۲ د پانګه ایز بازار او د سیالیت شرایط** ........ ۱۹

۲.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام ........ ۱۹

۳.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې ........ ۲۰

**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ........ ۲۳

۱.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې ........ ۲۴

۱.۱.۳ په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه ( کال په کال بدلونونه) ........ ۲۵

۲.۱.۳ ملي عمومي انفلاسیون ( ربعه په ربعه بدلونونه) ........ ۲۵

۳.۱.۳ د کابل په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه ( کال په کال بدلونونه) ........ ۲۹

۴.۱.۳ د کابل عمومي انفلاسیون ( ربعه په ربعه بدلونونه) ........ ۲۹

**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ........ ۳۵

۱.۴ د اداینو بیلانس ........ ۳۵

۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ........ ۳۵

۲.۱.۴ پانګه ایز حساب ........ ۳۶

۳.۱.۴ مالي حساب ........ ۳۶

۲.۴ د توکو سوداګري ........ ۳۷

۳.۴ د سوداګرۍ لوری ........ ۳۹

۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب ........ ۴۱

۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب ۴۱
۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب ۴۲
۵.۴ بهرنی پوراینې ۴۳
۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې ۴۴
**۵. د مالي سکتور بدلونونه ۵۱**
۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ ۵۲
۲.۵ اصلي بودجه (کسر او ډېریدنه) ۵۲
۳.۵ ټولیزه عواید ۵۳
۱.۳.۵ کورني عواید ۵۳
۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید ۵۴
۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۵۵
۵.۵ لګښتونه ۵۵
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی ۵۹**
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۶۰
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۶۱
۲.۱.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۱
۳.۱.۶ پانګونې ۶۶
۴.۱.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۶
**۲.۶ پوراینې ۶۶**
۱.۲.۶ امانتونه ۶۷
۲.۲.۶ پور اخیستنې ۶۸
**۳.۶ نقدینه ګی (سیالیت) ۶۸**
۱.۳.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه) ۶۹
**۴.۶ پانګه ۶۹**
**۵.۶ ګټورتیا (نافعیت) ۶۹**
**۶.۶ د اسعارو د مبادلې خطر ۷۰**
**۷.۶ د ټکتاني د نرخ خطر ۷۱**
**۸.۶ د اسلامي بانکوالی د سکتور کړنې ۷۱**
۱.۸.۶ د اسلامي بانکوالی د سکتور شتمنی ۷۲
۲.۸.۶ پوراینې ۷۵
۳.۸.۶ نقدینه ګي (سیالیت) ۷۶
۴.۸.۶ پانګه ۷۶
۵.۸.۶ ګټورتیا ۷۶

**د ګرافونو لست**


۱.۱ ګراف: د نړۍ اقتصادي وده، پرمختللي اقتصادونه او د پرمختګ او غوړېدو په حال کې هېوادونه...................................۵

۲.۱ ګراف: د تیرې ربعې په ناخالصو کورنیو تولیداتو کې د امریکا د متحدو ایالتونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې د بدلونونو سلنه.....۶

۳.۱ ګراف: د امریکې د متحدو ایالتونو د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ...........................................۶

۴.۱ ګراف: د کورني ناخالصه تولیداتو د بدلونونو سلنه ( ربعه په ربعه)...........................................................۶

۵.۱ ګراف: د ټولو توکو په ګډون د بریتانیې د لګښتي توکو د بیو شاخص.......................................................۷

۶.۱ ګراف: د جرمني د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه...........................۷

۷.۱ ګراف: د جاپان د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه...........................۸

۸.۱ ګراف: د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه.............................۹

۹.۱ ګراف: د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه............................۹

۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې په ګردښت کې پیسې.................................................۱۴

۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې پولي زیرمې...........................................................۱۴

۳.۲ ګراف: خالصې بهرنۍ شتمنۍ، خالصې کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)................................۱۵

۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (سلنه)....................................۱۵

۵.۲ ګراف: د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي کچه او هدف....................................۱۷

۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ......۱۷

۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د انګلیسي پاونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ.........۱۷

۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ۱۸

۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ایراني تومانو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ........۱۸

۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ.................۱۸

۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه.............................۱۹

۱۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ.........۱۹

۱۳.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ.........۲۰

۱۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ.........۲۰

۱۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ.......۲۰

۱.۳ ګراف: په ربعواره توګه منځنۍ ملي عمومي انفلاسیون...........................................................................۲۷

۲.۳ ګراف: په ربعواره ډول د اوسط موندلو میتود..........................................................................................۲۷

۳.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسیون ( کال په کال)...........................................................................................۲۷

۴.۳ ګراف: د کابل د درې میاشتني انفلاسیون اوسط........................................................................................۳۰

۵.۳ ګراف: د کابل درې میاشتنی د اوسط موندلو میتود (30 % Trimmed Mean)...........................................۳۰

۶.۳ ګراف: د کابل د کلني عمومي انفلاسیون نرخ...........................................................................................۳۰

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو)........................................................................۳۶

۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه (په میلیون امریکایي ډالر).....................................................................۳۷

۳.۴ ګراف: د بهرنیو مستقیمو پانګونو داخلي جریانونه (په میلیون امریکایي ډالر)..............................................۳۷

۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او بیلانس........................................................................................................۳۸

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه.........................................................۴۰

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه........................................................۴۰
۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه.........................................................۴۰
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه ........................................................۴۱
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه .....................................................۴۲
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه ....................................................۴۲
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه....................................................۴۳
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه ...................................................۴۳
۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتلنې، ۱۳۹۷ مالي کال د لومړۍ ربعې پای او ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې پای..................۴۴
۱۴.۴ ګراف: د تیرې مودې په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې ( په میلیون امریکایي ډالره) ...............................۴۴
۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو، بودجې او بسپنو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه .....۵۱
۲.۵ ګراف: د ټولیزې بودجې پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه ..............................۵۲
۳.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې او د پرمختیایي بودجې د اجراء د نرخونو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه.۵۲
۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېربېدنه، ( د بسپنو په ګډون او نه ګډون)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه.۵۳
۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه...........................۵۳
۶.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه.............................................................۵۳
۷.۵ ګراف: د ټولیزه کورنیو عوایدو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه ـ ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه .....................۵۴
۸.۵ ګراف: ستر کورني عوای، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه ..............................................................۵۴
۹.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو د لومړیو ربعو د غیر مالیاتي عوایدو د مهمو برخو پرتلنه..............................۵۴
۱۰.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې اجزاوې، ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه.......................................................۵۵
۱۱.۵ ګراف: د بسپنو ورکوونکو ټولیزه کلنی شننه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه..............۵۵
۱۲.۵ ګراف: د بسنه ورکوونکو د ونډې پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه .................۵۵
۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه .......................۵۶
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه.........................................................۶۰
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکي ډلو ونډه.........................................۶۱
۳.۶ ګراف: د پور د پورتوفولیو کیفیت .................................................................................۶۵
۴.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د طلباتو ونډه............................................................................۶۶
۵.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د پوراینو ونډه ........................................................................۶۷
۶.۶ ګراف: په افغانیو ایښودل شوي امانتونه.............................................................................۶۷
۷.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب.......................................................................................۶۸
۸.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ امانتونه ...................................................................................۶۸
۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي..............................................................................................۶۸
۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت).............................................................................۷۰
۱۱.۶ ګراف: له پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROA) او له شتمنی ترلاسه شوې ګټه(ROE) ....................................۷۰

۱۲.۶ ګراف: نهايي خالصه ټکټانه.......... ۷۰
۱۳.۶ ګراف: د محصول پر بنسټ پانګه اچونه او د اسلامي بانکوالۍ د سکتور مالي تمويل: د ۲۰۱۸ ډيسمبر او د ۲۰۱۹ مارچ ترمنځ پرتلنه.......... ۷۴
۱۴.۶ ګراف: د ۲۰۱۹ کال د مارچ په میاشت کې د محصول پر بنسټ پانګونه او مالي تمويل.......... ۷۴
۱۵.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلبات.......... ۷۴
۱۶.۶ ګراف: د ۲۰۱۹ کال د مارچ د میاشتې پر بنسټ د امانتونو تفکيک.......... ۷۵
۱۷.۶ ګراف: د شريعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ګټه.......... ۷۷

**د جدولونو لست**


۱.۲ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې د نقدینه ګۍ حجم (۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه).....۱۶
۱.۳ جدول: ملي عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸ – ۲۰۱۹.....۲۷
۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸ – ۲۰۱۹.....۳۱
۱.۴ جدول: د افغانستان د ادائینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر).....۴۵
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر).....۴۶
۳.۴ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالر).....۴۶
۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه (په میلیون امریکایي ډالرو).....۴۶
۵.۴ جدول: بهرنۍ پورایني، ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه.....۴۷
۶.۴ جدول: خالصې نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر).....۴۷
۱.۶ جدول: د بانکونو شتمنۍ.....۶۱
۲.۶ جدول: د سکتور پر بنسټ د سوداګریزو بانکونو پورونه.....۶۳
۳.۶ جدول: د پام وړ توکو مبلغ په میلیونه افغانۍ.....۶۴
۴.۶ جدول: د نقدینه ګۍ نسبتونه.....۶۸
۵.۶ جدول: د ګټې/ زیان جدول.....۶۹
۶.۶ جدول: د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه شتمنۍ او پورایني.....۷۲
۷.۶ جدول: د محصول پر بنسټ په اسلامي بانکدارۍ کې پانګونه او مالي تمویل.....۷۳
۸.۶ جدول: د ۲۰۱۹ کال د مارچ د میاشتې په اوړدو کې د اسلامي بانکوالۍ د ټینګښت مهم شاخصونه.....۷۶
۹.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د ګټې او زیان جدول.....۷۷
۱۰.۶ جدول: د شریعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ګټه.....۷۷



## د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال پیغام

″د ټولنې د ډېرو زیانمن کېدونکو وګړو ملاتړ، د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه ده. دا چاره د سالم او اغېزناکه پولي سیاست د تطبیق له لارې ترسره کېږي، هغه سیاست چې د بانک پر لومړني هدف (د بیو پر ثبات) تمرکز کوي.″

**عمومي کتنه**

د افغانستان بانک د کورنیو بیو د ټیکاو په موخه د پولي زیرمو د تشخیصونکي په توګه د پیسو له مقداري تیوری څخه ګټه پورته کوي. د کورنیو بیو ټیکاو د افغانستان بانک بنسټیزه موخه ګڼل کیږي، حال دا چې پولي زیرمې د بانک عمده عملیاتي هدف او د نقدینه ګی په موخه په ګردښت کې پیسې د بانک ضمني هدف جوړوي.

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو (M1) وده ۶ سلنې یا ۴۳۱،۷۰۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) وده ۵.۴ سلنه ده چې ۴۶۴،۹۷۳.۳۳ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د نوسانونو د راکمولو او په بازار کې د اضافي نقدینه ګۍ د کنټرول په موخه د ازاد بازار د عملیاتو له لارې د اسعارو او پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي چې په همدې موخه یې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې تر پایه پورې ۵۴۱.۹۴ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي. په ورته وخت کې، په یاده موده کې د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۲۶.۶۷ میلیارده افغانۍ ښودل شوې ده.

د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ د کابل په کال شمیرو پر بنسټ په ارزونې لاندې ربعه کې په منځنۍ ډول ۰.۸ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱.۹ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې د ربعې په ربعې شمیرو پر بنسټ دا وده ۰.۸ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۰.۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د کابل د عمومي انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۰.۹ سلنې ته رسیږي، حال دا چې دا کچه د تیر کال په ورته ربعه کې ۳.۲ سلنه وه.

د اقتصاد په بهرني سکتور کې د اداینو بیلانس د ارزونې لاندې ربعه کې ۱،۰۹۱.۸۳ میلیونه امریکایي ډالره کسر لري. په ورته وخت کې د جاري حساب کسر ۱،۲۲۶.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د پانګې حساب ۳۹.۴۲ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی تجربه کړی دی. په مالي حساب کې خالصه بهرنۍ مستقیمه پانګونه د ارزونې لاندې ربعه کې ۱۷.۵۸ میلیونه ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د خالصې پانګونې پورتوفولیو ۱۹.۹۶ میلیونه امریکایي ډالره خارجي بهیدنه درلودلې ده.

په مالي سکتور کې د دولت بودجې (له بسپنو پرته) د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸.۹۳ میلیارده افغانۍ کسر تجربه کړی دی، حال دا چې ( د بسپنو په ګډون) د دولت بودجې ۵.۸۲ میلیارده افغانۍ زیاتوالی مونډلی دی. همدا ډول کورني عواید ۴۲.۸۸ میلیارده افغانۍ او ترسره شوي لګښتونه ۵۱.۸۱ میلیارده افغانۍ دي. په ورته وخت کې، د تولیزې ځانګړې شوې بودجې (۴۰۴.۵۷ میلیارده افغانۍ) څخه یې ۱۴ سلنه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې لګول شوې ده.

په بانکي نظام کې د مالي وضعیت د ښه والي د شاخصونو پر بنسټ په شتمنیو، امانتونو، د ونډې په پانګونه او ګټه کې کموالی راغلی دی، حال دا چې د پورونو کیفیت نور هم راټیټ شوی دی. همدا ډول نقدینه ګي په کافي حد کې پاتې ده، خو په ناخالصو پورونو کې زیاتوالی راغلی دی. د دې ترڅنګ، امانتونه د تل په څیر د بانکي نظام بنسټیزه تمویلي سرچینه ګڼل کیږي. اسلامي بانکداري یو بانک او شپږ برخې رانغاړي چې د ټولیزه بانکي نظام د شتمنیو ۴.۹۵ سلنه، د ناخالصو پورونو ۲.۲۱ سلنه او د امانتونو ۴.۹۹ سلنه جوړوي.

# ۱

# وضعیت اقتصادی ایران

## نړیوال اقتصادي وضعیت


د پیسو د نړیوال صندوق او د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ، نړیواله اقتصادي وده په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې راکمه شوې ده چې د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه، کمزورې پانګونې، سخت مالي شرایط، د پالیسۍ زیاته ناډاډمنتیا او په یو شمېر هېوادونو کې د دولتي پورونو زیاتوالی یې ستر لاملونه ګڼل کیږي. د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې په یو شمیر پرمختللو هېوادونو، په ځانګړې توګه په اروپا کې اقتصادي کړنې ورو ښودل شوې دي.

سربېره پر دې، د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د اروپا اقتصادي وده ټیټه ښودل شوې چې بنسټیز لاملونه یې د پانګونې او سوداګریزې ودې کموالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې، د امریکې متحده ایالاتو او جاپان د ناخالصو کورنیو تولیداتو (GDP) وده په ترتیب سره ۳.۱ سلنې او ۰.۶ سلنې ته رسیږي چې د دولتي لګښتونو زیاتوالی یې بنسټیز لامل ګڼل کیږي. د دولتي لګښتونو زیاتوالي د دواړو هېوادونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو په وده کې ونډه درلودلې ده، حال دا چې د جاپان په وارداتو کې هم د پام وړ کموالی راغلی دی.

له بلې خوا، د پرمختګ په حال او په غوړېدونکو هېوادونو (EMDEs) کې اقتصادي وده له ټاکلې کچې څخه ټیټه ښودل شوې ده. په یادو هېوادونو کې د خدمتونو د سکتور وده ثابته ښودل شوې، حال دا چې له اقتصادي بندیزونو سره د مخ هېوادونو په صادراتو کې کموالی راغلی دی. د دې ترڅنګ، ترکیه او وینزویلا هم له اقتصادي کړکیچونو سره مخ دي. په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې د ترکیې اقتصادي وده راټیټه شوې چې په پایله کې دا هېواد د لیرې د ارزښت د راټیټېدو ترڅنګ له اقتصادي رکود (د کال په کال شمېرو پر بنسټ ۲.۶ سلنه انقباض) سره مخ ښودل شوی دی. د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده له ټاکلي حد څخه لوړه شوې ده چې خصوصي لګښت یې ستر لامل ګڼل کیږي.

۱.۱ ګراف د پرمختللو هېوادونو، د پرمختګ او غوړېدو په حال کې هېوادونو او د نړیوال اقتصاد ترمنځ پرتله وړاندې کوي.

۱.۱ ګراف: د نړۍ اقتصادي وده، پرمختللي هېوادونه او پرمختګ او غوړېدو په حال کې هېوادونه




سرچینه: نړیوال بانک


### ۱.۱ پرمختللي اقتصادونه

#### ۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد

د امریکا د متحدو ایالتونو د اقتصادي شنني اداري د اټکلونو له مخې د دې هېواد حقیقي ناخالصه کورني تولیدات د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۳.۱ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د څلورمې ربعې د ۲.۲ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. که څه هم د نامېشته ثابتې پانګونې او د خصوصي موجودۍ پانګونې د ټیټېدونکي بهیر په درلودلو سره د دې ادارې د لومړني سنجش له مخې د حقیقي ناخالصو کورنیو تولیداتو وده ۳.۲ سلنه اټکل شوې ده، حال دا چې دا وده د ناخالصو کورنیو تولیداتو او د صادراتو او خصوصي لګښت د لوړېدونکي بهیر په درلودلو سره د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۳.۱ سلنه اټکل شوې ده. د روان کال په لومړۍ ربعه کې حقیقي ناخالصه


کورني عواید (GDI) ۱.۴ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۰.۵ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د اوسني تولید عواید او کورني غیر مالي عواید په ترتیب سره ۶۵.۴ میلیارده او ۱۳.۶ میلیارده امریکایي ډالره راکم شوي دي، حال دا چې د کورني غیر مالي شرکت عوایدو ۷.۴ میلیارده امریکایي ډالره زیاتوالی موندلی دی.

**۲.۱ ګراف: د تیرې ربعې په ناخالصو کورنیو تولیداتو کې د امریکا د متحدو ایالتونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې د بدلونونو سلنه**




**سرچینه:** د امریکا متحده ایالاتو د اقتصادي شنني او څېړنې اداره

**۳.۱ ګراف: د امریکې د متحدو ایالتونو د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ**





سرچینه: د امریکا متحده ایالاتو د کار د احصائیې اداره

په دې موده کې د حقیقي ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې د زیاتوالي اصلي لاملونه د ایالتي او ځایي دولت د لګښتونو زیاتوالی، د خصوصي موجودۍ د پانګونې او د صادراتو زیاتوالی او د مېشته خلکو په پانګونه کې تر یوې کچې کموالی په ګوته شوی دی. له بله پلوه، د حقیقي ناخالصه کورنیو تولیداتو وده په خصوصي لګښتونو، نامېشته ثابتې پانګونې او د فدرالي دولت په لګښتونو کې د کموالي له امله یو څه راکمه شوې ده. سربېره پر دې، د دې هېواد واردات هم په دې ربعه کې راکم شوي دي. د امریکې متحدو ایالتونو د کار د احصائیې ادارې له مخې د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ راټیټ شوی دی چې په اپریل میاشت کې ۱.۵ سلنه او په مارچ میاشت کې ۱.۹ سلنې ته رسیږي.

### ۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد

د بریتانیې ناخالصه کورني تولیدات د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۵ سلنې ته رسیږي. همدا ډول د دې هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو کلنۍ وده ۱.۸ سلنه اټکل شوې ده چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۴ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د دې هېواد تولیدات د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۱.۴ سلنې ته رسیږي، حال دا چې په تیره ربعه کې د دې هېواد تولیداتو کچه کمه ښودل شوې وه چې د زیاتوالي بنسټیز لامل یې د فابریکو د تولید ۲.۲ سلنه زیاتوالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې د خدمتونو په سکتور کې ۰.۳ سلنه کموالی راغلی دی، حال دا چې د کرنې، ځنګلونو او کب نیونې د سکتور په وده کې ۱.۸ سلنه ټیټوالی راغلی دی چې د ودې د ټیټوالي اصلي لامل ګڼل کیږي.


**۴.۱ ګراف: د کورنیو ناخالصو تولیداتو کې د بدلونونو سلنه (د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ)**




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

سربېره پر دې، د ارزونې لاندې موده کې د اوږدو کې د ناخالصو کورنیو تولیداتو په وده کې خصوصي او دولتي لګښتونه او د ناخالصې پانګې جوړښت بنسټیزه ونډه درلودلې ده، حال دا چې خالصه سوداګرۍ په یاده موده کې د ودې د کمیدو لامل شوې ده. همدا ډول کورني لګښتونه د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړیو دریو میاشتو کې ۰.۷ سلنه زیات شوي دي. د حقیقي ناخالصو کورنیو تولیداتو سوداګریز کسر ۳.۴ سلنه ته رسیږي چې په تیرو ۵۰ کلونو کې تر ټولو زیات کسر ګڼل کیږي چې بنسټیز لامل یې د نامعلومو توکو زیات واردات چې غیر پولي سره زر رانغاړي، په ګوته شوی دی. دولتي لګښتونه په دې موده کې ۱.۴ سلنه ته رسیږي چې په روغتیایي برخه کې ۰.۷ سلنه او په عمومي دولتي خدمتونو او اقتصادي چارو کې ۹.۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، په دې موده کې سوداګریزه پانګونه ۰.۵ سلنه زیاته شوې چې د معلوماتي ټکنالوژۍ په تجهیزاتو، ماشین آلاتو او نورو تجهیزاتو کې زیاته پانګونه یې ستر لاملونه ګڼل کیږي. په ورته وخت کې د بریکسټ (Brexit) اړوند سیاسي نا ډاډمنتیا هم پر پانګونه باندې منفي اغیزه کړې ده.

**۵.۱ ګراف: د ټولو توکو په ګډون، د بریتانیې د لګښتي توکو د بیو شاخص**





سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

### ۳.۱.۱ د جرمنی اقتصاد

د جرمني ناخالصو کورنیو تولیداتو د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې له انقباض او د همدې کال په وروستۍ ربعه کې له ثابت پاتې کیدو وروسته د ربعې په ربعې د شمېرو پر بنسټ د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۴ سلنه وده کړې چې د ټاکل شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي چې د تیرو پنځو کلونو په پرتله تر ټولو ټیټه وده ګڼل کیږي. د دې هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې د زیاتوالي اصلي لامل د رغونې او تجهیزاتو په برخه کې د پانګونې او د خصوصي لګښتونو په ګډون کورني عوامل په ګوته شوي دي. په ورته وخت کې کورني لګښتونه د مالیاتو د وضع کولو او ټولنیزو ګټو له امله زیات شوي دي.

**۶.۱ ګراف: د جرمني د کورنیو ناخالصو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه -۲۰۱۹ لومړۍ ربعه**




سرچینه: د اقتصادي همکاریو او پراختیا سازمان (OECD)

د جرمني د احصائیې د فدرالي اداري (Destatis) د راپور پر بنسټ د کار او خدمتونو د سکتور عواید د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د کلني او موسم پر بنسټ د عیار شوي ډول له مخې ۳.۵ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د خدمتونو په ټاکل شویو نماینده ګیو کې د موسم پر بنسټ د ګمارل شویو اشخاصو شمېر د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۱.۸ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۴ سلنې په پرتله یې تر ټولو ډېر زیاتوالی


ثبت کړی دی.

سربېره پر دې، واردات او صادرات په یاده موده کې زیات شوي دي. صادرات د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د ۳۷۷ میلیارده یورو ته رسېږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۳۳۶ میلیارده یورو په پرتله ۲.۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول واردات د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ۲۸۱ میلیارده یورو ته رسېږي چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۴.۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. عامه پوراینې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د لومړۍ ربعې په پرتله ۲۲ میلیارده یورو یا ۱.۱ سلنه کموالی او د تیرې ربعې په پرتله ۱۳.۱ میلیارده یورو یا ۰.۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد**

د توکیو د کابینې د دفتر د شمېرو پر بنسټ د جاپان اقتصادي وده د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د کال په کال شمېرو له مخې ۲.۱ سلنه او د ربعې په ربعې شمېرو له مخې ۰.۶ سلنه زیاته شوې ده چې له تاکلې کچې څخه زیاته ده. د دې هېواد د اقتصادي ودې د زیاتوالي اصلي لاملونه د صادراتو او وارداتو په کچه کې کموالی، د پانګې د لګښتونو کموالی او د توکو مصرفوونکو کمه لیوالتیا ګڼل کیږي. د جاپان اقتصادي وده د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په درېیمه ربعه کې ۰.۶ سلنه راکمه شوه خو په څلورمه ربعه کې یې ۰.۳ سلنه زیاتوالی وموند. د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د دې هېواد د اقتصادي ودې د زیاتیدو اصلي لاملونه په عامه پانګونه کې ۶.۲ سلنه زیاتوالی، په وارداتو کې ۴.۶ سلنه کموالی او په صادراتو کې ۲.۴ سلنه کموالی په ګوته شوي دي. دا هېواد په پام کې لري چې د خرڅلاو مالیه له ۸ سلنې څخه ۱۰ سلنې ته لوړه کړي چې د ۲۰۱۸ کال له اکتوبر راهیسې دا چاره دوه ځلې له ځنډ سره مخ شوې ده.

**۷.۱ ګراف: د جاپان د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه**





سرچینه: د جاپان دولت د کابینې دفتر

**۲.۱ د غوړېدو په حال کې هېوادونه**

**۱.۲.۱ د چین اقتصاد**

د چین د احصائیې د ملي اداري د احصائیې له مخې د دې هېواد اقتصادي وده د کال په کال شمیرو پر بنسټ د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې د ۶.۴ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره تقریباً ۳.۱۸ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ټاکل شوې کچې په پرتله زیاتوالی او د تیر کال د څلورمې ربعې سره ورته والی ښکاره کوي. د صنعت او کرنې د سکتورونو وده په ترتیب سره ۶.۱ سلنه او ۲.۷ سلنه او د دریمي سکتور وده ۷ سلنه زیاته شوې ده. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې د چین د اقتصادي ودې د زیاتوالي اصلي لامل د تیرو ربعو په څېر خصوصي لګښتونه په ګوته شوي دي. سربېره پر دې، د صنعتي تولید، د ملکیت پانګونې، د لګښت وړ کورنیو عوایدو او پرچون پلورنې په وده کې هم زیاتوالی راغلی دی.

**۸.۱ ګراف: د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه**




سرچینه: د چین د احصائيې ملي اداره


د چین د دولت د اټکل له مخې به په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې کلنۍ وده له ۶ سلنې څخه تر ۶.۵ سلنې پورې وي چې د تیر زېږدیز کال د ۶.۶ سلنې کلنۍ ودې په پرتله چې په تیرو دریو لسیزو کې تر ټولو ټيټه کچه ښودل شوې ده، ټيټوالی ښکاره کوي . اقتصادي وده د دې هېواد د دولت له لورې د خطر لرونکو پورونو د بندولو له هڅو وروسته یو څه ټکنۍ شوې ده چې پر بنسټ یې مالي وجوهو ته د ډېرو کمپنیو لاسرسی محدود شوی دی. د دې ترڅنګ، د امریکې متحده ایالتونو له چین سره د سوداګریزې جګړې په ترڅ کې د چین په سوداګریزو توکو د ۲۵۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت نوې تعرفې وضع کړې چې د دې هېواد پر اقتصادي وده یې اغیزه کړې ده.

د چین دولت په سوونو میلیارده ډالره بازار ته وراندې کړې دي څو په اقتصادي وده کې ښه والی راولي. دا پیسې د مالیاتو وضع کول، پر سوداګرۍ او بیخبنسټونو لګښتونه او د پیسو پراخه عرضه او اسانه لاسرسی رانغاړي څو اقتصادي وده دوامداره او با ثباته وساتي. همدا ډول، د چین د مالیې وزارت، ۵.۶ تریلیونو ینو ته د لګښتونو د زیاتولو له امله مالي ملاتړ نور هم چټک کړی دی چې د دولتي بودجې د عمومي مرکزي لګښتونو او ځايي لګښتونو لپاره په ترتیب سره ۵.۸۶ تریلیونه ینه او ۰.۶۹ تریلیونه ینه هم شامل دي. د مالي لګښتونو د ودې نرخ د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې شاوخوا ۱۵ سلنه او یا ۰.۰۴ سلنه دی چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

### ۲.۲.۱ د ترکیې اقتصاد

د ترکیې د احصائيوي انستیټيوټ د خپرو شویو معلوماتو له مخې، د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د ترکیې اقتصادي وده د کال په کال شمېرو پر بنسټ له جنوري څخه د مارچ تر میاشتې پورې ۲.۶ سلنې ته رسیږي. همدا ډول، د دې هېواد ناخالصه کورني تولیدات د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې ۱۷۰.۴ میلیارده ډالرو ته رسیږي. د ترکیې اقتصادي وده د ۲۰۱۸ زېږدیز کال په څلورمه ربعه کې له ۳ سلنې څخه ۲.۶ سلنې ته د کلنۍ ودې د راټیټیدو له امله راکمه شوې ده، حال دا چې په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې ناخالصو کورنیو تولیداتو ۷.۴ سلنه وده کړې وه. ناخالصه کورني تولیدات د ارزونې لاندې ربعې پر مهال د تیرې ربعې د موسم او کلیزې پر بنسټ عیار شویو شمیرو له مخې ۱.۳ سلنه لوړ شوي دي.

**۹.۱ ګراف: د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د بدلون سلنه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه-۲۰۱۹ لومړۍ ربعه**




سرچینه: د ترکیې احصائيوي انستیټيوټ

د دې هېواد کورنۍ تقاضا او پانګونه د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې په چټکۍ سره کمه شوې او صنعتي تولیداتو ۵.۷ سلنه ټیټوالی موندلی دی، حال دا چې د خالصو صادراتو په وده کې یې ستره ونډه درلودلې ده. همدا ډول، د دې هېواد صادرات په کلني توګه په همدې موده کې ۹.۵ سلنه زیات شوي دي، حال دا چې وارداتو یې ۲۸.۸ سلنه ټیټوالی موندلی دی. په ورته وخت کې، کورني نهايي لګښتونه ۴.۷ سلنه کم، دولتي لګښتونه ۷.۲ سلنه زیات شوي دي او د نا خالصې پانګې په جوړښت کې هم ۱۳ سلنه کموالی راغلی دی. سربېره پر دې، د کرنې سکتور وده ۲ سلنه زیاته شوې ده، حال دا چې صنعتي تولید وده ۴.۳ سلنه، د رغونې سکتور وده ۱۰.۹ سلنه او د خدمتونو سکتور وده ۴ سلنه راکمه شوې ده. د ترکیې د دولت لخوا د نوي اقتصادي پروګرام پر بنسټ اټکل کیږي چې اقتصادي وده به په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې ۲.۳ سلنه، په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۳.۵ سلنه او په ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې ۵ سلنه زیاتوالی ومومي.

# ۲

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

## ۲

## د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پولي سکتور د احصائيې له مخې پولي زيرمو د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۰.۸۹ سلنه منفي وده ثبت کړې ده چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ورته ربعې د ۰.۰۱ سلنې منفي ودې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. په ګردښت کې پيسې چې د پولي زيرمې يوه مهمه برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې له پيل څخه تر پايه پورې ۲.۶۵ سلنه منفي وده ثبت کړې ده.

تر ارزونې لاندې ربعه کې د پولي زيرمو او په ګردښت کې د پيسو وده چې د افغانستان بانک عملياتي او ضمني هدفونه جوړوي، له ټاکل شوي هدفونو څخه ډېره ټيټه پاتې شوې ده چې له بازار او بانکونو څخه د اضافه نقدينګۍ راغونډول يې ستر لامل په ګوته شوی دی.

د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۳۱،۷۰۷ ميليونه افغانۍ ته رسېږي چې ۶ سلنه وده ښکاره کوي. د پراخه مفهوم په توګه پيسې (M2) هم ورته بهير درلودلی دی چې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې يې کچه ۴۶۴،۹۷۳.۳۳ ميليونه افغانيو ته رسېږي او ۵.۴۰ سلنه وده ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې د نرخ له حده زيات ځپ ځپانده کېدو (نوسانونو) د راکمولو او په بازار کې د نقدينګۍ د مديريت کولو لپاره د ازاد بازار تر عملياتو لاندې د اسعارو او پانګه ايزو پاڼو له ليلام څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې له پيله راهيسې تر پايه پورې په ټوليزه توګه ۵۴۱.۹۴ ميليونه امريکايي ډالر ليلام کړي دي څو په بازار کې له حده زيات سياليت د مديريت ترڅنګ د اسعارو پر وړاندې د افغانيو چټک نوسانونه راکم کړي. د پانګه ايزو پاڼو ټوليزه ناترلاسه شوې کچه د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۲۶.۶۶۵ ميليارده افغانيو ته رسېږي. په ورته وخت کې، د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۰.۶۶ سلنه راکم شوی دی.

### ۱.۲ پولي پروګرام


د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې پولي زيرمې د افغانستان بانک د پولي سياست د يو مهم عملياتي هدف (د کړنې د معيار) په توګه او په ګردښت کې پيسې د ضمني هدف په توګه پېژندل شوي دي.

د پولي زيرمو (RM) کره مبلغ چې د کورنيو بيو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنيو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پيسو د مقداري تيورۍ په کارولو سره ټاکل کېږي. له همدې کبله، د پولي زيرمو او په ګردښت کې د پيسو لپاره ټاکل شوي هدفونه د اړوندې مودې په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسيون د تمو پر بنسټ ټاکل کېږي. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پولي زيرمې او په ګردښت کې د پيسو وده ۱۲ سلنه ټاکل شوې ده. د يادولو وړ ده چې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د پولي زيرمو حقيقي وده منفي ۰.۸۹ سلنه او په ګردښت کې د پيسو حقيقي وده منفي ۲.۶۵ سلنه وه چې له ټاکل شوي هدف څخه ډېره ښکته ده. د افغانستان بانک په بازار کې د اضافي نقدينګۍ د مديريت کولو او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې د نرخ له حده زيات ځپ ځپاندتيا


(نوسانونو) د راکمولو لپاره د ازاد بازار د عملیاتو لـه لارې ۵۴۱.۹۴ میلیونه امریکايي ډالره لیلام کړې.

۱.۲ او ۲.۲ ګراف د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې لوړه کچه او حقیقي پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې ښکـاره کوي.

**۱.۲ ګراف: : د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې په ګردښت کې پیسې**




**۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدې کې پولي زیرمې**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۲ د نقدینه ګۍ حجم


د محدوده مفهوم په توګه پیسې او د پراخه مفهوم په توګه پیسې د پولي او مالي احصائیو د لارښود او د معلوماتـو د راټولونې د لارښوونې پر بنسټ راټولیږي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د امانت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار او جاري امانتونه رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) په ترکیب کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو اجزاوې او داسې نـورې لږې سیالې شتمنی یا پیسه وزمه شاملې دي.

د ۲.۳ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په تـوګه پیسې (M1) د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۶ سلنه زیاتوالی کړی دی چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ورتـه مودې په پرتله یو څه لوړوالی ښـکاره کـوي. د امانـت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار یا په ګـردښـت کـې پیسې چې د محدوده مفهوم په تـوګـه پیـسو ۴۶ سـلـنـه جوړوي، ۳.۷۸ سلنه وده موندلې چې د تېر کالـ د ورتـه مودې د ۱.۵ سلنې ثبت شوې ودې پـه پـرتلـه زیـاتـوالـی موندلی چې ۷،۷۷۰ میلیونه افغانۍ تـوپـیـر ښـکـاره کـوي. جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو نورې برخې جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې پـه پـای کې ۸.۵۶ سلنه وده تجربه کړې ده، حال دا چې تېر کال په ورته موده کې یې ۰.۶ سلنـه وده درلـوده چې ۱۷،۲۱۲ میلیونه افغانۍ توپیر ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) کـچـه د ارزونـې لاندې ربعه کې ۴۶۴،۹۷۳.۳۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۴۱،۱۶۱.۸۸۳ میلیونه افغانۍ په پرتله ۵.۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي، خو د تیر کال د ورته مودې د ۱.۱ سلنې ودې په پرتله یې زیاتوالی مـونـدلـی دی. د پـراخـه مفهوم په توګه د پیسو زیاته وده بازار ته د پیسو په عـرضـه کولو پورې تړاو لري. دا شمېرې ښـکـاره کـوي چـې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د پراخه مفـهـوم پـه توګه پیسې (M2) تر ټولو ستره برخه ۹۲.۸۵ سلنه جوړوي.

**۳.۲ ګراف: خالصې بهرنۍ شتمنۍ، خالصې کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

پیسه وزمه (Quasi Money) یا نور امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو(M2) بله برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې منفي ۳.۴۰ سلنه وده لرلې ده. پیسه وزمه د ارزونې لاندې مودې په پای کې د پراخه مفهوم په توګه پیسو ۷.۱۵ سلنه جوړوي چې د تیر مالي کال د لومړۍ ربعې د ۷.۸۱ سلنه ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. له همدې امله، د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه د بدلون اغېزه ډېره کمه ده. په افغانۍ موده ایزه امانتونو کې کال په کال بدلون ۹،۴۳۸ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۲۳.۷۷ سلنه منفي وده ښکاره کوي، حال دا چې د اسعاري موده ایزه امانتونو وده د کال په کال شمیرو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۲۳،۸۲۸ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۷.۲۵ سلنه وده ښکاره کوي.

د افغانۍ موده ایزه امانتونه او اسعاري موده ایزه امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو په ترتیب سره ۲.۰۳ سلنه او ۵.۱۲ سلنه جوړوي.

همدا ډول د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) د ونډې په توګه جاري امانتونه د ارزونې لاندې کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۴۶.۹۵ سلنې ته رسیږي (د زیاتو معلوماتو لپاره د ۴.۲ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) د ونډې په توګه پیسه وزمه (سلنه)**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**١.٢ جدول: د ١٣٩٨ مالي کال د لومړۍ ربعې د نقدینه ګۍ حجم ( د٢٠١٨ لومړۍ ربعه– ٢٠١٩ لومړۍ ربعه)**

| | د ٢٠١٧ مارچ لومړۍ ربعه | د ٢٠١٨ مارچ لومړۍ ربعه | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر | د ٢٠١٩ مارچ لومړۍ ربعه | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مبلغ | مبلغ | | | مبلغ | | |
| **١– نګه (خالصه) بهرنۍ شتمنۍ** | ٥٩٩٬١٧٣ | ٦٥٤٬٤٦٥ | ٩.٢٪ | ٥٥٬٢٩٢ | ٧٣٨٬٩٤٣ | ١٢.٩١٪ | ٨٤٬٤٧٩ |
| (الف) بهرنۍ شتمنۍ | ٦١١٬٠٩٤ | ٦٧٠٬٤٥٣ | ٩.٧٪ | ٥٩٬٣٥٩ | ٧٥٠٬٥٤٤ | ١١.٩٥٪ | ٨٠٬٠٩٠ |
| د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو زیرمې | ٤٩٨٬٤١٤ | ٥٦١٬٥٢٦ | ١٢.٧٪ | ٦٣٬١١٢ | ٦٢٢٬٨٨٣ | ١٠.٩٣٪ | ٦١٬٣٥٨ |
| سره زر | ٥٨٬٨٠٣ | ٦٣٬٧٥٧ | ٨.٤٪ | ٤٬٩٥٣ | ٦٩٬١٦٤ | ٨.٤٨٪ | ٥٬٤٠٧ |
| نور | ٤٣٩٬٦١١ | ٤٩٧٬٧٦٩ | ١٣.٢٪ | ٥٨٬١٥٩ | ٥٥٣٬٧٢٠ | ١١.٢٤٪ | ٥٥٬٩٥١ |
| نورې بهرنۍ شتمنۍ | ١١٢٬٦٨٠ | ١٠٨٬٩٢٨ | -٣.٣٪ | - ٣٬٧٥٢ | ١٢٧٬٦٦٠ | ١٧.٢٠٪ | ١٨٬٧٣٣ |
| (ب) بهرنۍ پوراینې | ١١٬٩٢١ | ١٥٬٩٨٨ | ٣٤.١٪ | ٤٬٠٦٧ | ١١٬٦٠٠ | -٢٧.٤٥٪ | - ٤٬٣٨٨ |
| **٢. خالصه کورني شتمني** | -١٥٩٬٨٨٥.٣٢ | - ٢١٠٬٥٩١.٩٢ | ٣١.٧٪ | - ٥٠٬٧٠٧ | -٢٧١٬٤٢٤.٥٩ | ٢٨.٨٩٪ | - ٦٠٬٨٣٣ |
| (الف) نګه (خالص) کورنی کریډټ | - ٤٢٬١٦٥ | - ٧٦٬٣٧١ | ٨١.١٪ | - ٣٤٬٢٠٦ | -٩٦٬٨٢١ | ٢٦.٧٨٪ | - ٢٠٬٤٥٠ |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره نګه (خالص) کریډټ | -٨٨٬٠٨٠ | - ١٢٠٬٠٦٩ | ٣٦.٣٪ | -٣١٬٩٨٩ | -١٤٣٬٠٢٩ | ١٩.١٢٪ | - ٢٢٬٩٥٩ |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | -٨٨٬١٧٥ | - ١٢٠٬١٦٤ | ٣٦.٣٪ | - ٣١٬٩٨٩ | -١٤٣٬١٢٣ | ١٩.١١٪ | - ٢٢٬٩٥٩ |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | ٢٣٬٠١٥ | ١٥٬٢٠١ | -٣٤.٠٪ | ٧٬٨١٥- | ٧٬١٨٥ | - ٥٢.٧٣٪ | - ٨٬٠١٦ |
| د مرکزي حکومت لپاره پوراینې | ١١١٬١٩٠ | ١٣٥٬٣٦٥ | ٢١.٧٪ | ٢٤٬١٧٥ | ١٥٠٬٣٠٨ | ١١.٠٤٪ | ١٤٬٩٤٣ |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره نګه (خالص) کریډټ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٪ | ٠ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٪ | ٠ |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | ٩٤ | ٩٤ | ٠.٠٪ | ٠ | ٩٤ | ٠.٠٠٪ | ٠ |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | ٤٧٬١٨٣ | ٤٥٬٠٠١ | - ٤.٦٪ | - ٢٬١٨٢ | ٤٧٬٠٨٧ | ٤.٦٤٪ | ٢٬٠٨٧ |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | -١٬٢٦٨ | - ١٬٣٠٢ | ٢.٧٪ | -٣٤ | -٨٨٠ | -٣٢.٤٦٪ | ٤٢٣ |
| (ب) د پانګې حسابونه | ١٣٨٬٣٨٢ | ١٥٩٬٠٢٧ | ١٤.٩٪ | ٢٠٬٦٤٥ | ٢٠٠٬٤٧٣ | ٢٦.٠٦٪ | ٤١٬٤٤٥ |
| (ت) نور خالصه اقلام | ٢٠٬٦٦٢ | ٢٤٬٨٠٦ | ٢٠.١٪ | ٤٬١٤٥ | ٢٥٬٨٦٩ | ٤.٢٨٪ | ١٬٠٦٢ |
| **٣. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | ٤٣٦٬٤٦٩.٢١٨ | ٤٤١٬١٦١.٨٨٣ | ١.١٪ | ٤٬٦٩٣ | ٤٦٤٬٩٧٣.٣٣ | ٥.٤٠٪ | ٢٣٬٨١١ |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | ٤٠٢٬٤٣٩ | ٤٠٦٬٧٢٥ | ١٪ | ٤٬٢٨٦ | ٤٣١٬٧٠٧ | ٦٪ | ٢٤٬٩٨٣ |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې له امانت اینښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | ٢٠٢٬٥٣١ | ٢٠٥٬٦١٧ | ١.٥٪ | ٣٬٠٨٦ | ٢١٣٬٣٨٨ | ٣.٧٨٪ | ٧٬٧٧٠ |
| جاري امانتونه | ١٩٩٬٩٠٨ | ٢٠١٬١٠٨ | ٠.٦٪ | ١٬٢٠٠ | ٢١٨٬٣٢٠ | ٨.٥٦٪ | ١٧٬٢١٢ |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | ٣٤٬٠٣٠.٤٣١ | ٣٤٬٤٣٧.٠٠٩ | ١.٢٪ | ٤٠٧ | ٣٣٬٢٦٥.٩٠٦ | -٣.٤٠٪ | -١٬١٧١ |
| په افغانی امانتونه | ١٢٬٥٤٣ | ١٢٬٢٢٠ | -٢.٦٪ | - ٣٢٣ | ٩٬٤٣٨ | -٢٢.٧٧٪ | -٢٬٧٨٢ |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | ٢١٬٤٨٨ | ٢٢٬٢١٧ | ٣.٤٪ | ٧٢٩ | ٢٣٬٨٢٨ | ٧.٢٥٪ | ١٬٦١١ |
| له ونډو پرته بیه لرونکې پاڼې | | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٠ | ٠.٠٠٠ |


سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو له نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پونډ او داسې نور شامل دي. د افغانستان نړیوالې خالصې زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، د شتمنۍ هغه زیرمې دي چې د پوراینې زیرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیوالې زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۴۰.۴۷ میلیونه امریکایي ډالره (۰.۵۳) سلنه کموالی موندلی دی. د خالصو نړیوالو زیرمو کچه ۷،۷۹۸.۵۸ میلیونه امریکایي ډالره ټاکل شوې وه، حال دا چې حقیقي کچه یې د ارزونې لاندې موده کې ۷،۶۶۸،۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

**۵.۲ ګراف: د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي کچه او هدف**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۴.۲ د اسعارو د تبادلې بازار


#### ۱.۴.۲ د اسعارو د تبادلې نرخونه

د افغانستان بانک وروستی موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي، خو د افغانستان بانک د خپل اصلي هدف ترڅنګ د ازاد بازار د عملیاتو تر لاندې په ګډوره توګه د پالیسي په تطبیقولو سره د پولي ابزارونو سمې ګټې اخیستنې ته هم متوجه وي.

د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د افغانۍ ارزښت د ایراني تومان په وړاندې لوړ شوی دی، خو د نړیوالو اسعارو لکه انګلیسي پونډ، یورو، سویسي فرانک، امریکایي ډالرو، د اماراتو د درهم، سعودي ریال، هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ په وړاندې په نسبي ډول راکم شوی دی.


د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د امریکایي ډالرو او نورو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ په لاندې ګرافونو کې وړاندې کیږي.

**۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ نرخ**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د انګلیسي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ نرخ**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د هندي روپۍ او پاکستانۍ روپۍ په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنۍ نرخ**




**سرچینه:** پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ایراني تومان پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنۍ نرخ**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۴.۲ د اسعارو لیلام

په داخلي مارکیټ کې د بیو د ثابت ساتلو او د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د افغانستان بانک د پولي زیرمو د ودې کچه لوړه ساتي او په همدې موخه په اونۍ کې درې ځلې د اسعارو لیلام او په اونۍ کې یو ځلي د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي چې د افغانستان بانک ورځخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د افغانستان بانک په دوامداره توګه د اسعارو لیلام ترسره کړی څو له بازار څخه اضافي نقدینه ګي لرې کړي او د بهرنیو اسعارو، په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو خپ ځپاندونو (نوسانونو) مخه ونیسي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۵۴۱.۹۴ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۵۱۳۷۰.۰۱ میلیونه امریکایي ډالره وه. په منځنۍ توګه په هر لیلام کې ۵۹ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۴۲ داوطلبان ګټونکي اعلان شوي دي چې په هر لیلام کې په منځني ډول ۱۴.۲۶۱ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي چې په ټولیزه توګه ۴۰.۴۱۷ میلیارده افغانۍ ویستل شوي دي. همدا ډول، د خپرو شویو شمیرو له مخې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پرتله د تیر مالي کال په لومړۍ ربعه کې د ټولیزه لیلام شویو پیسو کچه ۸۸۳.۴۶ میلیونه امریکایي ډالره وه. په روان کال کې په منځنۍ توګه ۴۸ داوطلبانو په هر لیلام کې ګډون کړی چې له دې ډلې ۳۷ ګټونکو داوطلبانو ته په هر لیلام کې په منځني ډول ۱۷.۹۹۱ میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي چې په ټولیزه توګه ۴۳.۶۸۸ میلیارده افغانۍ وېستل شوي دي. ۲.۱۰ ګراف د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د امریکایي ډالرو د لیلام له لارې ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ ښکاره کوي.

**۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**




**سرچینه:** د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۵.۲ د ازاد بازار کړنې او د سیالیت شرایط

### ۱.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام


پانګه ایزې پاڼې، افغانۍ لنډمهاله بیه لرونکي پاڼې دي چې د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار پر مشتریانو او ډېرې جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو باندې په اوونۍ کې یو ځل پلورل کیږي.

د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د پولي ابزار په توګه کار اخلي څو د پیسو د عرضې وده مدیریت کړي. پانګه ایزې پاڼې د سوداګریزو بانکونو د اضافي نقدینګی د جذبولو لپاره کارول کیږي. اوس مهال، د افغانستان بانک د یوې اونۍ، یوې میاشتې، درېو میاشتو، شپږو میاشتو او د یو کال سر ته رسیدو مودو پانګه ایزې پاڼې بازار ته وړاندې کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې ونډه ۲۶.۶۶۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۱۹.۴۴۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۷.۲۲۲ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

د نا ترلاسه شوې ونډې د زیاتیدو بنسټیز لامل د پانګه ایزو پاڼو د پلور زیاتوالی په ګوته شوی دی.

د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۱.۶ میلیارده افغانۍ، د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۷.۴۶ میلیارده افغانۍ او د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۸.۱۶ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده. سربیره پر دې، د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۹.۴۴۵ میلیارده افغانۍ او د۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه صفر ته رسېږي چې بنسټیز لامل یې د یادو پانګه ایزو پاڼو د لیلام نه ترسره کیدل په ګوته شوی دی.


**۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک


د ارزونې لاندې ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو پر وړاندې ټولیزه ورکړل شوې ټکټانه ۱۸.۷۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. سربیره پر دې، د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې منځنی نرخ ۰.۱۵ سلنه، د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۰.۳۶ سلنه، د ۹۱ ورځنیو پاڼو نرخ ۰.۵۵ سلنه، د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو نرخ ۰.۷۵ سلنه او د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو ټکټانه ورکړل شوې نه ده.

**۱۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو تقاضا او ورکړل شوی مبلغ (په میلیون افغانۍ)**





سرچینه: پد پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

۱۳.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ۲۸ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچينه: پولي برخه، د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

۱۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ۹۱ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچينه: پولي برخه، د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

۱۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ۱۸۲ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچينه: د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

### ۲.۵.۲ الزامي او اضافي زيرمې

سوداګريزه بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک په افغانيو حسابونو او ۱۰ سلنه په اسعاري حسابونو کې د الزامي زيرمې په توګه وساتي. د نويو مقرراتو پر بنسټ الزامي زيرمې پر افغانيو او بهرنيو اسعارو ساتل کيږي، حال دا چې په تير وخت کې يوازې په افغانيو ساتل کيدې. د پورتنيو امانتونو په بدل کې سوداګريزو بانکونو ته هيڅ ډول ټکټانه نه ورکول کيږي. معلومات ښکاره کوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې دا ټکټانه ۵،۷۶۸.۵۴ ميليونه افغانۍ، ۲۱۵.۳۳ ميليونه امريکايي ډالره او ۱۹.۷۹ ميليونه يورو ثبت شوي ده.

**د شپې د امانتونو اسانتيا:** دا اسانتيا ټولو سوداګريزو بانکونو لپاره برابره شوې، څو له خپلو اضافي بيلانسونو څخه ټکټانه ترلاسه کړي. د شپې امانتونو د اسانتيا د ټکټانې نرخ اوس مهال ۰.۱ دی. ( د يادونې وړ ده چې دا نرخ د ۲۰۱۷ زيږديز کال د سپټمبر په ۱۱ نېټه د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د منظور شوي متحد المال پر بنسټ په ټولو بانکونو باندې د اجراء وړ دی).

د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پاى کې د شپې د امانتونو د اسانتياوو ناترلاسه شوی مبلغ ۱۳،۴۵۱.۲۰ ميليونه افغانۍ ثبت شوی دی او په ورته موده کې د يادو اسانتياوو په بدل کې د ورکړل شوې ټکټانې نرخ ۲.۱۴ ميليونه افغانۍ ته رسيږي.

**د شپې پور اسانتيا:** دا اسانتياوې د سوداګريزو بانکونو لخوا د لنډ مهاله نغدي اړتياوو لپاره کارول کيږي او بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې د نغدي جريان له کمښت سره مخ شي او اړتيا ولري چې د شپې له مخې له د افغانستان بانک څخه پر افغانيو پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتيا په بدل کې ګرځول کيږي د تېرو ۲۸ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو د ليلام له مبلغ څخه ۰.۱ سلنه لوړ دی. دا پور اخيستنه يوازې د پانګه ايزو پاڼو د ناتصفيه شوي مبلغ په مرسته تضمين کيږي.

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې هيڅ بانک د شپې پور له اسانتيا څخه برخمن شوی نه دی.

# ۳ دانفلاسیون بهیر او لید لوری

## ۳

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د ګڼ شمېر سوداګریزو توکو بیې د تیر کال په پرتله لوړې شوې دي او د ډېرو توکو بیو په تیره ربعه کې له ټیټوالي وروسته ښې شوي دي. د انرژۍ بیې له خپل عادي بهیر څخه وتلې دي، څکه چې له یوې خوا د (OPEC) د نفتي تولیداتو د کچې کمښت د هغه بیې لوړې کړي او له بلې د امریکې د متحده ایالتونو د شیل غازو د صادراتو د پام وړ زیاتوالي د طبیعي غازو پر تولید فشار کم کړی چې دې کار په غیر مستقیم ډول د ډېرو سکرو پر بیو د پام وړ اغېزه کړې ده. د زیاتو فلزونو او منرالونو بیې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د وروستۍ ربعې له زیانونو وروسته د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې ښې شوي دي چې د چین د اقتصادي ودې د تمو او د عرضې د کچې لوړوالی یې بنسټیز لاملونه ګڼل کیږي.

د کرنیزو محصولاتو بیې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د کم کښت د اټکلونو له امله په معتدله توګه لوړې شوي دي. همدا ډول د اومو نفتو بیې چې په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې د یوه بیرل بیه په منځني ډول ۶۸ امریکایي ډالره وه، اټکل کیږي چې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په پای کې ۶۶ امریکایي ډالره او په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۶۵ امریکایي ډالره ته راښکته شي چې متوازن خطرونه یې په ټولیزه توګه د پالیسي په پایلو پورې تړاو لري. اټکل کیږي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې به د غیر انرژۍ توکو بیې د تیر کال د منځنیو بیو په پرتله راټیټې شي او په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې به د نړیوال اقتصاد په بیا ځلې راغوړیدو سره یو څه لوړې شي.

د دولت لخوا د ځانګړې پاملرنې (Special Focus) یوه برخه ښکاره کوي چې د خوراکي توکو د بیو زیاتوالي په بې وزلې باندې معکوسې اغیزې پرېښودلي چې دې وضعیت د سوداګرۍ اړوند عمومي اقداماتو له امله شدت پیدا کړی دی.

### د انرژۍ بیې

د انرژۍ بیې په تیره ربعه کې د ټولو انرژیکي توکو د بیو د چټک کموالي وروسته د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې بیا په قسمي توګه ښې شوې دي. که څه هم د بیلابیلو انرژیکي توکو په بیو کې د پام وړ کموالی راغلی دی، خو بیا هم د روان کال له پیل څخه تر اوسه پورې د تیلو بیې ۳۴ سلنه لوړې شوي دي چې د تیلو صادرونکو هېوادونو د سازمان (OPEC) او نورو تولیدونکو لخوا د تیلو په تولید کې کموالی او همدا ډول په نړیواله کچه د عرضې په بهیر کې اختلافات یې د زیاتیدو اصلي لاملونه ګڼل کیږي.

برعکس، د طبیعي غازو بیې د امریکې متحده ایالاتو او استرالیا له لورې د مایع طبیعي غازو د صادراتو د زیاتوالي له امله د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مارچ میاشت کې په چټکۍ سره او د اپریل میاشت کې په نسبي ډول راټیټې شوي دي چې ورسره د ډېرو سکرو په بیو کې چې د طبیعي غازو بدیل ګڼل کیږي، هم ټیټوالی راغلی دی. اټکل کیږي چې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې به د تیلو د یو بیرل بیه په منځني ډول ۶۶ امریکایي ډالره او په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې په منځني ډول ۶۵ امریکایي ډالرو ته راښکته شي اوپه پراخه توګه به یې خطرونه متوازن وساتل شي.

**د غیر انرژي توکو بیې**

د هغه ګڼ شمېر غیر انرژیکي توکو بیې چې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په وروستی ربعه کې یې کموالی موندلی یا تر فشار لاندې پاتې وې، د مارچ په میاشت کې بیا ځلې زیاتې شوي دي چې په ځانګړې توګه فلزونو او منرالونو یې پیاوړې وده تجربه کړې ده. د فلزونو په بیو کې زیاتوالي د چین د اقتصادي ودې هیله مندي رامنځ ته کړې چې د نړۍ په کچه د مصرفي توکو د لګښت نیمایي او د یو لړ تولیدي خنډونو او محدودیتونو او همدا ډول د تولید اړوند نورو اندېښنو او پېښو پورې تړاو لري، لکه: په برازیل کې د ویل بند پېښه (اوسپنه، فلز لرونکي کانې، نکل)؛ په چلي کې زیات سیلابونه (مس)، په پیرو کې اعتراضونه (مس)، په چین کې د چاپیریال ساتنې د اندیښنو پر وړاندې له کانو څخه د فلزونو د راویستونکو فابریکو بندول (سرب، جست) او په اندونیزیا کې د صادراتو بندیز (قلعي یا المونیمي ماده).

په ورته وخت کې، د عرضې عوامل (فکتورونه) د تیر کال په څیر په روان کال کې هم د زیاترو کرنیزو توکو د بیو د زیاتیدو لامل ګڼل کیږي. په دې عواملو کې د هوا د شرایطو اړوند د امریکې د غنمو او جوارو د کرنې ځنډیدنه او همدا ډول د سوداګریزو کړکیچونو له امله په امریکې کې د سویابینو د کرنې کموالی شامل دي.

**کرنه**

د زیاترو کرنیزو توکو بیې د تیر کال په دویمه نیمایي کې له پام وړ کموالي وروسته د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې په معتدله توګه لوړې شوي دي. د نړیوال بانک د کرنیزو توکو د بیو شاخص د ربعې په ربعې شمېرو له مخې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۹ سلنه لوړ شوی، حال دا چې په نورو ټولو کټګوریو کې د یو څه لوړوالي له امله د څښاک په بیو کې ۳.۴ سلنه ټیټوالی راغلی دی. د یادولو وړ ده چې په دې شاخص کې د تیر کال په پرتله ۵.۶ سلنه ټیټوالی راغلی دی. همدا ډول، ډیری هغه عوامل اوس راکم شوي دي چې له امله یې په تیر کال کې د کرنیزو توکو بیې راټیټې شوې وې چې د سوداګریزو فشارونو کموالی او د امریکې د متحده ایالتونو لخوا په راتلونکي موسم کې د غلو او دانو د کرکیلې کموالی یې بنسټیزه بیلګې ګڼل کیږي. اټکل کیږي چې دا شاخص به په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې ۲.۶ سلنه کموالی او په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۱.۷ سلنه زیاتوالی ومومي چې د تولید کموالی او د کیمیاوي سرې د بیو لوړوالی یې ستر لاملونه ګڼل کیږي.

د بیو ټیټیدونکي خطرونه په ټولیزه توګه له شدیده سوداګریزو کړکیچونو څخه سرچینه اخلي. برعکس، د انرژۍ لوړې بیې کولای شي د زیاتې انرژي لرونکو غلو دانو په تیره بیا د جوارو او تیلي بذرونو لګښت لوړ کړي. له ژوندیو موجوداتو څخه ترلاسه کیدونکو تیلو لپاره له ټاکلې کچې زیاته تقاضا هم کولای شي د ځینو کرنیزو توکو بیې لوړې کړي.

**۱.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې**

اوس مهال په افغانستان کې د لګښتي توکو د بیو شاخص (CPI) د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د اپریل میاشتې د بیو پر بنسټ په پام کې نیول کیږي، حال دا چې مخکې دا شاخص د ۲۰۱۱ زیږدیز کال د مارچ میاشتې د بیو پر بنسټ محاسبه کیده. په همدې ترتیب، په دې نوي سنجش کې د لګښتي توکو د بیو د شاخص اجزاوې د نویو عواملو په پام کې نیولو سره عیاریږي. د احصائیې او معلوماتو د ملي ادارې

(NSIA) د معلوماتو او د افغانستان بانک د څېړنیزو معلوماتو له مخې، د افغانستان د لګښتي توکو د بیو په شاخص کې دا پایلې لیدل شوي دي: د لګښتي توکو د بیو د شاخص د بدلونونو کال په کال سنجش ښکاره کوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې په منځني ډول د انفلاسیون نرخ ۰.۸ سلنې ته رسیږي چې دا شمېره د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۷ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي. په نړیوالو بازارونو کې د سوداګریزو توکو د بیو ټیټوالی او ثابتوالی، د انفلاسیون نرخ د کموالي اصلي لاملونه ګڼل کیږي. د راپورونو پر بنسټ د نړیوالو سوداګریزو توکو د بیو د شاخص ډیری توکو د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ټیټې بیې تجربه کړي دي.

انفلاسیون د شمېرو د کال په کال پرتلنې په څیر، د ربعې په ربعې د سنجش له مخې هم تر ارزونې لاندې موده کې ټیټوالی ښکاره کوي.

د تیرې ربعې د معلوماتو په پام کې نیولو سره، د انفلاسیون منځنی نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۸ سلنې ته راټیټ شوی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۰.۹ سلنې ثبت شوي منځني نرخ په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

په پلازمینه کابل کې د لګښتي توکو د بیو شاخص د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځني ډول ۰.۹ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۳.۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ربعې په ربعې سنجش له مخې، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د کابل د لګښتي توکو د بیو شاخص په منځني ډول د تیر کال د ورته ربعې له ۱.۷ سلنې څخه په روانه ربعه کې په منځني ډول ۰.۹ سلنې ته راټیټ شوی دی.

### ۱.۱.۳ په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (کلني بدلونونه)

د لګښتي توکو د بیو شاخص د کال په کال سنجش او ارزونې له مخې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د پام وړ کموالی موندلی دی. د شتو شمېرو پر بنسټ، د کال په کال سنجش له مخې د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۷ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځني ډول ۰.۸ سلنې ته راکم شوی دی، حال دا چې د میاشتني سنجش له مخې د انفلاسیون نرخ د جنورۍ، فبرورۍ او مارچ په میاشتو کې په ترتیب سره ۰.۴ ۰.۳ او ۱.۷۷ سلنه ثبت شوی دی.

د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د خوراکي توکو په شاخص کې د انفلاسیون منځنی نرخ ۰.۸ سلنې ته راټیټ شوی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۸ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په پورته یاد شوي شاخص کې د دیفلاسیون د نرخ د زیاتوالي بنسټیز لامل د شیدو، پنیر او هګۍ، غوړیو او شحمیاتو او سبزیجاتو د بیو ټیټوالی دی. په دې شاخص کې د سبزیجاتو او غوړیو او شحمیاتو په بیو کې خورا زیات ټیټوالی ثبت شوی دی چې په منځني ډول د تیر کال د ورته مودې د ۱۱.۱۸ سلنې او ۳.۰ سلنې په پرتله په ترتیب سره منفي ۱۱.۲ سلنه او منفي ۴.۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له بله پلوه، د ډوډۍ، حبوباتو (غلو دانو)، وچو او تازه میوو، بورې او خوږو توکو، ترشي اچارو او غیر الکولي مشروباتو د بیو په شاخص کې زیاتوالی راغلی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۷.۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې په منځني ډول منفي ۱.۰ سلنې ته لوړ شوی دی.

د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د کور جوړونې،

فرنیچرو، کورنیو توکو، اړیکو او متفرقه توکو د ټیټو بیو له امله د انفلاسیون نرخ راټیټ شوی دی، حال دا چې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د تنباکو، روغتیا، ټرانسپورټ، معلوماتو او کلتور، ښوونې او روزنې او هوټلونو او ریسټورانټونو بیې لوړې شوي دي. په ټولیزه توګه په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۹ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲.۶ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په یاده کټګورۍ کې د کور جوړونې، فرنیچرو، کورنیو توکو او اړیکو د بیو په شاخصونو کې د پام وړ ټیټوالی راغلی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۳.۲ ۲.۹ او منفي ۱.۷ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په ترتیب سره ۲.۸ او منفي ۲.۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د ټرانسپورټ، ښوونې او روزنې او روغتیا د بیو شاخص د تیر کال د ورته مودې د ۲.۷، ۱،۰ او ۱.۱ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په ترتیب سره ۶.۱، ۶.۵ او ۲.۴ سلنې ته لوړ شوي دي.

اصلي انفلاسیون هم د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ټیټوالي بهیر درلودلی دی. د اوسط موندلو میتود (Trimmed mean) چې د اصلي انفلاسیون عمومي کچه ده، په منځنۍ ډول د تیر کال له ۲.۰ سلنې څخه ۲.۳ سلنې ته زیات شوی دی. د دې ترځنګ، د لګښتي توکو د بیو شاخص انفلاسیون له ډوډۍ، حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته له ۲.۴ سلنې څخه منفي ۰.۱ سلنې ته راټیټ شوی دی.

**۲.۱.۳ د ملي عمومي انفلاسیون درې میاشتني بدلونونه**


انفلاسیون د کلنۍ ارزونې او سنجش په څیر د لنډې مودې ارزونې او سنجش له مخې هم ورته بهیر ښکاره کړی دی. د دې ارزونې او سنجش له مخې ملي عمومي انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځنۍ ډول ۰.۸ سلنې ته راکم شوی دی. د عمومي انفلاسیون د ټیټوالي اصلي لامل د خوراکي توکو او غیر الکولي مشروباتو، د ډوډۍ او د غلو دانو د اقلامو د بیو ټیټېدل (دیفلاسیون) په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې، د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د غیر انفلاسیون نرخ د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ټیټوالی ښکاره کوي.

د درې میاشتني ارزونې او سنجش پر بنسټ، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تېر کال د ورته ربعې د ۰.۶ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځنۍ ډول منفي ۰.۸ سلنې ته لوړ شوی دی. د خوراکي توکو بیې لکه وچې او تازه مېوې، سبزیجات، بوره او خواږه توکي، ترشي او اچارو او غیر الکولي مشروباتو بیې په ډراماتیک ډول لوړې شوي دي، حال دا چې د ډوډۍ او حبوباتو، شیدې، پنیر او هګۍ او غوړیو او شحمیاتو بیې د تیرې ربعې په پرتله راټیټې شوي دي. په ورته وخت کې، په دې کټګورۍ کې د سبزیجاتو، ترشي اچارو او وچو او تازه مېوو بیې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په ترتیب سره منفي ۱۱.۲، ۲.۹ او ۳.۸ سلنه لوړې شوي دي.

له بله پلوه، د غیر خوراکي توکو انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۳ سلنې په د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په اوسط ډول ۰.۹ سلنې ته راټیټ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د پوښاک، روغتیا، معلوماتو او کلتور، ښوونې او روزنې او ریسټورانټونو بیې د ارزونې لاندې


موده کې لوړې شوي دي. له بله پلوه، د غیر خوراکي توکو کټګورۍ د فرعي اقلامو په تیره بیا تنباکو، کور جوړونې، فرنیچرو، کورنیو توکو، ټرانسپورټ، اړیکو او متفرقه توکو بیې په یاده موده کې راټیټې شوي دي.

۱.۳ ګراف: په ربعواره توګه منځنی ملي عمومي انفلاسیون





سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۲.۳ ګراف: په ربعواره توګه د اوسط موندلو میتود (Trimmed mean)



سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۳.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسیون ( د کال په کال شمیرو پر بنسټ)




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱.۳ جدول: ملي عمومي انفلاسیون، ۱۳۹۷ – ۱۳۹۸ مالي کلونه**

| دوره | ۲۰۱۸ | | | | | | | | | ۲۰۱۹ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | | | | | | | | | |
| | وزن | د ۲۰۱۸ جنوري | د ۲۰۱۸ فبروري | د ۲۰۱۸ مارچ | اوسط ( ۳ میاشتې) | د ۲۰۱۸ اکتوبر | د ۲۰۱۸ نومبر | د ۲۰۱۸ ډیسمبر | اوسط ( ۳ میاشتې) | د ۲۰۱۹ جنوري | د ۲۰۱۹ فبروري | د ۲۰۱۹ مارچ | اوسط ( ۳ میاشتې) |
| ټولیز شاخص | ۱۰۰.۰ | ۴.۳ | ۳.۶ | ۰.۲ | ۲.۷ | ۰.۸۰ | ۱.۱۱ | ۰.۷۵ | ۰.۹ | ۰.۴۱ | ۰.۳۴ | ۱.۷۷ | ۰.۸ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي مشروبات | ۴۷.۸ | ۵.۶ | ۴.۴ | -۱.۶ | ۲.۸ | -۰.۸۵ | -۰.۵۳ | -۰.۳۰ | -۰.۶ | -۰.۴۱ | ۰.۱۴ | ۲.۶۲ | ۰.۸ |
| ډوډۍ او حبوبات | ۱۴.۶ | ۵.۰ | ۴.۹ | ۳.۲ | ۴.۴ | ۶.۷۴ | ۸.۴۶ | ۸.۱۷ | ۷.۸ | ۶.۱۴ | ۵.۶۵ | ۶.۸۸ | ۶.۲ |
| غوښه | ۷.۵ | ۵.۱ | ۴.۹ | ۳.۲ | ۴.۴ | ۱.۵۱ | ۰.۷۹ | ۱.۶۸ | ۱.۳ | ۱.۳۹ | ۱.۳۷ | ۱.۱۶ | ۱.۳ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ۴.۷ | ۳.۱ | ۲.۱ | ۰.۶ | ۱.۹ | ۱.۸۱ | ۲.۱۰ | ۱.۲۶ | ۱.۷ | ۱.۳۸ | ۱.۳۵ | ۱.۹۲ | ۱.۶ |
| غوړي او شحمیات | ۴.۶ | ۴.۳ | ۳.۲ | ۱.۶ | ۳.۰ | -۱.۶۴ | -۲.۶۰ | -۲.۴۷ | -۲.۲ | -۲.۸۱ | -۴.۱۹ | -۵.۴۶ | -۴.۲ |
| تازه او وچه میوه | ۵.۰ | ۷.۷ | ۵.۷ | -۴.۳ | ۳.۰ | -۰.۸۶ | -۳.۰۴ | ۱.۰۱ | -۱.۰ | ۲.۴۵ | ۳.۳۴ | ۵.۴۷ | ۳.۸ |
| سبزیجات | ۶.۰ | ۲۳.۴ | ۱۹.۱ | -۷.۱ | ۱۱.۸ | -۱۷.۵۶ | -۱۷.۸۷ | -۱۹.۰۰ | -۱۸.۱ | -۱۷.۴۴ | -۱۳.۶۷ | -۲.۴۰ | -۱۱.۲ |
| بوره او خواږه توکي | ۲.۷ | -۵.۳ | -۸.۰ | -۱۰.۳ | -۷.۹ | -۳.۴۲ | -۱.۷۶ | -۱.۶۲ | -۲.۳ | -۰.۸۵ | -۰.۳۳ | ۴.۱۴ | ۱.۰ |
| اچار، ترشي او... | ۱.۳ | -۲۲.۳ | -۲۲.۸ | -۲۶.۸ | -۲۴.۰ | -۱۱.۶۸ | -۵.۲۳ | -۲.۲۷ | -۶.۴ | ۰.۴۲ | ۳.۹۲ | ۴.۲۱ | ۲.۹ |
| غیر الکولي مشروبات | ۱.۴ | ۱.۸ | ۱.۳ | ۰.۷ | ۱.۳ | ۳.۶۶ | ۴.۳۳ | ۴.۴۹ | ۴.۲ | ۵.۱۵ | ۵.۳۹ | ۶.۴۰ | ۵.۶ |
| غیر خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | ۵۲.۲ | ۳.۱ | ۲.۸ | ۲.۰ | ۲.۶ | ۲.۳۷ | ۲.۶۷ | ۱.۷۶ | ۲.۳ | ۱.۱۹ | ۰.۵۳ | ۰.۹۷ | ۰.۹ |
| تنباکو | ۰.۳ | ۲.۷ | ۲.۸ | ۲.۴ | ۲.۶ | ۶.۲۴ | ۵.۹۸ | ۶.۳۴ | ۶.۲ | ۵.۵۶ | ۴.۹۶ | ۴.۰۴ | ۴.۹ |
| پوښاک | ۴.۶ | ۴.۵ | ۴.۳ | ۳.۹ | ۴.۲ | ۳.۲۵ | ۲.۴۱ | ۴.۱۸ | ۳.۳ | ۵.۲۲ | ۴.۰۵ | ۳.۲۵ | ۴.۲ |
| کور جوړونه | ۱۹.۱ | ۴.۲ | ۳.۷ | ۱.۶ | ۳.۲ | ۰.۳۴ | ۰.۷۴ | -۱.۳۹ | -۰.۱ | -۲.۷۳ | -۳.۳۶ | -۲.۳۱ | -۲.۸ |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱۱.۹ | ۳.۴ | ۳.۰ | ۲.۳ | ۲.۹ | ۳.۳۲ | ۴.۱۸ | ۳.۷۵ | ۳.۷ | ۲.۵۹ | ۲.۷۱ | ۳.۲۰ | ۲.۸ |
| روغتیا | ۶.۲ | ۰.۸ | ۰.۹ | ۱.۵ | ۱.۱ | ۰.۵۷ | ۱.۲۹ | ۱.۶۰ | ۱.۲ | ۳.۰۴ | ۲.۱۴ | ۱.۸۹ | ۲.۴ |
| ټرانسپورټ | ۴.۳ | ۲.۹ | ۲.۹ | ۲.۴ | ۲.۷ | ۱۰.۵۷ | ۱۰.۸۲ | ۸.۷۴ | ۱۰.۰ | ۷.۷۹ | ۴.۸۰ | ۵.۷۷ | ۶.۱ |
| اړیکې | ۱.۷ | -۲.۰ | -۲.۰ | _۱.۱ | -۱.۷ | ۰.۷۹ | -۰.۹۲ | -۱.۷ | -۰.۶ | -۲.۶۳ | -۲.۳۹ | -۲.۸۳ | -۲.۶ |
| معلومات او کلتور | ۱.۱ | -۳.۳ | -۲.۷ | -۱.۴ | -۲.۵ | ۱.۰۶ | -۰.۳۸ | -۰.۹۰ | -۰.۱ | -۰.۲۴ | ۰.۹۵ | ۰.۳۵ | ۰.۴ |
| زده کړه | ۰.۴ | ۰.۴ | ۰.۷ | ۱.۹ | ۱.۰ | ۴.۸۴ | ۶.۵۳ | ۶.۴۰ | ۵.۹ | ۷.۸۸ | ۵.۳۲ | ۶.۲۴ | ۶.۵ |
| ریستورانتونه او هوټلونه | ۱.۱ | ۱.۸ | ۱.۴ | ۱.۱ | ۱.۵ | ۳.۰۱ | ۲.۱۸ | ۲.۵۱ | ۲.۶ | ۳.۰۶ | ۳.۶۲ | ۳.۲۰ | ۳.۳ |
| متفرقه | ۱.۴ | ۴.۹ | ۳.۹ | ۳.۸ | ۴.۲ | ۲.۴۸ | ۲.۴۵ | ۱.۴۰ | ۲.۱ | ۱.۷۴ | ۰.۶۹ | ۰.۳۵ | ۰.۹ |
| د مصرفي توکو د بیو شاخص، پرته له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو څخه | | ۴.۳ | ۳.۴ | -۰.۵ | ۲.۴ | -۰.۶۶ | -۰.۵۲ | -۰.۸۲ | -۰.۷ | -۰.۸۵ | -۰.۶۰ | ۱.۰۶ | -۰.۱ |
| ٪۳۰ د اوسط موندلو میتود | | ۲.۷ | ۲.۴ | ۰.۹ | ۲.۰ | ۱.۷۲ | ۱.۴۸ | ۱.۶۱ | ۱.۶ | ۲.۰۲ | ۲.۲۳ | ۲.۶۲ | ۲.۳ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۳.۱.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (کال په کال بدلونونه)**

د کابل د لګښتي توکو د بیو شاخص عمومي انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ۳.۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځنی ډول ۰.۹ سلنې ته راښکته شوی دی.

خوراکي توکي چې د ټولیزه شاخص د عمومي وزن ۳۷.۲ سلنه جوړوي، د کال په کال بدلونونو پر بنسټ د یوه کال په موده کې دیفلاسیوني بهیر درلودلی دی. په دې کټګورۍ کې د دیفلاسیون بنسټیز لاملونه د غلو دانو (حبوباتو)، غوښې، شیدو، پنیر او هګۍ، غوړیو او شحمیاتو، د وچې او تازه میوې او سبزیجاتو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. په ټولیزه توګه، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تیر مالي کال د ۴.۴ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په اوسط ډول ۲.۰ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د نا خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ چې د ټولیزه شاخص ۶۲.۸ سلنه وزن جوړوي، د تېر کال د ورته ربعې ۲.۵ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځني ډول ۰.۲ سلنې ته راټیټ شوی چې ستر لامل یې د پوښاک او کور جوړونې اقلامو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. که څه هم په دې کټګورۍ کې د تنباکو د انفلاسیون نرخ له ۱.۵ سلنې څخه ۳.۶ سلنې او د ټرانسپورټ د انفلاسیون نرخ له ۱.۱ سلنې څخه ۳.۲ سلنې ته لوړ شوی دی.

له بلې خوا، اصلي انفلاسیون له ډوډۍ او غلو دانو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې کموالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د اصلي انفلاسیون نرخ په منځني ډول ۰.۲ سلنې ته رسیږي په داسې حال کې چې په تېر کال کې دا نرخ ۳.۲ سلنه ثبت شوی ؤ. همدا ډول، د اوسط موندلو میتود (۳۰٪) د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۴ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځني ډول ۲.۶ سلنه انفلاسیون ثبت کړی دی.

**۴.۱.۳ د کابل د عمومي انفلاسیون درې میاشتني بدلونونه**

د ربعې په ربعې د سنجش او ارزونې له مخې د ټولیزه انفلاسیون پر بنسټ د کابل عمومي انفلاسیون ټیټیدونکی بهیر درلوده چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۷ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۹ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د خوراکي توکو د شاخص انفلاسیون د تیر مالي کال د څلورمې ربعې د ۰.۲ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په اوسط ډول ۰.۲ سلنې ته راټیټ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د ډوډۍ او غلو دانو، شیدو، پنیر او هګۍ او غوړیو او شحمیاتو بیې د ارزونې لاندې مودې کې راټیټې شوي دي. همدارنګه په دې کټګورۍ کې د غوړیو او شحمیاتو بیو خورا ډیرې ټیټې شوي دي چې د تیر کال د ۵۰.۱ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په منځني ډول منفي ۲.۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د ترشي او اچارو د انفلاسیون نرخ په ربعوار ډول د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۷.۱۰ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د منفي ۲.۳ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي او د خوراکي توکو او غیر الکولي مشروباتو په اقلامو کې د انفلاسیون نرخ د زیاتیدو لامل شوی دی.

د لګښتي توکو د بیو د شاخص پر بنسټ د نا خوراکي توکو بیو دیفلاسیون کوي چې د تیرې ربعې د ۲.۶ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۲ سلنې ته راټیټ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د دیفلاسیون د ټیټوالي ستر لامل د ټولو غیر خوراکي توکو لکه تنباکو، پوښاک، کور جوړونې، فرنیچرو او کورنیو توکو، روغتیا،

ښوونې او روزنې او متفرقه توکو بیې په ګوته شوي دي. په دې ډله کې د کور جوړونې بیو خورا ډیر ټیټوالی مونډلی چې د تیرې ربعې د منفي ۰.۵ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې منفي ۳.۹ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې د احصاییوي معلوماتو پر بنسټ د انفلاسیون د نږدې مودې لیدلوری ممکن اوس مهال ثابت پاتې شي او په راتلونکي کې به ورو ور لوړوالی ومومي. د افغانستان بانک د پولي سیاست پر بنسټ، اټکل کیږي چې د انفلاسیون نرخ به د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱ او ۳ سلنې ترمنځ وي چې په لاندې عواملو پورې تړاو لري:


لومړی، لکه څنګه چې افغانستان یو وارداتي هېواد دی نو انفلاسیون ورته له ګاونډیو هېوادونو لکه ایران، پاکستان او نورو هېوادونو څخه راځي. د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ، ایران او پاکستان د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د انفلاسیون تر ټولو لوړ نرخ تجربه کړی دی.

دوهم، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې (ACCI) د معلوماتو پر بنسټ، هر ورځ په میلیونونو امریکایي ډالر د هرات د اسلام قلعه بندر له لارې ایران ته قاچاق کیږي چې په پر بنسټ یې د افغانۍ ارزښت راټیټ شوی او د انفلاسیون د نرخ پر زیاتیدو یې د پام وړ اغیزه کړې ده. د دپورتنیو حقایقو او د لاندې ګرافونو په پام کې نیولو سره پر ایران د امریکې متحده ایالتونو له لورې اقتصادي بندیزونو د اسعارو د مبادلې نرخ او انفلاسیون په برخه کې د هېواد پر اقتصاد اغیزه کړې ده.

د دې ترڅنګ، افغانستان یو مصرفوونکی هېواد دی او په زیات شمېر لګښتي توکي له ګاونډیو هېوادونو څخه واردیږي چې په پر بنسټ یې د ملي انفلاسیون نرخ له ایران، پاکستان، چین، تاجکستان او ازبکستان څخه د وارد


شوي انفلاسیون له امله اغیزمن کیږي. پر دې سربیره، د افغانۍ د مبادلې نرخ په دوامداره توګه د ټیټیدو په حال کې دی چې له امله یې په هېواد کې د انفلاسیون نرخ هم بدلون مونډلی دی. په افغانستان سربیره په ټوله سیمه په ځانګړې توګه د افغانستان سوداګریزو همکارو هېوادونو کې هم ورته حالت دوام لري.

**۴.۳ ګراف: د کابل د درې میاشتني انفلاسیون منحنی نرخ (سلنه)**





سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۵.۳ ګراف: د کابل درې میاشتنی د اوسط موندلو میتود (30 % Trimmed Mean)**



سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۶.۳ ګراف: د کابل د کلني عمومي انفلاسیون نرخ**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸– ۲۰۱۹**

| دوران | | | | | | | | | ۲۰۱۹ | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | | | | | | | | | |
| | وزن | ۲۰۱۸ جنوري | ۲۰۱۸ فبروري | ۲۰۱۸ مارچ | اوسط (۳ میاشتې) | ۲۰۱۸ اکتوبر | ۲۰۱۸ نومبر | ۲۰۱۸ ډیسمبر | اوسط (۳ میاشتې) | ۲۰۱۹ جنوري | ۲۰۱۹ فبروري | ۲۰۱۹ مارچ | اوسط (۳ میاشتې) |
| ټولیز شاخص | ۱۰۰.۰ | ۴.۹ | ۳.۸ | ۰.۹ | ۳.۲ | ۱.۸ | ۱.۸ | ۱.۴ | ۱.۷ | ۰.۶ | ۰.۴ | ۱.۸ | ۰.۹ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | ۳۷.۲ | ۷.۸ | ۵.۷ | -۰.۳ | ۴.۴ | ۰.۳ | -۰.۴ | ۰.۷ | ۰.۲ | ۰.۹ | ۱.۱ | ۳.۹ | ۲.۰ |
| ډوډۍ او حبوبات | ۹.۸ | ۷.۳ | ۵.۷ | ۵.۶ | ۶.۲ | ۱۰.۹ | ۱۱.۱ | ۹.۸ | ۱۰.۶ | ۷.۳ | ۸.۱ | ۸.۳ | ۷.۹ |
| غوښه | ۶.۴ | ۶.۴ | ۶.۱ | ۶.۲ | ۶.۲ | ۳.۵ | ۲.۵ | ۴.۸ | ۳.۶ | ۴.۲ | ۴.۴ | ۲.۸ | ۳.۸ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ۳.۲ | -۱.۰ | -۱.۶ | -۲.۳ | -۱.۶ | ۵.۳ | ۵.۹ | ۵.۶ | ۵.۶ | ۴.۵ | ۵.۳ | ۲.۸ | ۴.۲ |
| غوړي او شحمیات | ۳.۶ | ۱.۷ | ۰.۴ | -۱.۶ | ۰.۲ | ۰.۶ | ۱.۰ | ۰.۰ | ۰.۵ | -۰.۵ | -۱.۸ | -۵.۵ | -۲.۶ |
| تازه او وچه میوه | ۵.۲ | ۱۵.۸ | ۱۲.۵ | ۲.۳ | ۱۰.۲ | -۴.۳ | -۹.۱ | -۳.۳ | -۵.۵ | ۱.۵ | ۰.۳ | ۲.۵ | ۱.۴ |
| سبزیجات | ۴.۲ | ۳۰.۸ | ۲۳.۶ | -۸.۱ | ۱۵.۴ | -۱۷.۹ | -۲۰.۴ | -۱۹.۷ | -۱۹.۳ | -۱۷.۶ | -۱۵.۲ | ۲.۶ | -۱۰.۱ |
| بوره او خواږه توکي | ۲.۸ | -۰.۱ | - ۳.۵ | - ۶.۶ | - ۳.۴ | - ۲.۳ | ۱.۱ | ۱.۳ | ۰.۰ | ۰.۵ | - ۲.۱ | ۷.۵ | ۲.۰ |
| اچار، ترشي او... | ۱.۰ | -۱۹.۶ | -۱۸.۰ | -۲۱.۵ | -۱۹.۷ | - ۶.۷ | - ۲.۴ | - ۰.۴ | - ۳.۲ | ۴.۳ | ۸.۴ | ۸.۷ | ۷.۱ |
| غیر الکولي څښاک | ۰.۹ | ۰.۴ | ۱.۰ | ۰.۰ | ۰.۵ | ۵.۱ | ۵.۹ | ۶.۱ | ۵.۷ | ۵.۸ | ۷.۴ | ۶.۰ | ۶.۴ |
| غیر خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | ۶۲.۸ | ۳.۲ | ۲.۷ | ۱.۷ | ۲.۵ | ۲.۷ | ۳.۲ | ۱.۸ | ۲.۶ | ۰.۵ | ۰.۲- | ۰.۴ | ۰.۲ |
| تنباکو | ۰.۳ | ۲.۲ | ۰.۹ | ۱.۳ | ۱.۵ | ۴.۵ | ۳.۲ | ۳.۵ | ۳.۷ | ۳.۹ | ۳.۹ | ۳.۲ | ۳.۶ |
| پوښاک | ۴.۸ | ۵.۱ | ۴.۴ | ۴.۴ | ۴.۷ | ۴.۴ | ۲.۰ | ۵.۲ | ۳.۹ | ۳.۷ | ۰.۷ | -۰.۶ | ۱.۳ |
| کور جوړونه (استوګنځی) | ۲۳.۵ | ۴.۴ | ۳.۸ | ۱.۶ | ۳.۳ | ۰.۲ | ۰.۸ | -۲.۵ | -۰.۵ | -۳.۸ | -۴.۶ | -۳.۴ | -۳.۹ |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱۷.۶ | ۳.۶ | ۳.۲ | ۲.۴ | ۳.۱ | ۴.۴ | ۵.۷ | ۵.۳ | ۵.۱ | ۲.۸ | ۳.۳ | ۴.۰ | ۳.۴ |
| روغتیا | ۵.۳ | ۰.۶ | ۰.۷ | ۲.۰ | ۱.۱ | ۲.۱ | ۱.۸ | ۱.۴ | ۱.۸ | ۱.۷ | ۲.۱ | ۱.۴ | ۱.۷ |
| ټرانسپورټ | ۴.۶ | ۲.۵ | ۱.۴ | -۰.۶ | ۱.۱ | ۷.۸ | ۹.۰ | ۵.۸ | ۷.۵ | ۴.۷ | ۱.۱ | ۳.۸ | ۳.۲ |
| اړیکې | ۲.۰ | -۳.۷ | -۴.۱ | -۲.۳ | -۳.۴ | ۱.۹ | ۰.۹ | ۱.۶ | ۱.۵ | -۰.۶ | ۰.۱ | -۱.۰ | -۰.۵ |
| معلومات او کلتور | ۱.۷ | -۵.۹ | -۴.۹ | -۲.۵ | -۴.۴ | ۱.۴ | -۲.۱ | -۲.۶ | -۱.۱ | -۱.۸ | ۰.۲- | -۲.۲ | -۱.۴ |
| زده کړه | ۰.۷ | ۰.۵ | ۱.۱ | ۲.۸ | ۱.۵ | ۶.۳ | ۸.۸ | ۸.۷ | ۷.۹ | ۹.۸ | ۶.۲ | ۷.۶ | ۷.۸ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ۱.۰ | ۱.۸ | ۰.۶ | -۰.۴ | ۰.۷ | ۲.۳ | ۱.۷ | ۲.۸ | ۲.۳ | ۲.۰ | ۳.۳ | ۰.۷ | ۲.۰ |
| متفرقه | ۱.۳ | ۳.۵ | ۲.۰ | ۲.۰ | ۲.۵ | ۴.۴ | ۵.۷ | ۴.۲ | ۴.۷ | ۵.۸ | ۴.۰ | ۳.۰ | ۴.۳ |
| د مصرفي توکو د بیو شاخص (د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو پرته) | | ۵.۰ | ۳.۹ | ۰.۷ | ۳.۲ | ۰.۵ | ۰.۴ | ۰.۳ | ۰.۴ | -۰.۳ | -۰.۴ | ۱.۳ | ۰.۲ |
| ۳۰ سلنه د اوسط موندلو میتود | | ۲.۵ | ۱.۴ | ۰.۳ | ۱.۴ | ۲.۷ | ۲.۶ | ۲.۷ | ۲.۷ | ۲.۸ | ۲.۳ | ۲.۸ | ۲.۶ |

**سرچینه:** د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

# ۴ د بهرني سکتور بدلونونه

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی د تیر کال د لومړۍ ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان د بهرني اقتصاد سکتور بنسټيز بدلونونه رانغاړي.

د شته معلوماتو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې بهرني سکتور پرمختګ کړی دی او د سوداګرۍ په کسر کې کموالی راغلی دی. د صادراتو په عوایدو کې د زیاتوالي او د وارداتو په لګښتونو کې د کموالي له امله د سوداګرۍ کسر راکم شوی دی.

دا بدلونونه په ځانګړې توګه د خدمتونو په حساب کې د ترلاسه شویو پیسو د زیاتوالی، له بهر څخه د کارګرو د شخصي لیږدونو د زیاتوالی او د عوایدو د داخلي بهیدنو د جاري حساب د کسر د کموالي لامل شوي دي چې د بهرني جاري حساب کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱،۲۲۶.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۲۲۸.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

د پانګې حساب ته داخلي بهیدنې، دولتي سکتور ته د پانګې د لیږدونو حساب له امله راکمې شوې دي. همدا ډول د بهرنۍ مستقیمې پانګونې (FDI) خالصې داخلي بهېدنې کمې شوي، حال دا چې د پورټوفولیو پانګونې خالصې خارجي بهېدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې زیاتې شوي دي. په ورته وخت کې، په جاري او مالي حسابونو کې د ښه والي په پام کې نیولو سره د اداینو د بیلانس حساب د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱،۰۹۱.۸۳ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۱،۲۷۰.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو کسر په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د شتمنیو دولتي زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۹.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۲.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

## ۱.۴ د ادواینو بیلانس

### ۱.۱.۴ د جاری حساب بیلانس

د ادواینو د بیلانس جاري حساب د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱،۲۲۶.۴۱ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۲۲۸.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي (۱.۴ جدول او ۱.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).


د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د جاري حساب د کسر د کموالي ستر لاملونه د صادراتو په عوایدو کې زیاتوالی، د وارداتو په لګښتونو کې کموالی، د خدمتونو له حساب څخه په ترلاسه شویو پیسو کې زیاتوالی او په بهر کې د کارګرانو له لورې د شخصي لیږدونو داخلي بهیدنې په ګوته شوي دي.

د توکو له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په ټولیزه توګه ۱۸۲.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۷۲.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د توکو پر وارداتو لګښتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د ۱،۷۱۰.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته

رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۷۸۳.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د خدمتونو د حساب کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۵.۱۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۱۵.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله۶۱ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. د خدمتونو د حساب په کسر کې د کمیدو اصلي لامل له رغونې، ټرانسپورټ او نورو سوداګریزو خدمتونو څخه د خالصو ترلاسه شویو عوایدو زیاتوالی ګڼل کیږي.

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

خالصې شخصي ترلاسه شوې پیسې چې په بهر کې د افغان کارګرانو له لورې رالیږل شوې پیسې رانغاړي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۳۸.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۱۸.۵۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول، دولتي سکتور ته خالصې جاري لیږدونې (جاري مرستې) د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۶۲.۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۴۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ ۶۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

د اداینو د بیلانس په پانګه ایزه حساب کې ډیریدنه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۳۹.۴۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۴.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷۱۴ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې لامل یې په روان کال کې دولتي سکتور، شرکتونو او کورنیو ته د پانګې زیاته لیږدونه ګڼل کیږي. (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۲.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).


### ۳.۱.۴ مالي حساب

د اداینو بیلانس د مالي حساب تر لاندې، بهرنۍ پانګونه یوه مهمه برخه ګڼل کیږي چې بهرنۍ مستقیمې پانګونې (FDI)، بهرنۍ پورټوفولیو پانګونې (FPI) او نورې پانګونې رانغاړي.

په هېواد کې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې خالصې داخلي بهېدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۷.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۳۱.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د خالصې پورټوفولیو په پانګونه کې بیروني بهیدنې، په تیره بیا د پولي بازار د ابزار په برخه کې د تیر کال د ورته مودې له منفي ۵۴.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۹.۹۶ میلیونه امریکایي ډالره کموالی راغلی دی.

**۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه (په میلیون امریکایي ډالر)**




**سرچینه:** د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه


د شمیرو شننه ښکاره کوي چې له هېواد څخه بهر د افغانانو تړلیزه مالي شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې منفي ۱۳۱.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۸۰.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

په ورته وخت کې تړلیزه مالي پوراینې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۹.۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

د شتمنۍ زیرمې ( د ادایښې د بیلانس پر بنسټ) د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۹.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۲.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې بنسټیز لامل یې د اسعارو د زیرمو زیاتوالی په ګوته شوی دی.

د مالي حساب بیلانس د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په ټولیزه توګه منفي ۹۵.۱۶ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوی دی چې دا شمېره د تیر کال په ورته ربعه کې ۴۶.۸ میلیونه امریکایي ډالره ښودل شوې وه.

**۳.۴ ګراف: د بهرنی مستقیمو پانګونې داخلي جریانونه (په ملیون امریکایي ډالر)**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک


## ۲.۴ د توکو سوداګري (مال التجاره)

د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د افغانستان د توکو ټولیزه صادرات ۱۸۲.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۷۲.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶ سلنه مثبته وده ښکاره کوي. په ورته وخت کې د توکو ټولیزه واردات ۱،۷۸۶.۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۹۳۶.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه منفي وده ښکاره کوي.

له همدې امله، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د توکو د سوداګرۍ کسر ۱۶۰۳.۷۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۷۶۴.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۹ سلنه کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول او ۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د توکو د ټولو صادراتو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸۷۵.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۱۳.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. د صادریدونکو توکو ترمنځ له طبي بذرونو پرته د ټولو توکو صادرات د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې زیات شوي دي. همدا ډول، د خوراکي توکو صادارت (تازه او وچې میوې او تیلي بذرونه) ۸۳.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۷۶.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ۱۰ سلنه زیاتوالی درلودلی دی. همدا ډول د غالیو او ټغرونو صادرات ۶.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۵.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی لري، حال دا چې د طبي بذرونو صادرات ۸۲.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۸۳.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۴.۴ ګراف: سوداګریزې کړنې او بیلانس**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

په بنسټیزو وارداتي برخو، په تیره بیا د لګښتي توکو د وارداتو، د پانګه ایزو توکو د وارداتو او د صنعتي موادو د وارداتو په بیو کې کموالی راغلی دی. د لګښتي توکو واردات د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۷۴۱.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۸۲۸.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۱ سلنه کموالی په ګوته کوي. د پانګه ایزو توکو واردات د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵۶۸.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۸۶.۹۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې د صنعتي موادو واردات د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۱۷۳.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۰۰.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه ټیټوالی ښیي.

د لګښتي توکو د بهیر برعکس، د تیلو او روغنیاتو د وارداتو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۳۰۲.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۲۰.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۷ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

په ټوله کې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د وارداتو په ترکیب او په تیره بیا په صنعتي موادو او پانګه ایزو توکو کې د پام وړ بدلون راغلی دی. صنعتي توکو کې په بنسټیزه توګه د فلزاتو تولیدات، کمیایي سرې او سیمنټ رانغاړي چې په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي. په همدې توګه د دغو وارداتي توکو کموالی په هیواد کې د اقتصادي کړنو، په ځانګړې توګه د صنعتي او رغونې د سکتورونو د کړنو د کمزورتیا ښکاره بیلګه

ګڼل کیږي.

**۳.۴ د سوداګرۍ لوري**

د افغانستان عمده سوداګریز ملګري پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هیوادونه (CIS) دي. د افغانستان د صادراتو لپاره بنسټیز هیوادونه پاکستان، هند، ایران، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هیوادونه (CIS) رانغاړي، حال دا چې هېواد ته د توکو د وارداتو بنسټیزې سرچینې پاکستان، هند، ایران، جرمني، چین، امریکا متحده ایالات، جاپان او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.


**هندوستان د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان د صادراتو یوازینی لوی پیرودونکی هېواد دی.** هندوستان ته د افغانستان د ټولیزو صادراتو ونډه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د وروستۍ ربعې د ۵۳ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله لږ څه ټیټه شوې ده چې د تیر کال د لومړۍ ربعې راهیسې له صادراتي توکو څخه ټوله ترلاسه شوې ګټه ۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزه صادراتو له ډلې هندوستان ته په بنسټیزو صادراتي توکو کې خوراکي توکي (وچې او تازه میوې)، طبي بذرونه، او زعفران شامل دي چې په ترتیب سره ۴، ۱ او ۲ سلنه زیات شوي دي.

**د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان د صادراتو دویم لوی پیرودونکی هېواد پاکستان ګڼل کیږي.** پاکستان ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو ونډه د ارزونې لاندې موده کې ثابته پاتې شوې چې کچه یې منفي ۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د لومړۍ ربعې په پرتله له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټې ۶ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی. د ټولیزه صادراتو له ډلې پاکستان ته بنسټیز صادراتي توکي خوراکي توکي، طبي بذرونه او د پنبې تولیدات دي چې په ترتیب سره ۴، ۴۵ او ۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان د صادراتو دریم لوی پیرودونکی هیواد چین دی.** چین ته د افغانستان د ټولیزو صادراتو ونډه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی لري چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې یې ۸۴ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی. همدا ډول وچې میوې چین ته د افغانستان بنسټیز صادراتي توکي دي چې د ټولیزه صادراتو ارزښت یې ۴.۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.


**د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان د صادراتو وروستی لوی پیرودونکی هېواد ایران دی.** ایران ته د افغانستان د ټولیزو صادراتو ونډه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲ سلنه راټیټه شوې ده، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې دا ونډه ۳ سلنه وه چې له صادراتو څخه په ترلاسه شوې ګټه کې یې ۳۹ سلنه کموالی ثبت کړی دی (د لا وضاحت لپاره۳.۴ او ۴.۴ جدول او ۵.۴ او ۶.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه**





سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان د وارداتو لپاره تر ټولو ستره سرچینه ده.** د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو (CIS) څخه ټولیزه واردات د ۲۶ سلنې ونډې په درلودلو سره ۴۶۷.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶۰۱.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو (۳۱ سلنه ونډې) په پرتله ۲۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې افغانستان ته اوړه او غنم، نباتي غوړي، پطرول، بریښنا، فلزي تولیدات، کیمیایي سرې او سیمنټ د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) بنسټیز وارداتي توکي جوړوي.

**چین د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي چې د ټولیزه وارداتو ۱۸.۸ سلنه جوړوي.** له چین څخه افغانستان ته د ټولیزه وادراتو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې ۳۳۶.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د **۲۹۴.۳۹** میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له چین څخه افغانستان ته په مهمو وارداتي توکو کې د موټرو پرزې، صنعتي مواد او مصرفي توکي شامل دي.


**ایران د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان دریمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي چې د ټولو وارداتو ۱۸ سلنه جوړوي.** له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وادراتو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی ربعې په اوږدو کې ۳۱۴.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال په ورته موده کې د ۲۷۷.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له ایران څخه افغانستان ته بنسټیز وارداتي توکي؛ پطرول، فلزي تولیدات، سیمنټ، بریښنایي وسایل، کمیایي سره، د موټرو پرزې او لګښتي توکي رانغاړي.

**۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**پاکستان د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان څلورمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي چې د ټولیزه وارداتو ۱۵ سلنه جوړوي.** د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې له پاکستان څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتي توکو کچه ۲۵۵.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۷۱.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له پاکستان څخه افغانستان ته د وارداتو ونډه د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۱۴ سلنه جوړوي. د یادونې وړ ده چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د موټرو پرزې او فلزي تولیدات له پاکستان څخه افغانستان ته بنسټیز وارداتي توکي رانغاړي.

هند او جاپان د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د افغانستان وروستۍ سترې وارداتي سرچینې ګڼل کیږي چې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۵ او ۳ سلنه جوړوي (د لا وضاحت لپاره ۷.۴ او ۸.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

## ۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب

### ۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب


د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د لګښتي توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره (۴۲ سلنه) ونډه لري، حال دا چې د تیر کال په ورته ربعه کې د دې برخې ونډه ۴۳ سلنه ثبت شوې وه. د لګښتي توکو پر وارداتو د لګښت کچه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۷۴۱.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۸۲۸.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.
- د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه پانګه ایزو توکو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۳۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۳۵ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله ټیټوالی لري. د پانګه ایزو توکو پر وارداتو د لګښت کچه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۵۶۸.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۸۶.۹۱ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۱۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې درېیمه ستره ونډه تیلو او روغنیاتو (پطرولو) ثبت کړې ده چې ارزښت یې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵۶۸.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۸۶.۹۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د تیلو او روغنیاتو (پطرولو) پر

وارداتو د لګښت کچه په روانه ربعه کې ۳۰۲.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۲۰.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳۷ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.


- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو کمه ونډه صنعتي موادو ثبت کړې ده چې دا ونډه د تیر کال د ورته ربعې له ۱۰.۳ سلنې څخه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۹.۷ سلنې ته راټیټه شوې ده. د صنعتي توکو پر وارداتو د لګښت کچه ۱۷۳.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۰۰.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول او ۹.۴ او ۱۰.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۹.۴ ګراف:** د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱۰.۴ ګراف:** د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره او د افغانستان بانک

### ۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب

د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د ارزونې لاندې ربعه کې د خوراکي توکو صادرات (تیلي تخمونه، وچې او تازه مېوې) د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولوستره ۴۶ سلنه ونډه لري، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې یاده ونډه ۴۴ سلنه ثبت شوې وه.

له خوراکي توکو څخه ترلاسه شوې ګټه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸۳.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷۶.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

- د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه طبي بوټو (بذرونو) ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۵ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د څلورمې ربعې د ۴۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله کموالی په ګوته کوي.

له طبي بوټو (بذرونو) څخه ترلاسه شوې ګټه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸۲.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۸۳.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

- د افغانستان په ټولیزه صادراتو کې درېیمه ستره ونډه خرمنو او وړیو ثبت کړې ده چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې یې کچه ۵.۳ سلنې ته رسیږي،


حال دا چې د تیر کال په ورته ربعه کې دا کچه ۴ سلنه ښودل شوې وه.

د څرمنو او وړیو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۹.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷.۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

- غالۍ او ټغرې چې په تیرو لسیزو کې د افغانستان بنسټیز صادراتي توکي ؤ، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په ټولیزه صادراتو کې تر ټولو کمه (۴ سلنه) ونډه لري چې د تیر کال په ورته ربعه کې دا کچه ۳ سلنه ثبت شوې وه.


د غالیو او ټغرونو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۶.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۵.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول-۱۱.۴ او ۱۲.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۱۱.۴ ګراف:** د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۱۲.۴ ګراف:** د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

### ۵.۴ بهرنۍ پورراینې

د افغانستان ټولیزه بهرنۍ پورراینې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲،۱۴۶.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲،۱۸۷.۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه یا ۴۱.۸۵ میلیونه امریکایي ډالره کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۴.۵ جدول او ۴.۱۳ ګراف ته مراجعه وکړئ).


افغانستان د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د آسیا پراختیایي بانک، د اسلامي پراختیایي بانک او د تیلو صادرونکو هېوادونو سازمان (OPEC) د صندوق د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه کړې ده، حال دا چې نړیوال بانک، آسیا پراختیایي بانک او اسلامي پراختیایي بانک ته د خدمتونو لګښتونه هم تادیه شوي دي.

په ورته وخت کې افغانستان ته د سترو څو اړخیزو پور ورکوونکو په توګه نړیوال بانک او د آسیا پراختیایي بانک د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ځینې اصلي پورونه افغانستان ته بخښلي دي.

د پاریس کلب پور ورکوونکو ته د ټولیزه ورکول کیدونکو پورونو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه

کې ۹۰۲.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې باید د روسیې فدراسیون ته ورکړل شي. له بلې خوا د پاریس کلب له غړو هېوادونو څخه د افغانستان د ټولیزه بهرنیو پورواینو کچه شاوخوا ۴۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله شاوخوا ۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. سربیره پر دې، ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه د پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۰۸.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۰۶.۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**۱۳.۴ ګراف: د بهرنۍ پوراینې پرتلنې، ۱۳۹۷ مالي کال د لومړۍ ربعې پای او ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې پای**





سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو پور ورکوونکو د پوراینې کچه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۱،۱۳۵.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۱۸۵.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۵۰.۳۲ میلیونه امریکایي ډالره ټیټوالی لري.

## ۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې

د وروستیو شمیرو پر بنسټ، خالصې نړیوالې زیرمې (NIR) د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۷،۶۹۶.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۷،۳۵۰.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۶.۴ جدول او ۱۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ). د خالصه نړیوالو زیرمو (NIR) د کچې د زیاتیدو بنسټیز لامل د شتمنیو د زیرمو زیاتوالی په ګوته شوی دی چې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸،۳۴۵.۴۶ کچه میلیونه امر یکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۸،۱۳۱.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو کچې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د پوراینې د زیرمو کچه ۶۴۹.۰۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷۸۰.۲۱ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۱۷ سلنه کموالی په ګوته کوي، د پورته شمیرو له مخې د پوراینې د زیرمو د کچې په پرتله د شتمنۍ د زیرمو کچه لوړه ده.

**۱۴.۴ ګراف: د تیرې مودې په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکاي ډالر)**




سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

**۱.۴ جدول: د افغانستان د ادباینو بیلانس (په ملیون امریکايي ډالرو)**

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۷ دویمه ربعه | ۱۳۹۷ دریمه ربعه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جاري حساب | -۱۲۲۸.۸۷ | -۸۲۹.۷۴ | -۸۹۵.۸۱ | -۱۱۱۹.۱۴ | -۱۲۲۶.۴۱ | -۰.۲٪ |
| کریډت | ۹۲۴.۸۰ | ۱۱۲۰.۰۱ | ۱۱۶۲.۷۴ | ۹۹۵.۳۴ | ۷۹۸.۱۳ | -۱۴٪ |
| ډیبټ | ۲۱۵۳.۶۶ | ۱۹۴۹.۷۵ | ۲۰۵۸.۵۶ | ۲۱۱۴.۴۸ | ۲۰۲۴.۵۵ | -۶٪ |
| د توکو او خدمتونو حساب | -۱۷۸۰.۲۴ | -۱۵۳۴.۴۶ | -۱۴۹۴.۹۲ | -۱۵۹۱.۷۸ | -۱۵۷۳.۰۷ | -۱۲٪ |
| کریډټ | ۳۴۰.۴۲ | ۳۶۴.۲۱ | ۴۶۱.۳۹ | ۴۵۹.۳۰ | ۳۹۸.۳۲ | ۱۷٪ |
| ډیبټ | ۲۱۲۰.۶۶ | ۱۸۹۸.۶۸ | ۱۹۵۶.۳۱ | ۲۰۵۱.۰۸ | ۱۹۷۱.۳۹ | -۷٪ |
| د توکوحساب | -۱۶۶۴.۴۹ | -۱۴۹۹.۷۵ | -۱۳۸۶.۹۳ | -۱۴۷۳.۴۱ | -۱۵۲۷.۹۰ | -۸٪ |
| کریډټ | ۱۷۲.۴۵ | ۱۴۶.۸۱ | ۲۶۱.۸۸ | ۲۹۴.۰۹ | ۱۸۲.۵۷ | ۶٪ |
| ډیبټ | ۱۸۳۶.۹۴ | ۱۶۴۶.۵۶ | ۱۶۴۸.۸۱ | ۱۷۶۷.۵۰ | ۱۷۱۰.۴۷ | -۷٪ |
| د خدمتونو حساب | -۱۱۵.۷۵ | -۳۴.۷۲ | -۱۰۸.۰۰ | -۱۱۸.۳۷ | -۴۵.۱۷ | -۶۱٪ |
| کریډټ | ۱۶۷.۹۶ | ۲۱۷.۴۰ | ۱۹۹.۵۱ | ۱۶۵.۲۱ | ۲۱۵.۷۵ | ۲۸٪ |
| ډیبټ | ۲۸۳.۷۲ | ۲۵۲.۱۲ | ۳۰۷.۵۰ | ۲۸۳.۵۸ | ۲۶۰.۹۲ | -۸٪ |
| د عوایدو لومړنی حساب | ۲۴.۸۳ | ۵۴.۰۰ | ۵۸.۷۰ | ۴۴.۳۲ | ۴۴.۹۲ | ۸۱٪ |
| کریډټ | ۳۵.۲۷ | ۶۵.۵۳ | ۱۰۹.۲۳ | ۶۷.۴۵ | ۶۱.۳۴ | ۷۴٪ |
| ډیبټ | ۱۰.۴۵ | ۱۱.۵۲ | ۵۰.۵۲ | ۲۳.۱۲ | ۱۶.۴۲ | ۵۷٪ |
| د عوایدو ثانوي حساب | ۵۲۶.۵۵ | ۶۵۰.۷۲ | ۵۴۰.۴۰ | ۴۲۸.۳۲ | ۳۰۱.۷۳ | -۴۳٪ |
| کریډټ | ۵۴۹.۱۱ | ۶۹۰.۲۷ | ۵۹۲.۱۳ | ۴۶۸.۶۰ | ۳۳۸.۴۷ | -۳۸٪ |
| ډیبټ | ۲۲.۵۶ | ۳۹.۵۵ | ۵۱.۷۲ | ۴۰.۲۸ | ۳۶.۷۴ | ۶۳٪ |
| جاري لیږدونې (رسمي بسپنې) | ۴۰۸.۰ | ۵۳۰.۶ | ۴۰۴.۴ | ۳۶۵.۵ | ۱۶۲.۸ | -۶۰٪ |
| شخصي لیږدونې | ۱۱۸.۵۹ | ۱۲۰.۱۱ | ۱۳۵.۹۷ | ۶۲.۸۰ | ۱۳۸.۹۴ | ۱۷٪ |
| کریډټ | ۱۴۱.۱۵ | ۱۵۹.۶۵ | ۱۸۷.۷۰ | ۱۰۳.۰۸ | ۱۷۵.۶۸ | ۲۴٪ |
| ډیبټ | ۲۲.۵۶ | ۳۹.۵۵ | ۵۱.۷۲ | ۴۰.۲۸ | ۳۶.۷۴ | ۶۳٪ |
| د پانګې حساب | ۴.۸۴ | ۱۷۱.۹۳ | ۴۲۷.۱۳ | ۵۸۸.۸۱ | ۳۹.۴۲ | ۷۱۴٪ |
| کریډټ | ۴.۸۴ | ۱۷۱.۹۳ | ۴۲۷.۱۳ | ۵۸۸.۸۱ | ۳۹.۴۲ | ۷۱۴٪ |
| ډیبټ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | |
| پانګه ایزې لیږدونې | ۴.۸۴ | ۱۷۱.۹۳ | ۴۲۷.۱۳ | ۵۸۸.۸۱ | ۳۹.۴۲ | ۷۱۴٪ |
| کریډټ | ۴.۸۴ | ۱۷۱.۹۳ | ۴۲۷.۱۳ | ۵۸۸.۸۱ | ۳۹.۴۲ | ۷۱۴٪ |
| ډیبټ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰٪ |
| مالي حساب | ۴۶.۸ | -۴.۹ | ۱۸۴.۸ | ۱۶۷.۲۳ | -۹۵.۱۶ | -۳۰۳٪ |
| مستقیمه پانګونه | -۳۱.۵۸ | -۴۰.۸۵ | -۵۵.۲۸ | -۲۹.۸۵ | -۱۷.۵۸ | -۴۴٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | ۳.۷۸ | ۳.۷۸ | -۳۰.۹۰ | -۱۹.۱۱ | -۱۰.۵۲ | -۳۷۸٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ۳۵.۳۶ | ۴۴.۶۳ | ۲۴.۳۸ | ۱۰.۷۵ | ۷.۰۶ | -۸۰٪ |
| د پورتو فولیو پانګونې | -۵۴.۰۲ | ۱۸.۲۲ | ۲۴.۳۷ | ۳۴.۹۴ | ۱۹.۹۶ | -۱۳۷٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | -۵۴.۰۲ | ۱۸.۲۲ | ۲۴.۳۷ | ۳۴.۹۴ | ۱۹.۹۶ | -۱۳۷٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰٪ |
| نورې پانګې | ۱۰۹.۵۸ | ۵۷.۵۳ | ۱۰۳.۰۷ | ۸۹.۵۴ | -۱۲۶.۸۵ | -۲۱۶٪ |
| شتمنی | ۸۰.۴۷ | ۴۴.۹۶ | ۷۹.۳۲ | ۷۳.۵۹ | -۱۳۱.۳۶ | -۲۶۳٪ |
| پوراینې | -۲۹.۱۱ | -۱۲.۵۷ | -۲۳.۷۵ | -۱۵.۹۵ | -۴.۵۱ | -۸۵٪ |
| د شتمنیو زیرمې | ۲۲.۷۹ | -۳۹.۸۵ | ۱۱۲.۶۸ | ۷۲.۶۰ | ۲۹.۳۱ | ۲۹٪ |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | ۱۲۷۰.۷۹ | ۶۵۲.۸۶ | ۶۵۳.۵۳ | ۶۹۷.۵۶ | ۱۰۹۱.۸۳ | -۱۴٪ |

**سرچینه:** د پوراینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

**۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)**

| کلونه | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | | ۱۳۹۷ دوهمه ربعه | | ۱۳۹۷ دریمه ربعه | | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | | ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) |
| واردات | ۱،۹۳۶.۸۴ | ۱۰۰٪ | ۱،۷۶۶.۹۶ | ۱۰۰٪ | ۱،۷۷۷.۲۹ | ۱۰۰٪ | ۱،۹۲۵.۵۰ | ۱۰۰٪ | ۱،۷۸۶.۳۴ | ۱۰۰٪ |
| صنعتي مواد | ۲۰۰.۳۸ | ۱۰.۳٪ | ۱۹۴.۱۴ | ۱۱.۰٪ | ۲۱۰.۹۶ | ۱۱.۹٪ | ۲۲۰.۲۰ | ۱۱.۴٪ | ۱۷۳.۹۲ | ۹.۷٪ |
| تیل او روغنیات | ۲۲۰.۵۸ | ۱۱ ٪ | ۲۱۴.۲۱ | ۱۲.۱ ٪ | ۲۵۱.۳۴ | ۱۴.۱ ٪ | ۲۶۳.۶۶ | ۱۳.۷ ٪ | ۳۰۲.۳۴ | ۱۷٪ |
| مصرفي توکي | ۸۲۸.۹۶ | ۴۳ ٪ | ۶۸۷.۵۴ | ۳۸.۹٪ | ۶۷۶.۶۵ | ۳۸.۱٪ | ۷۱۱.۰۷ | ۳۶.۹٪ | ۷۴۱.۳۵ | ۴۲ ٪ |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | ۶۸۶.۹۱ | ۳۵ ٪ | ۶۷۱.۰۷ | ۳۸.۰٪ | ۶۳۸.۳۴ | ۳۵.۹ ٪ | ۷۳۱ | ۳۷.۹٪ | ۵۶۸.۷۴ | ۳۲٪ |
| صادرات | ۱۷۲.۴۵ | ۱۰۰٪ | ۱۴۶۸۱ | ۱۰۰.۰٪ | ۲۶۱.۸۸ | ۱۰۰٪ | ۲۹۴.۰۹ | ۱۰۰٪ | ۱۸۲.۵۷ | ۱۰۰٪ |
| غالۍ او ټغرونه | ۵.۶۲ | ۳٪ | ۵.۶۸ | ۳.۹ ٪ | ۵.۴۵ | ۲.۱ ٪ | ۵.۶ | ۱.۹ ٪ | ۶.۵۷ | ۴ ٪ |
| خوراکي توکي | ۷۶.۳۲ | ۴۴٪ | ۴۷.۳۰ | ۳۲.۲٪ | ۱۱۵.۸۸ | ۴۴.۲٪ | ۱۷۸.۱۹ | ۶۰.۶٪ | ۸۳.۹۳ | ۴۶ ٪ |
| څرمن او وړۍ | ۷.۱۱ | ۴٪ | ۹.۰۵ | ۶.۲ ٪ | ۱۳.۳۷ | ۵.۱٪ | ۱۲.۷۹ | ۴.۳ ٪ | ۹.۶۹ | ۵.۳ ٪ |
| طبي بذرونه او نور | ۸۳.۴۱ | ۴۸٪ | ۸۴.۷۸ | ۵۷.۷٪ | ۱۲۷.۱۸ | ۴۸.۶٪ | ۹۷.۵۲ | ۳۳.۲٪ | ۸۲.۳۷ | ۴۵.۱٪ |
| سوداګریز بیلانس | −۱،۷۶۴.۳۸ | | −۱،۶۲۰.۱۵ | | −۱،۵۱۵.۴۱ | | −۱،۶۳۱.۴۲ | | −۱،۶۰۳.۷۷ | |
| سوداګریز بیلانس د ناخالصو کورنیو تولیداتو د سلنې په توګه | ٪۰ | | ۰٪ | | ۰٪ | | ۰٪ | | ۰٪ | |

**سرچینه:** د پوراینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

**۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورۍ، ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| د هیواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۴۹.۱۹ | ۲۷ ٪ | ۲۵۵.۶۶ | ۱۴٪ | −۲۰۶.۴۷ |
| هند | ۹۵.۳۳ | ۵۲٪ | ۸۵.۴۰ | ۵ ٪ | ۹.۹۳ |
| ایران | ۳.۲۸ | ۲ ٪ | ۳۱۴.۳۰ | ۱۸٪ | −۳۱۱.۰۲ |
| جرمني | ۳.۳۱ | ۱.۸۱٪ | ۱۵.۶۱ | ۰.۸۷٪ | −۱۲.۳۰ |
| چین | ۶.۹۳ | ۴ ٪ | ۳۳۶.۲۲ | ۱۸.۸٪ | −۳۲۹.۲۹ |
| انګلستان | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۱.۰۱ | ۰.۰۶٪ | −۱.۰۱ |
| سعودي عربستان | ۳.۳۳ | ۱.۸۳٪ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۳.۳۳ |
| د عربو متحده امارات | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۲۸.۷۸ | ۱.۶۱٪ | −۲۸.۷۸ |
| ترکیه | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۱۹.۱۲ | ۱.۰۷٪ | −۱۹.۱۲ |
| د امریکا متحده ایالات | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۱۴.۲۴ | ۰.۸۰٪ | −۱۴.۲۴ |
| د ګډو ګټو خپلواک هیوادونه | ۳.۵۱ | ۱.۹۲٪ | ۴۶۷.۷۳ | ۲۶٪ | −۴۶۴.۲۲ |
| جاپان | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۴۹.۲۶ | ۲.۷۶٪ | −۴۹.۲۶ |
| نور هیوادونه | ۱۷.۶۹ | ۹.۶۹٪ | ۱۹۹.۰۲ | ۱۱.۱۴٪ | −۱۸۱.۳۳ |
| ټولیزه | ۱۸۲.۵۷ | ۱۰۰٪ | ۱،۷۸۶.۳۴ | ۱۰۰٪ | (۱،۶۰۳.۷۷) |

**سرچینه:** د پوراینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

**۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورۍ، ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| د هیواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۴۶.۳۵ | ۲۷٪ | ۲۷۱.۶۲ | ۱۴.۰۲٪ | − ۲۲۵.۲۷ |
| هند | ۹۱.۱۷ | ۵۳ ٪ | ۷۳.۴۵ | ۳.۷۹٪ | ۱۷.۷۲ |
| ایران | ۵.۳۶ | ۳ ٪ | ۲۷۷.۴۶ | ۱۴.۳۳٪ | − ۲۷۲.۱۰ |
| جرمني | ۱.۳۱ | ۰.۷۶ ٪ | ۲۰.۹۱ | ۱.۰۸ ٪ | −۱۹.۶۰ |
| د ګډو ګټو خپلواک هیوادونه | ۲.۵۴ | ۱.۴۷ ٪ | ۶۰۱.۳۲ | ۳۱.۰۵٪ | − ۵۹۸.۷۸ |
| چین | ۳.۷۷ | ۲.۲٪ | ۲۹۴.۳۹ | ۱۵.۲۰٪ | − ۲۹۰.۶۲ |
| سعودي عربستان | ۲.۶۳ | ۱.۵۲ ٪ | | ۰.۰۰٪ | ۲.۶۳ |
| جاپان | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ ٪ | ۱۳۴.۵۶ | ۶.۹۵٪ | − ۱۳۴.۵۶ |
| انګلستان | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ ٪ | ۱.۲۹ | ۰.۰۷٪ | −۱.۲۹ |
| امریکا متحده ایالات | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ ٪ | ۱۲.۱۹ | ۰.۶۳٪ | −۱۲.۱۹ |
| نور هیوادونه | ۱۹.۳۳ | ۱۱.۲۱ ٪ | ۲۴۹.۶۶ | ۱۲.۸۹ ٪ | − ۲۳۰.۳۳ |
| ټولیزه | ۱۷۲.۴۵ | ۱۰۰.۰۰٪ | ۱۹۳۶.۸۴ | ۱۰۰.۰۰٪ | − ۱۷۶۴.۳۸ |

**سرچینه:** د پوراینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

**۵.۴ جدول: بهرني پورازينې، ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه**

| | په ملیون ډالر | تولیزه سلنه |
|---|---|---|
| تولیزه بهرنی پورازینې | ۲،۱۴۶.۱۳ | ۱۰۰.۰۰ |
| دوه اړخیزه | ۱،۰۱۰.۹۰ | ۴۷.۱۰ |
| پاریس کلب | ۹۰۲.۰۹ | ۴۲.۰۳ |
| د روسیې فدراسیون | ۹۰۲.۰۹ | ۴۲.۰۳ |
| امریکا متحده ایالات | – | ۰.۰۰ |
| جرمني | – | ۰.۰۰ |
| د پاریس کلب پرته | ۱۰۸.۸۱ | ۵.۰۷ |
| څو اړخیزه | ۱،۱۳۵.۲۳ | ۵۲.۹۰ |
| د پراختیا نړیواله ټولنه (نړیوال بانک) | ۳۵۱.۶۱ | ۱۶.۳۸ |
| آسیا پراختیایي بانک | ۶۵۵.۸۲ | ۳۰.۵۶ |
| د پیسو نړیوال صندوق | ۷۵.۶۱ | ۳.۵۲ |
| اسلامي پراختیایي بانک | ۵۰.۵۰ | ۲.۳۵ |
| د اوپیک صندوق | ۱.۶۹ | ۰.۰۸ |

**سرچینه:** د پورازینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

**۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې ( په میلیون امریکایي ډالر)**

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ دوهمه ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ دریمه ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیوالې زیرمې (په ملیون امریکایي ډالر) | ۷،۳۵۰.۹۲ | ۲۳.۲۲ | ۷،۴۹۱.۸۰ | ۱.۹۲ | ۷،۵۳۴.۴۲ | ۰.۵۷ | ۷،۷۰۴.۹۸ | ۲.۲۶ | ۷،۶۹۶.۴۰ | ۵ |
| د شتمنی زیرمې | ۸،۱۳۱.۱۳ | ۲۲.۷۱ | ۸،۲۲۷.۵۷ | ۱.۱۹ | ۸،۲۴۱.۹۰ | ۰.۱۷ | ۸،۳۶۲.۴۲ | ۱.۵ | ۸،۳۴۵.۴۶ | ۳ |
| د پورازینې زیرمې | ۷۸۰.۲۱ | ۱۰.۹۱ | ۷۳۵.۷۶ | – ۵.۷۰ | ۷۰۷.۴۸ | – ۳.۸۴ | ۶۵۷.۴۴ | – ۷ | ۶۴۹.۰۶ | –۱۷ |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه | ۷۲۲.۸۸ | ۴.۰۰ | ۶۷۵.۳۸ | –۶.۵۷ | ۶۵۱.۱۷ | – ۳.۵۹ | ۵۹۸.۰۸ | – ۸ | ۵۹۱.۹۸ | –۱۸ |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | ۰.۱۴ | – ۸۹.۵۷ | ۰.۱۴ | – ۱.۳۰ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | ۱.۳۱ | ۰.۱۴ | ۰ |
| له تمویلي سرچینو څخه ګټه اخیستنه | ۵۷.۱۹ | ۱۷.۵۳ | ۶۰.۲۴ | ۵.۳۳ | ۵۶.۱۷ | – ۶.۷۶ | ۵۹.۲۲ | ۵ | ۵۶.۷۴ | –۱ |
| نا خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۱۲.۵۹ | | ۱۳.۹۷ | | ۱۳.۹۱ | | ۱۳.۰۳ | | ۱۴.۰۲ | |
| خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۱۱ | | ۱۳ | | ۱۳ | | ۱۲ | | ۱۳ | |

**سرچینه:** د پورازینې د شتمنیو د مدیریت څانګه، مالیې وزارت

# ۵ د مالي سکتور بدلونونه

# ۵
# د مالي سکتور بدلونونه

د مالياتي سکتور بنسټيزې موخې د عوايدو د راټولېدو زياتوالی او د هغو کړنو پر له پسې پوښښ رانغاړي چې د عملياتي او پراختيايي لګښتونو له لارې تأمينيږي او په ورته وخت کې د دې برخې موخه د افغانستان د سولې او د پراختيا له ملي اډانې (ANPDF) سره سم د لګښتونو له تخصيص څخه د ډاډ ترلاسه کول دي.


سربېره پر دې، د عامه لګښتونو د ودې مديريت، د مالي پاليسی جوړول، په عامه تشبثاتو کې اغيزناکتيا، د ماليې او ګمرکونو اداره کول د دې سکتور نورې موخې ګڼل کيږي.

د غوړېدو او پرمختګ په حال کې د هېوادونو په شان افغانستان هم تل او په دوامداره توګه د بودجې له کسر سره مخ وي.

همدا ډول ټوليزه اصلي لګښتونه چې د ټوليزه کورنيو عوايدو په پرتله ډېر دي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸.۹۳ ميلیارده افغانی کسر ښکاره کوي، حال دا چې د نورو عوايدو له ډلې بسپنو په پرتليزه توګه د ارزونې لاندې موده کې ۵.۸۲ ميلیارده افغانی د بودجې ډېريدنه ثبت کړې ده چې اصلي لامل يې د مرسته کوونکو په بسپنو کې د پام وړ کموالی ګڼل کيږي. د دې ترڅنګ د بسپنو په ګډون ټوليزه عوايد راکم شوي دي، حال دا چې ټوليزه کورني عوايد د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۲.۸۸ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د تير مالي کال د ورته ربعې د ۳۷.۹۲ ميلیارده افغانی ثبت شوې کچې په پرتله ۴.۹۶ ميلیارده افغانی يا ۱۳.۰۹ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، ټوليزه اصلي لګښتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵۱.۸۱ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۳۹.۳۷ ميلیارده افغانی په پرتله ۱۲.۴۴ ميلیارده افغانی يا ۳۱ سلنه زياتوالی په ګوته کوي چې ستر لامل يې د کارکوونکو، عرضه کوونکو ، د پانګې او همدا ډول د مالي مرستو په لګښتونو کې زياتوالی ګڼل کيږي.

**۱.۵ ګراف: د ټوليزه عوايدو، لګښتونو، بودجې او بسپنو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه – ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچينه: د ماليې وزارت مالي صورت حساب، د پولي سياست لوی آمريت

له بلې خوا، د بسپنه ورکوونکو مالي مرستې (بسپنې)، عملياتي او پراختيايي لګښتونه تر پوښښ لاندې نيسي. د افغانستان د بيا رغونې لپاره د پيسو صندوق (ARTF)، د افغانستان د قانون او نظم لپاره د پيسو صندوق (LOTFA) او د امنيت د ليږد لپاره د ګډو ځواکونو قوماندانۍ (CSTC-A) د افغانستان دولت ته ستر بسپنه ورکوونکي دي. د بسپنه ورکوونکو ټوليزه بسپنې چې عملياتي او پراختيايي برخو ته ځانګړې شوي دي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۴.۷۵ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د تير مالي کال د ورته ربعې د ۲۷.۵۷ ميلیارده افغانی ثبت شوې کچې په پرتله ۱۲.۸۱ ميلیارده افغانی يا ۴۶.۴۹ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

سربېره پر دې، ټوليزه اصلي بودجه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۹۹.۴۲ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د تير مالي کال د ۳۷۷.۱۹ ميلیارده افغانی ثبت شوې کچې په پرتله ۲۲.۲۳ ميلیارده افغانی يا ۵.۸۹ سلنه کموالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، ټوليزه عملياتي بودجه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۷۵.۲۲ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۲۶۸.۳۱ ميلیارده افغانی په پرتله ۳.۴


سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول، پراختیایي بودجه چې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۲۴.۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، د تیر کال د ورته ربعې د ۱۱۱.۰۶میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۱.۸۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې په پرتلیزه توګه د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د بودجې په تصویب او تخصیص کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

**۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ**

د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې دولت د ۴۰۴.۵۷ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې ۱۴ سلنه په لګښت رسولې، حال دا چې دولت د ۱۳۹۷ مالي کال په لومړۍ ربعه کې له ۳۸۵.۰۹میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې څخه ۱۰ سلنه بودجه مصرف کړې وه چې په پرتلیزه توګه د بودجې د اجراء په نرخ کې ۴۵.۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بودجې د اجراء په نرخ کې د زیاتیدو اصلي لاملونه په خپل وخت د تدارکاتو د ملي اداري لخوا د لګښتونو (مخارجو) د پروسې د مراحلو ترسره کول او تصویب، په ولایتونو کې امنیتي وضعیت او د بودجې اړوندو ادارو لخوا د کړنو ښه والی ګڼل کیږي. همدا ډول، کلنۍ تصویب شوې بودجه هم د ۱۳۹۷ مالي کال د لومړۍ ربعې له ۳۸۵.۰۹ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۰۴.۵۷ میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې ده چې په پرتلیزه توګه ۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.


**۲.۵ ګراف: د پرتلیزې بودجې پرتلنه، د ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه او ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۴۷.۳۷۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۳۷.۹۶۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې ترڅنګ، په ۱۳۹۸ مالي کال کې تخصیص شوې بودجه ۳۸۵.۰۹ میلیارده افغانۍ ده، حال دا چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ټولیزه تخصیص شوې بودجه ۳۱۷. ۲۱ میلیارده افغانۍ وه. همدا ډول د پراختیایي بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۰.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ورته دورې د ۱.۵۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵۵۹.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**۳.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې او پراختیایي بودجې د اجراء د نرخونو پرتلنه، ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**





سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

**۲.۵. د اصلي بودجې (کسر او ډېریدنه)**

د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې د ټولیزې بودجې کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۸.۹۳ میلیارده افغانۍ ته رسیده چې د تیر کال د ورته مودې د ۱.۴۵ میلیارده افغانۍ کسر په پرتله ۷.۴۸ میلیارده افغانۍ یا ۵۱۴.۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې بهرنۍ تمویلي سرچینې له ۲۷.۵۷ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۴.۷۵ میلیارده افغانۍ ته راښکته شوي دي. د دې ترڅنګ، ټولیزه بهرنۍ پلان شوې کلنۍ تمویلي سرچینې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۹۹.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ورته ربعې د ۱۹۱.۲۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴.۰۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې د دې ټولیزه تمویلي سرچینې د زیاتیدو بنسټیز لامل په

ټوله کې د بسپنه ورکوونکو لخوا د کلنۍ ژمنو او اداینو عملي کول ګڼل کیږي.

**۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېریدنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه- او ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت


### ۳.۵ ټولیزه عواید

د بسپنو په ګډون ټولیزه عواید د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵۷.۶۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ورته ربعې د ۶۵.۴۹ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۷.۸۵ میلیارده افغانۍ یا ۱۱.۹۹ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

د پلان شویو کورنیو سرچینو کلنۍ راټولیدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۸۸.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ورته ربعې د ۱۶۱.۶۲ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲۶.۳۸ میلیارده افغانۍ یا ۱۶.۳۲ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

سربېره پر دې، د ۱۳۹۸ مالي کال د بودجې د کسر په له منځه وړلو او د ټولیزه عوایدو په راټولولو کې ټولیزه کورنیو عوایدو او د بسپنه ورکوونکو مرستو د پام وړ رول لوبولی څو د هېواد کلنۍ بودجه ډېره کړي.


**۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

همدا ډول په ۱۳۹۸ مالي کال کې د عوایدو په راټولیدو کې د مثبت بهیر د زیاتیدو بنسټیز لاملونه د عایداتي مالیاتو، د توکو او خدمتونو په خرڅلاو، د څمکو او ودانیو په خرڅلاو، ګمرکي محصول او اداري فیسونو کې د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي. حال دا چې په ټولنیزو مرستو او نورو غیر مالیاتي عوایدو لکه؛ د پانګه ایزو شتمنیو په عوایدو، ، د امتیاز په حقونو، استخراجي صنعت او متفرقه عوایدو کې د ارزونې لاندې کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې کموالی راغلی دی او د تیر کال په پرتله د پرچونې سوداګرۍ د منفي بهیر په پایله کې د ملکیتونو مالیې، ثابتې مالیې او ګمرکي محصول هم راکم شوی دی.

**۶.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

### ۱.۳.۵ کورني عواید


د کورنیو عوایدو د راټولیدو ټولیزه کړنې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ښې شوي دي چې د تیر مالي کال د ورته ربعې په پرتله د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي، حال دا چې دا اقدامات په ۱۳۹۸ مالي کال کې د دولت لخوا د ناخالصه کورنیو تولیداتو د کسر په کمولو کې کافي ګڼل کیږي. د کورنیو عوایدو په راټولیدو کې د بدلونونو اصلي لاملونه د عایداتي مالیاتو، د شتمنۍ مالیاتو، د توکو د خرڅلاو مالیاتو، ثابتو مالیاتو او د تقاعد د مرستو په ګډون په مالیاتو او ګمرکي عوایدو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

له بلې خوا، ټولیزه کورني عواید د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۲.۸۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د

لومړۍ ربعې د ۳۷.۹۲ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۴.۹۶ میلیارده افغانۍ یا ۱۳.۰۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


د دې ترڅنګ، د ټولیزه عوایدو د راټولیدو ډله بندي ښکاره کوي چې د ټولیزه عوایدو بېلابېلو برخو لکه؛ د پانګې له شتمنیو څخه تر لاسه شویو عوایدو د ۱۳۹۸ مالي کالي په لومړۍ ربعه کې د ۱۲.۵۹ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۰.۳۵ میلیارده افغانۍ څخه ۰.۳۱ میلیارده افغانۍ، د امتیاز حقونو د ۲۳.۸۷ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۱۳۹۷ مالي کال د درېمې ربعې له ۰.۰۴ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۰۳ میلیارده افغانۍ، استخراجي صنعت د ۱۸ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۰.۰۸ میلیارده افغانۍ څخه ۰.۰۶ میلیارده افغانۍ او متفرقه عواید د ۶۳.۳۲ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۱۶.۴۵ میلیارده افغانۍ څخه په پرتلیزه توګه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۶.۱۱ میلیارده افغانۍ ته راښکته شوي دي.

**۷.۵ ګراف: د ټولیزه کورنیو عوایدو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه ـ ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

**۸.۵ ګراف: ستر کورني عواید، ۱۳۹۸ مالی کال لومړی ربعه**





سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب / د پولي سیاست لوی آمریت

### ۲.۳.۵. غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورنیو عوایدو عمده برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۶.۶۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د لومړۍ ربعې د ۱۳.۳۴ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۹۹.۹ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د کورنیو عوایدو د زیاتیدو اصلي لامل د پانګه ایزو شتمنیو، ثابتو مالیاتو او خدمتونو څخه د عایداتي مالیاتو او د متفرقه عوایدو د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي.

**۹.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو د لومړیو ربعو د غیر مالیاتي عوایدو د مهمو برخو پرتلنه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت


د غیر مالیاتي عوایدو تر ټولو ستره برخه د تقاعد ونډه جوړوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۱.۱۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۵۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۱۹.۷۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې، د توکو د خرڅلاو او خدمتونو ونډه له ۱.۱۲ میلیارده افغانۍ څخه ۲.۴۸ میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې چې ۱۲۰.۹۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، غیر مالیاتي جریمې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۰.۱۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۰.۱۰ میلیارده افغانۍ په پرتله ۶.۳۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، متفرقه عواید له

منفي ۱۶.۶۵ سلنې څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې منفي ۶.۱۱ میلیارده افغانۍ ته راکم شوي دي.

### ۳.۳.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د بسپنه ورکوونکي مرستې د ملي بودجې مهمه برخه جوړوي چې دا بسپنې په دواړو عملیاتي او پراختیایي بودجو کې عمده لګښتونه تمویلوي. همدا ډول د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیوالو کمیټو څخه په عملیاتي او پراختیایي لګښتونو کې د یو لړ پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې او کله کله پورونه ترلاسه کوي.

۱۰.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې اجزاوې، ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه کې





سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

سربېره پر دې مالي ثبات هغه ته وایي چې ټولیزه کورني لګښتونه د ټولیزه کورني عوایدو له لارې تمویل شي، حال دا چې د افغانستان کورني لګښتونه په نسبي توګه د بهرنیو مالي مرستو، بهرنیو پورونو او پاتې برخه یې د کورنیو عوایدو له لارې تمویلیږي.

له بلې خوا، ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۴.۷۵ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تیر مالي کال د لومړۍ ربعې د ۲۷.۵۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۲.۸۱ میلیارده افغانۍ د پام وړ کموالی ښکاره کوي.


د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو د مرسته کوونکو تر ټولو ستره برخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF) لخوا بسپنې جوړوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱.۰۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶.۸۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸۴ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي او د امنیت د لیږد لپاره د ګډو ځواکونو د قوماندانۍ-د فاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ناټو مالي مرستې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۲.۹۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۷.۵۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۱۱.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو ټولیزه کلنی شننه، ۱۳۹۷ لومړی ربعه او ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

۱۲.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو پرتله، ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه او ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

### ۴.۵ لګښتونه


اصلي لګښتونه په پراختیایي او عادي لګښتونو ډله بندي شوي چې د اتو بیلابیلو سکتورونو لکه؛ امنیتي، دولتي، ښوونې او روزنې، روغتیا، کرنې، ټولنیزه خوندیتوب، بیخ بنسټونو او د اقتصادي مدیریت لپاره ځانګړي شوي دي. همدا ډول دا لګښتونه د سکتور دواړو برخو یعنې عملیاتي او پراختیایي بودجو لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې

د بیخ بنسټونو او د اقتصاد د مدیریت لګښتونو زیاتوالی موندلی او د کرنې د سکتور لګښتونه د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو له مخې ترسره شوي دي. سربېره پر دې، ټولیزه اصلي لګښتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵۱.۸۱ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۳۹.۳۷ میلیارده افغانۍ په پرتله په ټولیزه پراختیایي او عملیاتي لګښتونو کې ۵.۶۷ میلیارده افغانۍ یا ۳۱.۵۹ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي. په اصلي لګښتونو کې د زیاتیدو اصلي لاملونه د کارکوونکو په معاشونو، د بسپنه ورکوونکو په مرستو، تقاعد او پانګه ایزو لګښتونو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

همدا ډول عملیاتي لګښتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۲.۰۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ورته ربعې د ۳۷.۸۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۱.۲۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې پراختیایي لګښتونه د ۵۲۷.۸۷ سلنه د پام وړ زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۷ مالي کال د لومړۍ ربعې له ۱.۵۵ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۹.۷۳ میلیارده افغانۍ ته لوړ شوي دي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله په پراختیایي لګښتونو کې د پام وړ ۸.۱۸ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه لګښتونو کې تر ټولو ډیر زیاتوالی په کلنی پراختیایي بودجه او په کلنیو اصلي لګښتونو کې راغلی دی.

**۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه ـ ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

# ۶ د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۶
## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

بانکي نظام د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۲۰.۸۲ سلنه جوړوي چې په ټولیزه توګه ۱۴ مجوز بانکونه رانغاړي. د دې بانکونو له ډلې درې يې دولتي، اووه يې خصوصي سوداګریز بانکونه۱، يو يې اسلامي بانک او درې نور يې د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ دي. د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د بانکي نظام د کړنو له شننې وروسته د اسلامي بانکدارۍ۲ برخه په لاندې توګه وړاندې کیږي.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د ښه والي شاخصونه د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د پام وړ کموالی ښکاره کوي. همدا ډول، ټولیزه شتمنی، امانتونه، د اکویټي پانګه او ګټه کمه شوې ده، حال دا چې پورونه نور هم راکم شوي دي. په ورته وخت کې، سیالیت په کافي حد کې دی، خو ناخالصه پورونه زیات شوي دي.

- د بانکي نظام شتمنی د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۲۹۹.۶۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۵.۱۰ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د کمیدو اصلي لامل په خزانه کې د نغدو پیسو، پر د افغانستان بانک د طلباتو، د بانکونو ترمنځ طلباتو او نورو شتمنیو کموالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې، امانتونه هم د ارزونې لاندې موده کې راکم شوي دي، حال دا چې ناخالصه پورونه او په ونډو پانګونه لوړه شوې ده.
- د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتوفولیو د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۴۱.۹۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې دورې په پرتله ۱.۲۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتیدو اصلي لاملونه د نوي پورونو ورکړې، د اضافه برداشت پورونو اسانتیاوې او د ډالرو د نرخ زیاتوالی ګڼل کیږي.
- امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او د بانکونو ترمنځ امانتونه او د مشتریانو امانتونه رانغاړي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۵۷.۷۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۵.۶۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه پوراینو په سلو کې ۹۷.۲۲ جوړوي. همدا ډول د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د زیاتیدو اصلي لامل د مشتریانو جاري امانتونه ګڼل کیږي. د دې ترڅنګ، د ارزونې لاندې موده کې د بانکونو ترمنځ امانتونه زیات شوي دي. ټولیزه امانتونه ۵.۴۱ میلیارده افغانۍ او د بانکونو ترمنځ امانتونه او د مشتریانو امانتونه ۲۵۲.۳۵ میلیارده افغانۍ رانغاړي. د بانکي نظام ډېری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۴.۶۰ سلنه) او ورپسې افغانۍ امانتونه (۲۸.۷۲ سلنه) دي. د بانکي نظام افغانۍ امانتونه د ارزونې لاندې ربعه کې ۷.۹۷ سلنه کموالی، حال دا چې د امریکایي ډالرو امانتونه په یاده موده کې ۴.۷۸ سلنه کموالی په ګوته کوي.
- د بانکي نظام پانګه د ارزونې لاندې کال په لومړۍ ربعه کې د ۰.۱۷ سلنې کموالي په درلودلو سره ۳۴.۳۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د بانکي نظام د پانګې د کمیدو اصلي

۱: د بانکي نظام په بولټن کې اسلامي بانک د خصوصي بانکونو یوه برخه ده.
۲: د اسلامي بانکدارۍ نظام له یوه بانک او شپږ څانګو څخه جوړ شوی دی.

لامل د ونډو ورکړه او په ګټه کې کموالی ګڼل کیږي. د یو بانک د پانګې د کفایت نسبت له ټاکل شوی حد څخه ټیټ ثبت شوی دی. د خطر پر اساس عیارې شوې پانګې لپاره د بازل معیار ۸ سلنه دی. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CRA) د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۷.۰۵ سلنه ثبت شوی دی.

- بانکي نظام د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۱۳.۱۰ میلیونه افغانی خالصه ګټه کړې چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۴۴ میلیارده افغانی خالصې ګټې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې له شتمنۍ څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) ۰.۱۲ سلنې او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه (ROE) ۱.۰۷ سلنې ته رسیږي. دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې ربعه له ګټې سره پای ته رسولې، حال دا چې خصوصي بانکونو په دې موده کې زیان کړی دی.

## ۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ د ۱۳۹۷ مالي کال د وروستی ربعې د ۲.۴۸ سلنه زیاتوالي په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵.۱۰ سلنه زیاتوالی لرلی دی (د لا وضاحت لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).


د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره کمیدنه په خزانه کې پر نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې طلباتو کې (چې د ټولیزه شتمنیو ۱۲.۷۴ میلیارده افغانی یا ۹.۴۱ سلنه جوړوي) ثبت شوې ده؛ وریسې په ترتیب سره د افغانستان بانک پانګه ایزې پانې او د بانکونو ترمنځ طلبات (۱۲.۷۴ میلیونه افغانی یا ۹.۴۱ سلنه) چې په دې دوو کې تر ټولو ډیر کموالی د افغانستان بانک په پانګه ایزو پاڼو کې ثبت شوی دی؛ همدا ډول د بانکونو ترمنځ طلباتو کې (۴.۹۴ میلیارده افغانی یا ۵.۲۲ سلنه) کموالی، حال دا چې په پانګونو، پورونو او ثابتو شمتنیو کې ډېر زیاتوالی راغلی دی. په ورته وخت کې په خزانه کې نغدې پیسې او پر د افغانستان بانک باندې طلبات د ارزونې لاندې موده کې ( ۷.۶۲ میلیارده افغانی یا ۵.۳۷ سلنه) کموالی ثبت شوی دی.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورتوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۰.۹۲ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۹.۹۵ سلنه)، خالصه پورونه (۱۲.۴۹ سلنه)، پانګونې (۸.۹۲ سلنه)، "نورې شتمنۍ" (۴.۳۳ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ۲.۸۰ سلنه جوړوي. (د زیاتو معلوماتو لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې تر ټولو ډیره (۶۶.۲۵ سلنه) ونډه خصوصي بانکونه لري (اسلامي بانک د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴.۹۵ سلنه جوړوي). وریسې دولتي بانکونه ۲۸.۱۱ سلنه ونډه لري، حال دا چې د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵.۶۴ سلنه جوړوي.

**۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه**

۱۳۹۷ لیندۍ ـ ۱۳۹۸ کب- دولتي بانکونه، خصوصي بانکونه، د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱.۶ جدول: د بانکونو شتمنی**

| مبلغ په میلیون افغانی | ۱۳۹۷ لیندۍ/ ۲۰۱۸ ډیسمبر [۳] | ۱۳۹۷ کب /۲۰۱۹ مارچ | د ټولیزه شتمنیو/ پوراینو سلنه | وده |
|---|---|---|---|---|
| **شتمنی** | | | | |
| په خزانه کې نغدي پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۳۵،۳۶۸.۶۵ | ۱۲۲،۶۲۵.۳۴ | ۴۰.۹۲ | -۹.۴۱ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات نګه (خالصه) | ۹۴،۶۹۴.۶۶ | ۸۹،۷۵۲.۸۵ | ۲۹.۹۵ | - ۵.۲۲ |
| پانګونې (نګه) | ۲۴،۹۵۰.۵۷ | ۲۶،۷۲۵.۲۵ | ۸.۹۲ | ۷.۱۱ |
| پورونه (نګه) | ۳۷،۳۶۳.۱۲ | ۳۷،۴۳۵.۰۷ | ۱۲.۴۹ | ۰.۱۹ |
| نا ملموسه شتمنی | ۹۰۰.۶۰ | ۸۷۲.۴۵ | ۰.۲۹ | -۳.۱۲ |
| بیرته ترلاسه شوي شتمنی | ۸۸۱.۶۷ | ۸۹۶.۰۴ | ۰.۳۰ | ۱.۶۲ |
| ثابتې شتمنی | ۸،۳۰۱.۳۲ | ۸،۳۷۷.۰۹ | ۲.۸۰ | ۰.۹۱ |
| **نور** | ۱۳،۳۱۹.۹۰ | ۱۲،۹۶۸.۶۳ | ۴.۳۳ | - ۲.۶۳ |
| ټولیزه | ۳۱۵،۷۸۰.۴۷ | ۲۹۹،۶۵۲.۷۲ | | -۵.۱۰ |
| | | | | |
| **پوراینې** | | | | |
| امانتونه | ۲۷۳،۳۳۴.۸۹ | ۲۵۷،۷۷۰.۷۰ | ۹۷.۱۷ | -۵.۶۹ |
| پور اخیستنې | ۳،۰۶۷.۸۱ | ۲،۹۰۷.۳۸ | ۱.۱۰ | -۵.۲۳ |
| نور | ۴،۹۴۲.۷۵ | ۴،۵۹۸.۳۲ | ۱.۷۳ | - ۶.۹۶ |
| ټولیزه | ۲۸۱،۳۴۵.۴۵ | ۲۶۵،۲۷۶.۴۰ | | - ۵.۷۱ |
| **مالي پانګه** | ۳۴،۴۳۵.۰۲ | ۳۴،۳۷۶.۳۳ | | - ۰.۱۷ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک


### ۱.۱.۶ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۴۴۱.۹۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د یوې ربعې په تیریدو سره ۵۰۱ میلیونه افغانۍ یا ۱.۲۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۹۹ سلنه او د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۲.۹۱ سلنه جوړوي. د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتیدو اصلي لاملونه د نویو پورونو ورکړه، د اضافه برداشت پورونو زیاته کارونه او د امریکایي ډالرو د نرخ لوړوالی ګڼل کیږي.

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د پور په پورټوفولیو کې زیاتوالی په شپږو بانکونو پورې تړاو لري، په داسې حال کې چې پنځو بانکونو د خپل پور په پورټوفولیو کې کموالی او پاتې دریو بانکونو په پور ورکړه کې ونډه اخیستې نه ده.

د بانکي ډلو ترمنځ جلا شننه ښکاره کوي چې خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې مودې په تیریدو سره په ټولیزه پورټوفولیو کې د ۸۸.۴۴ سلنې ونډې په لرلو سره ۰.۷۰ سلنه زیاتوالی او دولتي بانکونو د بانکي نظام په پورټوفولیو کې د ۱۰.۴۸ سلنې ونډې په درلودلو سره ۵.۸۰ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی، حال دا چې د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ۱.۰۸ سلنې ونډې په لرلو سره ۰.۳۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

**۲.۶ ګراف: د بانکی نظام د ناخالصه پورونو په پورټوفولیو کې د بانکي ډلو ونډه، ۲۰۱۸ څلورمه ربعه (۱۳۹۷ لیندۍ) او ۲۰۱۹ لومړۍ ربعه (۱۳۹۷ کب)**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د

---

۳): د ۲۰۱۸ ډیسمبر د معلوماتو سمونه

خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معياري شتمنيو) او د ځانګړي تدارکاتو (غير معياري شتمنيو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي. د شتمنيو د ډلبندۍ د نوې مقررې له مخې، د معياري پورونو په برخه کې د زېرمو جوړول اختياري ګڼل کيږي.

د ۲۰۱۹ کال د مارچ مياشتې په پای کې د ټوليزه ناخالصه پورونو ټوليزه تأمين شوې ونډه ۱۰.۷۳ سلنې ته رسيږي، حال دا چې د ۲۰۱۸ کال د ډيسمبر په پای کې دا ونډه ۹.۸۳ سلنې ته رسيده.

**۳.۱.۶ د کريډټ وېشنه**

د دې لپاره چې د پور د پورتوفوليو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی ومومي او د نويو عوايدو پر ترلاسه کولو سربېره مالي سرچينو ته لاسرسی زيات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګريزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی. په بيلابېلو سکتورونو کې د کريډټ له شننې څخه معلوميږي چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې "د سوداګرۍ په سکتور کې" د پور د پورتوفوليو ستره برخه (د تيرکال د ورته ربعې د ۴۳.۳۵ سلنې په پرتله ۴۳.۹۵ سلنه) چې په ټوليزه توګه د "پټروليم او روغنياتو" په برخه کې ( د تير کال د ورته ربعې د ۲۰.۵۴ سلنې په پرتله۲۰.۸۱ سلنه) په پانګه اچول شوې ده. په نورو بنسټيزو سکتورونو کې د "مخابراتو/ د لګښتي کارتونو د ويشونکو سکتور" لپاره (۶.۸۳ سلنه)، "د توليدي او صنعت سکتور" لپاره ( د ۱۲.۱۹ سلنې په پرتله ۱۱.۲۴ سلنه )، د "بيخبنسټيزو پروژو" سکتور لپاره (د ۶.۸۳ سلنې په پرتله ۸.۷۲ سلنه)، د "سوداګريز حقيقي ملکيتونو او رغونې سکتور" لپاره (د ۹.۰۳ سلنې په پرتله ۸.۵۲ سلنه)، د " کرنې، مالدارۍ او فارمونو" سکتور لپاره (د ۴.۱۶ سلنې په پرتله ۴.۶۳ سلنه) او د لګښتي توکو سکتور لپاره (د ۱.۹۰ سلنې په پرتله ۲.۱۳ سلنه) ځانګړې شوي دي. د بيخنسټيزو پروژو سکتور، د خدمتونو سکتور، د لګښتي توکو او کرنې، مالدارۍ او فارمونو په سکتورونو کې د پام وړ زياتوالی راغلی، حال دا چې د توليد، صنعت، سوداګرۍ، سوداګريزو حقيقي ملکيتونو او رغونې په سکتورونو کې کموالی راغلی دی. د منځنيو، کوچنيو او وړو پورونو سکتور ته ځانګړي شوي پورونه په ترتيب سره ۱.۳۱ ميليارده افغانۍ، ۱.۱۰ ميليارده افغانۍ او ۴.۸۷ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د بانکي نظام د اتو بانکونو لخوا وړاندې کيږي (د لا ډيرو معلوماتو لپاره ۳.۶ جدول ته مراجعه وکړئ). څو اقتصادي سکتورونو ته د پورونو په ځانګړي کولو سره بانکونه د ځانګړي سکتور د کړکيچن کېدو په صورت کې د هغه له اعتباري خطر سره مخ کيږي چې دا کار پر سکتورونو باندې ناوړه اغېزه پريږدي. له همدې امله بانکونه بايد د صعب الحصول پورونو د لوړ نسبت په پام کې نيولو سره د مهمو سکتورونو اړوند خطرونه له نږدې وڅاري.

شاوخوا ۷۰.۳۱ سلنه پورونه د کابل لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د هرات او بلخ ولايتونه په ترتيب سره په دويم او دريم ځای او ورپسې بادغيس او قندهار ولايتونه په څلورم او پنځم ځای کې راغلي دي. په نورو ولايتونو کې د پورونو تخصيص(تناسب) ډېر لږ دی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافيايي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کيږي چې د وخت په تيريدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

**۲.۶ جدول: د سکتور پر بنسټ د سوداګریزو بانکونو پورونه**

| | د ۱۳۹۳ لینډۍ (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | د ۱۳۹۴ لینډۍ (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) | د ۱۳۹۵ لینډۍ (د ۲۰۱۶ ډیسمبر) | د ۱۳۹۶ لینډۍ (د ۲۰۱۷ ډیسمبر) | د ۱۳۹۷ لینډۍ (د ۲۰۱۸ ډیسمبر) | د ۱۳۹۸ کب (د ۲۰۱۹ مارچ) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د حقیقي ملکیتونو او ودانیو سوداګریز پورونه | | | | | | |
| **رغونه او ودانۍ** | ٪۱٤.۳۲ | ٪۹.٤٤ | ٪۱۱.۱۲ | ٪۸.۷۰ | ٪۹.۰۳ | ٪۸.۵۲ |
| بېخبنسټیزې پروژې | | | | | | |
| انرژي | ٪۰.۳۵ | ٪۰.۲۲ | ٪۰.۳۸ | ٪۰.٤۰ | ٪۰.٤۸ | ٪۰.۰۹ |
| سړکونو او ریل پټلی | ٪۲.٤۱ | ٪۱.۱۷ | ٪۰.٦٤ | ٪۱.۳۲ | ٪۲.۱۸ | ٪۲.۵۱ |
| بندونه | ٪۰.٦۱ | ٪۰.۰۹ | ٪۰.۰٤ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۳٦ | ٪۰.۳٦ |
| کانونه | ٪۰.۰۸ | ٪۱.٤۸ | ٪۰.۵۲ | ٪۰.٤۸ | ٪۰.۵۲ | ٪۰.۵۱ |
| نورې بېخبنسټیزې پروژې | ٪۱.۸۱ | ٪۲.٤٤ | ٪۲.٤٤ | ٪۳.٤٦ | ٪۳.۲۸ | ٪۵.۲٦ |
| تولیدات او صنعت | | | | | | |
| د فلزونو، لرګیو، پلاستیک، ربړ، څرمنو او کاغذونو تولیدات او توکي | ٪۲.٤۷۷ | ٪٤.٤۲۳ | ٪۳.٤٦۹ | ٪۲.٦۷۱ | ٪٤.۱۰ | ٪۳.۷۳ |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | ٪٤.۱۸۷ | ٪٤.۲۳۹ | ٪۳.۷٤۳ | ٪۳.۱٦٤ | ٪۳.٦۷ | ٪۳.۹٤ |
| سمنټ او ودانیز مواد | ٪۲.۸٦٤ | ٪۱.۹٦۲ | ٪۱.۲۷٤ | ٪۳.۵۲۰ | ٪٤.٤۲ | ٪۳.۵۷ |
| سوداګري | | | | | | |
| منسوجات (نساجي) | ٪۲.۵۹ | ٪۰.۵۲ | ٪۰.۷۲ | ٪۱.۵٤ | ٪۲.۲۱ | ٪۲.۱۵ |
| عمده پلورنه | ٪٤.۹۳ | ٪۹.۸۹ | ٪٤.۳٤ | ٪٤.٦۷ | ٪۳.٦۲ | ٪۳.٤۰ |
| ماشینونه | ٪۰.۱۲ | ٪۰.۲۵ | ٪۰.۱۳ | ٪۰.۰۹ | ٪۰.٤۱ | ٪۰.٤۸ |
| پترولیم او روغنیات | ٪۸.۷٤ | ٪۹.۸۰ | ٪۱۱.۰۸ | ٪۱۰.۷۸ | ٪۱۱.٤۸ | ٪۱۳.۰۷ |
| پرزه جات | ٪۰.۲٤ | ٪۱.٤۲ | ٪۰.۲٦ | ٪۱.۳۹ | ٪۱.۷۸ | ٪۱.۸۱ |
| برېښنایي وسایل | ٪۱.٤۰ | ٪۱.۵۸ | ٪۱.۹۱ | ٪۲.۷٦ | ٪۳.۲۱ | ٪۳.۰۲ |
| سمنټ اور نور ودانیز مواد | ٪۱.۸۷ | ٪۲.۷۳ | ٪۲.۳۵ | ٪۲.۵۷ | ٪۵.۱٤ | ٪۳.۰۷ |
| خوراکي توکي | ٪٤.۵۲ | ٪۸.۲٤ | ٪۷.۸۰ | ٪۷.۲۷ | ٪٦.٤٤ | ٪٦.۰۰ |
| نور ټول توکي | ٪۵.۷۲ | ٪۳.٤۷ | ٪٤.۱۷ | ٪۳.۲۸ | ٪۷.۹۲ | ٪۸.۱۵ |
| پرچونه سوداګري | ٪۳.۹۲ | ٪۳.۲۸ | ٪۷.۳۱ | ٪۸.۱۵ | ٪۳.۱۳ | ٪۲.۸۰ |
| خدمتونه | | | | | | |
| زده کړه | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۰۳ | ٪۰.۰٤ |
| هوټلونه او ریسټورانټونه | ٪۱.۲۰ | ٪۱.٤٦ | ٪۱.۳۳ | ٪۲.۰٤ | ٪۲.۱٦ | ٪۲.۵۷ |
| مخابرات | ٪۲.۹۲ | ٪۵.۷۰ | ٪۵.۹٦ | ٪۵.۵۲ | ٪۵.۹۸ | ٪٦.٤٤ |
| ځمکنی ټرانسپورټ | ٪٤.۸۷ | ٪۵.۳۱ | ٪٤.۸٦ | ٪۱.۸٦ | ٪۳.۰۸ | ٪۳.۵۲ |
| هوایي ټرانسپورټ | ٪٤.۱۸ | ٪۲.٦٦ | ٪۲.۳۵ | ٪۲.۹۰ | ٪۱.۲۱ | ٪۱.۱۹ |
| روغتیا | ٪۰.۷۱ | ٪۱.۱٦ | ٪۱.٤۲ | ٪۱.۷۳ | ٪۱.۷٤ | ٪۱.۳۳ |
| رسنی، اعلانونه او چاپ | ٪۰.۰٤ | ٪۰.۰٤ | ٪۰.۰۵ | ٪۱.۱۸ | ٪۱.۲۸ | ٪۱.۲۰ |
| نور ټول خدمتونه | ٪٦.۱۹ | ٪۱۱.۳٦ | ٪۱۳.۲۲ | ٪۱۲.۲٦ | ٪۵.۰۷ | ٪٤.۵۳ |
| څاروي او فارمونه | | | | | | |
| څاروي او کرنه | ٪۰.۰٤۳ | ٪۰.۰۲٦ | ٪۰.۰۵۹ | ٪۰.۲۲۵ | ٪۰.۳۰ | ٪۰.٦۸ |
| کرنیز پورونه | ٪۲.٦۱ | ٪۲.٦۷ | ٪۳.۲۰ | ٪۳.۹٤ | ٪۳.۸٦ | ٪۳.۹۵ |
| مصرفي پورونه | ٪۰.۲٦ | ٪۰.۳۰ | ٪۰.٦۵ | ٪۰.۸٦ | ٪۱.۹۰ | ٪۲.۱۳ |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | ٪۷.۱٤ | ٪۲.٦۸ | ٪۲.۷۸ | ٪۰.۷۱ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۰۰ |
| نور ټول پورونه | ٪٦.٦۸ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.٤۳ | ٪۰.۵۷ | ٪۰.۰۰ | ٪۰.۰۰ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۴. تحت نظر مسوولین سکتورهای مشخص تجدید نظر و ترتیب گردیده است.

| ډله بندي | ۲۰۱۹ مارچ | د ټولو ناخالصو پورونو سلنه |
|---|---|---|
| منځني پورونه | ۱،۳۱۰ | ۳.۱۲ |
| کوچني پورونه | ۱،۱۰۵ | ۲۴.۵۸ |
| تر ټولو کوچني پورونه | ۴،۸۷۲ | ۱۳.۰۱ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۶ د پورونو ډله بندي

### ۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه۵

بانکونه باید د خپل اعتباري خطر مدیریتي تدبیرونه پیاوړي کړي څو د صعب الحصول پورونو لوړه کچه چې مطلوبه نه ګڼل کیږي، راکمه کړي. سربېره پر دې، داسې انګیرل کیږي هغه بانکونه چې د پور ورکولو په برخه کې کمزوره کړنې لري، د خطر مدیریت یې بې اغیزې دی. پکاره ده چې د پور په برخه کې لږ کیفیت لرونکي بانکونه د پور لپاره غوښتلیکونه په کره توګه وارزوي، له ټولو نافذه قوانینو، مقررو، متحدالمالونو، داخلي پالیسیو او کړنلارو سره سم عمل وکړي او د پور اخیستونکو مالي وضعیت له نږدې وڅاري څو ډاډمن شي چې د نورو پورونو ورکړه د مالي نظام د ثبات لپاره کوم خطر نه متوجه کوي.


د پولي ارزښت له پلوه، د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې د بانکي نظام په ټولیزه ناخالصه پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه ۴.۵۷ میلیارده افغانۍ یا ۱۰.۹۱ سلنې ته رسیږي چې د بانکي نظام د مقرراتي پانګې د تیرې ربعې د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۳.۷۲ میلیارده افغانیو یا ۸.۹۹ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۸۵۲ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او ۱۵.۰۲ سلنه جوړوي چې د پولي ارزښت له پلوه او د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلنه کې لږ څه ټیټوالی ښکاره کوي. له ۱۰.۹۱ سلنه صعب الحصول پورونو څخه ۸.۲۴ سلنه یې په دوو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ۳۶.۵۸ سلنه او د مقرراتي پانګې په سلو کې ۱۰.۷۲ جوړوي.

د صعب الحصول پورونو سکتوري شننه ښکاره کوي چې د دې پورونو عمده برخه د سوداګرۍ په سکتور پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۳۰.۷۳ سلنه جوړوي چې تر ټولو ډیره برخه (۱۰.۳۸ سلنه) یې په بریښنایي وسایلو پورې اړه لري. د خدمتونو سکتور د صعب الحصول پورونو د ۲۲.۹۵ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویم ځای کې راځي چې ډیره برخه (۱۲.۶۲ سلنه) یې په ځمکني ترانسپورت پورې اړه لري. د رغونې او ودانیو سکتور د بانکي نظام په ټولیزه صعب الحصول پورونو کې د ۱۶.۸۵ سلنې ونډې په درلودلو سره په دریم ځای کې راځي، حال دا چې د بېخبنسټیزو پروژو او تولید او صنعت په سکتورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه ۱۵.۵۸ او ۱۲.۱۲ سلنې ته رسیږي چې زیاته برخه یې په ترتیب سره په سیمنټو او رغنیزو موادو (۷.۰۴ سلنه) او سرکونو او د ریل پټلۍ (۸.۸۴ سلنه) پورې اړه لري.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت له هغو بانکونو سره له نږدې کار کوي چې د پور کمزورې کړنې لري، څو د خپلو شتمنیو د کیفیت د ښه والي لپاره پلانونه طرحه او تطبیق کړي. دا وضعیت مقرراتي څارنې او چټکو اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري څو د دغو کمزورو بانکونو د ګټورتیا او د پانګې پر کفایت باندې د منفي اغیزو د مخنیوي لپاره د اعتباري خطر مدیریت پیاوړی کړي.

۵. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنی او مخکې ورکړې چې اصلي یا ګټټانې مبلغ یې د ۳۱ تر ۶۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.

**۳.۶ ګراف: د پور د پورټوفولیو کیفیت، ۱۳۹۷ لیندۍ او ۱۳۹۷ کب**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه**

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)۶ پورونه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د ۲۶۰ میلیونه افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۶.۴۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۴.۲۹ سلنه او د مقرراتي پانګې ۲۱.۰۵ سلنه جوړوي چې د پور د کیفیت ټیټوالی یې اصلي لامل دی او له همدې امله د عامل پلاوي لخوا پیاوړې څارنې او اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري، څو د معکوسو ډله بندي شویو پورونو کچه مطلوب حد ته راښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کیفیت یې ټیټ دی، د ګڼې اداري د پیاوړي کولو، د داخلي ابزارونو د اغېزناکتیا زیاتولو او د داخلي او غیر سیستماتیک خطر پر ښه مدیریت باندې ټینګار وشي. د بانک مدیریت باید مناسبه تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي، څو په هغو مسایلو او کمزورتیاوو باندې غور وکړي چې د احتیاطي مقررو له مخې د پور د کمیدو لامل کیږي.

که څه هم سیستماتیک خطر او اقتصادي رکود کولای شي چې د بانکونو د مهمو شتمنیو په ځانګړې توګه د پورونو د کیفیت د کمزورتیا او کمیدو لامل شي، خود بانک عامل پلاوی باید داسې میکانیزمونه طرحه کړي چې د دا شان خطرونو وړاند وینه، د بالقوه خطرونو مخنیوی وکړي او د احتیاطي مقررو له مخې مناسبه احتیاطي تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي.

**۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه**

تر نظر لاندې کټګورۍ ۷ کې ډله بندي شوي پورونه ۶.۲۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۱۴.۸۹ جوړوي او له تیرې ربعې راهیسې ۳۶.۲۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام په یوه بانک پورې تړاو لري. د پورونو دا کټګوري دقیقې څارنې او څېړنې ته اړتیا لري، ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوسه ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې د زیان په کټګورۍ کې وشمېرل شي.

**۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه(۸)**

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۸.۶۸ میلیونه افغانۍ یا ۰.۰۲ سلنه جوړوي او د بانکي نظام په دوو بانکونو پورې تړاو لري.

**۲.۱.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات**

د بانکونو تر منځ ناخالصه طلبات د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري. اوس مهال د بانکونو ترمنځ

۶. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنی او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۶۱ تر ۱۲۰ ورځو پورې (تحت المعیار) ناتصفیه (ناترلاسه) شوې پاتې وي. پاتې راغلي شتمنی او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۱۲۱ تر ۴۸۰ ورځو (مشکوکه) ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي. پاتې راغلي شتمنی چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۴۸۱ ورځو څخه زیات وي، په خساره کټګورۍ کې پاتې کیږي.


۷. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنی او مخکې ورکړې چې اصلي یا ټکټانې مبلغ یې د ۳۱ تر ۶۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.

۸. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ چې د اصلي یا ټکټانې مبلغ اداینه یې۴۸۰ او یا ډیرو ورځو لپاره نا ادا شوې پاتې وي او د بانکونو د ثبت په کتابونو کې د یوه کال لپاره پاتې شي، له یو کال تیریدو وروسته تصفیه کیږي.

طلبات د بانکي نظام د ټولیزه شتمنو ۸۹.۸۳ میلیارده افغانۍ یا ۲۹.۹۸ سلنه جوړوي. د بانکونو ترمنځ ناخالصه طلبات د تیرې ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴.۹۵ میلیارده افغانۍ یا ۵.۲۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی په څلورو بانکونو پورې اړه لري. دا بهیر ښکاره کوي چې بانکي نظام په بانکونو باندې د طلباتو یوه برخه د پورونو او د پور د پاڼو د پانګونې په توګه د ټکټانې څخه ترلاسه شویو شتمنیو ته لیږدولې ده.

له بلې خوا، د بانکونو ترمنځ د طلباتو په کمیدو سره بانکونه نه باید یوازې د یو انفرادي بانک اړوند خطرونه وارزوي، بلکې په کوم هېواد یا هېوادونو کې چې د دوي مالي وجوه ایښې وي، هم وڅاري. د لا وضاحت لپاره ۶.۴ جدول ته مراجعه وکړئ.

۴.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د طلباتو ونډه، ۱۳۹۷ لینډۍ او ۱۳۹۷ کب




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت

### ۳.۱.۶ پانګه اچونه

د بانکي نظام د خالصې پانګې ۹ پورتوفولیو، په اړوندو کمپنیو کې پور پاڼې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه اچونه رانغاړي. د بانکي نظام د پانګې کچه د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د ډیسمبر له میاشتې راهیسې ۷.۱۱ سلنه یا ۱.۷۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې د ټولیزه شتمنیو ۲۶.۷۲ میلیارده افغانۍ یا ۸.۹۲ سلنه جوړوي او دا کموالی په دریو بانکونو پورې اړه لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواده بهر ترسره شوې ده. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا زیاتوالی په دوو دولتي بانکونو، پنځو سوداګریزو بانکونو او د دوو بهرنیو بانکونو نمایندګیو پورې تړاو لري.

### ۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۰.۹۲ سلنه جوړوي او تیرې ربعې راپدېخوا د ټولیزې شتمنی په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۹.۴۱ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي او ارزښت یې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۱۲۲.۶۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د دې کموالي اصلي لامل د پانګه ایزو پاڼو، په خزانه کې نغدو پیسو او د افغانستان بانک سره د اړوندو حسابونو کموالی ګڼل کیږي. بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقررو سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو په نورو ډولونو کې ځای پر ځای کوي.


### ۲.۶ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې د ۲۰۱۸ کال په ډیسمبر میاشت کې ۲۶۵.۲۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۲۸۱.۳۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۶.۰۶ میلیونه افغانۍ یا ۵.۷۱ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د ټولیزه پوراینو د بېلابېلو برخو له ډلې څخه ټولیزه امانتونو لږ څه کموالی کړی دی. د پوراینو تر ټولو ډېره برخه امانتونه (۹۷.۱۷ سلنه) جوړوي چې نورې پوراینې په دویم او پور اخیستنې په دریم ځای کې راځي. د لا زیاتو

۹. په پانګو اچونو کې په پور پاڼې، په اړوندو شرکتونو او په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې شاملې دي.

معلوماتو لپاره ۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

**۵.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د پورواینو ونډه، ۱۳۹۷ لیندۍ او ۱۳۹۷ کب**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت ، د افغانستان بانک

### ۱.۲.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه ګڼل کیږي د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۵۷.۷۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې شمېرو په پرتله ۱۵.۲۶ میلیارده افغانۍ یا ۵.۶۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ټولیزه امانتونه ۵.۴۱ میلیارده، د بانکونو ترمنځ امانتونه او ۲۵۲.۳۵ میلیارده د مشتریانو امانتونه رانغاړي. د بانکي نظام په امانتونو کې د کمیدو اصلي لامل د مشتریانو جاري امانتونه ګڼل کیږي. همدا ډول د ارزونې لاندې ربعه کې د بانکونو ترمنځ د امانتونو په کچه کې کموالی ثبت شوی دی.


په ورته وخت کې د بانکونو ترمنځ امانتونه د تیرې ربعې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د اسعارو شننه ښکاره کوي چې په افغانۍ اېښودل شوي امانتونه د ۷.۹۷ سلنې کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۲۸.۷۲ سلنه جوړوي، حال دا چې په امریکايي ډالرو اېښودل شوي امانتونه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د ۴.۷۸ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره ۶۴.۶۰ سلنې ته رسیږي چې ستر لامل یې له جاري حسابونو څخه د پیسو ویستل په ګوته شوی دی.

د خصوصي بانکونو ټولیزه امانتونه د ۷.۵۴ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۱۷۳.۸۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۷.۴۶ سلنه جوړوي. د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه ۷۱.۳۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د وروستۍ ربعې په پرتله ۱.۰۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۲۷.۶۹ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۱۲.۴۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله د ۱۴.۴۵ سلنه کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۴.۸۵ سلنه جوړوي.


د امانتونو د ډولونو له پلوه، د ۱۳۹۷ مالي کال د وروستۍ ربعې راهیسې جاري امانتونه د ۸.۵۷ سلنه کموالي په درلودلو سره د ټولیزه امانتونو ۷۲.۱۳ سلنه، ورپسې موده ایز امانتونه د ۹.۴۵ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه ۸.۳۰ سلنه جوړوي او په دویم ځای کې راځي، حال دا چې د بانکي نظام د سپما امانتونه د ۰.۰۴ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه امانتونو د پورټوفولیو ۱۹.۵۷ سلنه جوړوي.

**۶.۶ ګراف: په افغانۍ اېښودل شوي امانتونه، د ۱۳۹۷ لیندۍ او د ۱۳۹۷ کب**





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۷.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب، ۱۳۹۷ لیندۍ او ۱۳۹۷ کب**





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۸.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ امانتونه، ۱۳۹۷ لیندۍ او ۱۳۹۷ کب**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي، ۱۳۹۷ لیندۍ او ۱۳۹۷ کب**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

## ۲.۲.۶ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۵.۲۳ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۲.۹۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پوراینو ۱.۱۰ سلنه جوړوي. د یادونې وړ ده چې د پور اخیستنې اوسنی حالت د بانکي نظام په درېو بانکونه پورې اړه لري.

## ۴.۶ نقدینه ګۍ (سیالیت)

د نقدینه ګۍ خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدینه ګۍ څخه د رامنځته شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، بانکونه باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګۍ، د حساسیت د ازمایښت، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او د داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

**۴.۶ جدول: د نقدینه ګۍ نسبتونه**

| نسبتونه (په سلنه) | د ۲۰۱۴ ډیسمبر | د ۲۰۱۵ ډیسمبر | د ۲۰۱۶ ډیسمبر | د ۲۰۱۷ ډیسمبر | د ۲۰۱۸ ډیسمبر | د ۲۰۱۹ مارچ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | ۲۶.٤٦ | ۱۹.۹٤ | ۲۷.٦۸ | ۲۹.۸۱ | ۲٥.۹۱ | ۲۷.۰٥ |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | ۲٦.۰۹ | ۱۹.٦٦ | ۲۲.۹۳ | ۲۸.۱۷ | ۲٤.٥٦ | ۲۷.٥۳ |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | ۸.۰۹ | ۱۲.۳٤ | ۱۲.٦۷ | ۱۲.٤۲ | ۸.۹۹ | ۱۰.۹۱ |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | ۰.۹۰ | ۰.۲۰ | ۰.۱۱ | ۰.٦٤ | ۰.۸۱ | ۰.۱۲ |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | ۷.۳٥ | ۱.٦۹ | ۱.۰۸ | ۳.۳۸ | ٦.۹۱ | ۱.۰۷ |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منحنی کچه ) | ۷۳.٦ | ٦۸.۲۲ | ٦۷.۷٤ | ٦٥.۹۲ | ۷٦.٦۲ | ۷٦.٥٥ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنۍ ونډه | ۷۳.۲۸ | ۷٥.۰٥ | ۷۱.۹۸ | ۷۳.۹٥ | ۷۲.۸۸ | ۷۰.۹۰ |
| اصلاح شوې | | | | | | |

**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۱.۳.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)**

بانکونه اړ دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

د بانکي سکتور د نقدینه ګی کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته شوې ده چې د ټولیزه شتمنیو ۷۰.۹۰ سلنه سیالې شتمنی جوړوي. په منځني ډول د ټول بانکي نظام د سیالیت کچه ۷۶.۵۵ سلنې ته رسیږي. حال دا چې د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. ( د زیاتو معلوماتو لپاره د ۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

**۴.۶ پانګه**

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۴.۳۷ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۰.۱۷ سلنه یا ۵۹ میلیونه افغانی کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د مالي پانګې د کموالي عمده لامل د ونډو ورکړه او د ګټورتیا کموالی ګڼل کیږي.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۷.۰۵ سلنې ته رسیږي. ( د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۵.۶ ګراف وګورئ).

جلا شننه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مالي پانګې حد لوړ ټاکل شوی دی، حال دا چې له یوه بانک پرته د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې حد هم لوړ ټاکل شوی دی. همدا ډول د بانکونو د پانګې د کفایت نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي حد (د خطر په اساس د عیار شوې شتمنی په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنی لپاره په سلو کې ۸ دی.

**۵.۶ ګټورتیا (نافعیت)**

بانکي نظام د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوړدو کې په ټولیزه توګه ۱۱۳ میلیونه افغانی خالصه ګټه کړې چې د تیرې ربعې د ۱.۴۴ میلیارده افغانی خالصې ګټې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د یادولو وړ ده چې تیرې ربعې د خالصې ګټې عمده برخه د غیر ټکټاني عوایدو څخه ترلاسه شوې ګټه او همدارنګه د خالصې ټکټانې کموالی او د ځانګړو شویو پورونو زیاتوالی ګڼل کیږي. حال دا چې، په یاده ربعه کې عملیاتي او مالیاتي لګښتونه راکم شوي دي (د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) دا په ګوته کوي چې یو بانک د ښه مدیریت په پایله کې له هرې شتمنۍ څخه څومره ګټه تر لاسه کړې ده. د بانکي نظام له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه په کلني ډول ۰.۱۲ سلنې ته رسیږي، حال دا چې له پانګې څخه تر لاسه شوې ګټه چې په بانک کې د پانګه اچول شوې اکویټۍ د ونډه لرونکو ونډه په ګوته کوي، د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۱.۰۷ سلنه ثبت شوې ده. همدا ډول په دې ربعه کې د دولتي بانکونوله شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۸۹ سلنه، د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو (له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۰۹ سلنه، حال دا چې د خصوصي بانکونو له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه منفي ۰.۱۹ سلنه ثبت شوې ده.

**۵.۶ جدول: د ګټې/ زیان جدول**

| توکي | ۱۳۹۷ لیندۍ (د ۲۰۱۸ ډیسمبر) | ۱۳۹۷ کب (د ۲۰۱۹ مارچ) | د بدلونونه سلنه |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | ۲,۰۳۸.۱۸ | ۱,۸۲۳.۸۱ | -۱۰.۵۱ |
| د ټکټاني لګښت | ۲۹۱.۸۶ | ۲۷۸.۸۹ | - ٤.٤٤ |
| د ټکټاني خالص عاید | ۱,۷٤٦.۳۲ | ۱,٥٤٤.۹۲ | -۱۱.۵۳ |
| د غیر ټکټاني عاید | ۳,۰۵۱.٤۳ | ۱,۷۱٦.۰۲ | -٤۳.۷٦ |
| د غیر ټکټاني لګښتونه | ۱,٦۲۲.۱۰ | ۱,٤۳۹.٦۲ | -۱۱.۲٤ |
| د معاش لګښت | ۱,۱۷٦.٦۹ | ۱,۰٦۲.٦۰ | -۹.٦۹ |
| د پور تخصیص | ۱۷۷.۲۹ | ۳٦۲.۹۳ | ۱۰٤.۷۱ |
| د مالیې مخکې ګټه/زیان | ۱,۸۲۱.٦۷ | ۳۹۵.۷۹ | -۷۸.۲۷ |
| د مالیې وروسته ګټه/ زیان | ۱,٤٤٥.۰۱ | ۱۱۳.۰۹ | -۹۲.۱۷ |


سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

په ټوليزه توګه د بانکي نظام پنځو بانکونو د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۲۳۱ ميليونه افغانۍ خالص زيان کړی، حال دا چې په تيره ربعه کې پنځو بانکونو ۲۲۳ ميلياره افغانۍ زيان ثبت کړی ؤ. د اصلي عايد پر بنسټ، اوو بانکونو د ارزونې لاندې موده له زيان سره پای ته رسولې، حال دا چې د ۲۰۱۸ کال په ډيسمبر(څلورمه ربعه ) کې اووه بانکونه په زيان کې ؤ.

د بانکي نظام د ډلبندۍ پر بنسټ شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونو او د بهرنيو بانکونو نمايندګيو د ارزونې لاندې موده له ګټې سره پای ته رسولې ده، حال دا چې خصوصي بانکونو په دې موده کې زيان کړی دی. (د زياتو معلوماتو لپاره ۱۰.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).


د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د بانکی نظام د ګټورتيا تر ټولو ستره برخه دولتي بانکونو جوړوله چې ۱۸۸ ميليونه افغانۍ او د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ګټه ۲۲ ميليونو افغانيو ته رسيږي، حال دا چې خصوصي بانکونو د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۹۷ ميليونه افغانۍ زيان کړی دی.

**۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتيا، ۱۳۹۷ لينډۍ او ۱۳۹۷ کب**





سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

**۱۱.۶ ګراف: له پانګې تر لاسه شوې ګټه او له شتمنيو ترلاسه شوې ګټه**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

**۱۲.۶ ګراف: نهايي خالصه ټکټانه**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

**۶.۶ د اسعارو خطر**

د اسعارو پرانيستي عمومي وضعيت د خطر کچه تر ډېره حده پورې د بانکونو لخوا په هغه محدوده کې په پام کې نيول شوې چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټوليزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانيستي وضعيت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې دی، پرته له دريو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانيستي عمومي وضعيت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعيت (د امريکايي ډالرو اوږد مهاله وضعيت) له ټاکل شويو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

دا بانکونه بايد خپل اسعاري وضعيت په ټاکلي محدوده کې عيار کړي، که نه نو د امريکايي ډالرو د ارزښت کموالی د بانکونو د لا زيان لامل کېدای شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ

کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۱.۶۷ میلیارده افغانۍ ډیریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۳۳۵ میلیونو افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې بر عکس بدلون راوستلی شي.

**۷.۶ د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ شاک) له امله ۱.۰۰ میلیارد افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۰۰ میلیارد افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د پنځو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به دراتلونکو ۱۲ میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، خو په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**۸.۶ د اسلامي بانکدارۍ کړنې**

د اسلامي بانکدارۍ له یوه بانک او شپږ دریڅو څخه جوړ دی چې د ټول بانکي نظام په شتمنیو کې ۴.۹۵ سلنه، په نا خالصو پورونو کې ۲.۲۱ سلنه او په امانتونو کې ۴.۹۹ سلنه ونډه لري.

- د اسلامي بانکدارۍ د نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۳۱.۳۳ میلیارده افغانۍ (۴۱۵.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۳۴.۵۳ میلیارده افغانیو په پرتله ۹.۲۷ سلنه یا ۳.۲۰ میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ د نظام د شتمنیو د کموالي اصلي لامل د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د دې نظام په جاري امانتونو کې ۳.۹ میلیارده افغانۍ کموالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې د دې ټیټوالي؛ ۲.۴۱ میلیارده افغانۍ (۱۶ سلنه) په خزانه کې نغدو پیسو او پر د افغانستان بانک باندې طلباتو، ۷۴۱.۵۵ میلیونه افغانۍ (۱۳ سلنه) پر مالي ادارو باندې طلباتو، ۲۷۷.۹۸ میلیونه افغانۍ (۴ سلنه) د خالصې مرابحې په مالي تمویل او ۴۸۵.۹۵ میلیونه افغانۍ په نورو خالصو شتمنیو کې راغلی دی. همدا ډول د خالصې مرابحې په مالي تمویل کې د ټیټوالي اصلي لامل د ربعې په تیریدو سره د ۳۴۹.۲۲ میلیونه افغانۍ په ارزښت د زیانونو جبرانول په ګوته شوی دی.
- ټولیزه امانتونه چې د اسلامي بانکدارۍ بنسټیزه تمویلي سرچینه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۲۵.۸۳ میلیارده افغانۍ (۳۴۲.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي او د دې برخې د ټولیزه پورونو په سلو کې ۹۴ جوړوي چې د تیرې ربعې په پرتله ۱۰.۶۶ سلنه (۳.۰۸) میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ په ټولیزه امانتونو کې د کمېدو اصلي لامل د ۳.۹ میلیارده افغانۍ په ارزښت د جاري امانتونو کموالی دی. په ورته وخت کې د اسلامي بانکدارۍ موده ایز او د سپما امانتونه په ترتیب سره ۴۹۸.۲۰ او ۳۱۸.۳۳ میلیونه افغانۍ زیات شوي دي.
- د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه پانګه چې د ونډه لرونکو ونډې، د تیر مالي کال پاتې شوې ګټې/زیانونه، نور
- عمده عواید او د روان مالي کال ګټې/ زیانونه رانغاړي، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۳.۸۳ میلیارده افغانۍ ( ۵۰.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۵.۳۲ سلنه (۲۱۵.۵۴) میلیونه افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. د ټولیزې پانګې د ټیټوالي اصلي لامل د ارزونې لاندې موده کې زیان ګڼل کیږي چې په ټولیزه توګه ۲۱۵.۵۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې په تیره ربعه

کې یې ۷۸۸.۴۱ میلیونه افغانۍ ګټه کړې ده.

- د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې په کلني ډول له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه منفي ۵.۲۱ سلنې او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه منفي ۲۶.۰۶ سلنې ته رسیږي چې د تېرې ربعې د منفي ۴.۸۶ او منفي ۲۳.۸۳ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. له شتمنیو او پانګې څخه د ترلاسه شویو ګټو د کموالي اصلي لامل د تیرې ربعې په پرتله د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د پور په تخصیص کې ۱۸۱.۵۶ میلیونه افغانۍ زیاتوالی او په نورو عوایدو کې ۴۶.۲۸ میلیونه کموالی دی. په کلني توګه د اسلامي بانکدارۍ د شپږو دریځو له ډلې یوه دریځه او یو بشپړ اسلامي بانک د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه له ګټې سره پای ته رسولې، حال دا چې د اسلامي بانکدارۍ پنځو دریځو په یاده موده کې زیان کړی دی.

### ۱.۸.۶ د اسلامي بانکدارۍ د برخې شتمنۍ

د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه شتمنۍ د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۳۱.۳۳ میلیارده افغانۍ (۴۱۵.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۹.۲۷ سلنه یا ۳.۲۰ میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ د ټولیزه شتمنیو د کمیدو اصلي لامل د مشتریانو په جاري امانتونو کې ۳.۹ میلیارده افغانۍ کموالی په ګوته شوی دی (د لا ډیرو معلوماتو لپاره ۶.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

د ټولیزه شتمنیو ډله بندي ښکاره کوي چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په خزانه کې نغدو پیسو او په د افغانستان بانک باندې طلباتو، د بانکونو ترمنځ طلباتو او همدا ډول نورو شتمنیو په ترتیب سره ۲.۴۱ میلیارده افغانۍ (۱۶ سلنه)، ۷۴۱.۵۵ میلیونه افغانۍ (۱۳ سلنه) او ۴۸۶ میلیونه افغانۍ (۱۹ سلنه) د پام وړ کموالی ثبت کړی، حال دا چې د بیه لرونکو پاڼو (صکوکو) د پانګونې حساب د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۶۸۲ میلیونه افغانۍ (۱۴ سلنه) زیات شوی دی. د اسلامي بانکدارۍ د ټولیزه شتمنۍ د پورتوفولیو بنسټیزې برخې په خزانه کې نغدې پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۰ سلنه)، د بانکونو ترمنځ معاملې (۱۶ سلنه)، خالصه مالي تمویل او پانګونه (۳۶ سلنه) او نورې شتمنۍ (۷ سلنه) جوړوي.

**۶.۶ جدول: د اسلامي بانکدارۍ نظام ټولیزه شتمنۍ او پورونه**

| مقدار په میلیون افغانۍ | ۱۳۹۷ لیندۍ<br>۲۰۱۸ ډیسمبر | ۱۳۹۷ کب<br>۲۰۱۹ مارچ | د ټولیزه شتمنیو/پورونو سلنه | ربعوار وده |
|---|---|---|---|---|
| شتمنۍ | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او پر د افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۴,۸۱۳ | ۱۲,۴۰۳ | ۴۰٪ | -۱۶٪ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | ۵,۸۸۱.۴۲ | ۵,۱۳۹.۸۷ | ۱۶٪ | -۱۳٪ |
| نګه (خالص) مالي تمویل او پانګونه | ۱۰,۵۷۲.۲۷ | ۱۱,۰۲۶.۰۴ | ۳۶٪ | ۱۰٪ |
| نورې شتمنۍ | ۲,۶۱۰.۰۲ | ۲,۱۲۴.۰۶ | ۷٪ | -۱۹٪ |
| ثابتې او ناملموسې شتمنۍ | ۶۶۲.۸۱۱ | ۶۴۵.۴۱۸ | ۱.۹٪ | -۵٪ |
| ټولیزه شتمنۍ | ۳۴,۵۳۹.۶۰ | ۳۱,۳۳۸.۲۳ | | - ۹.۲۷٪ |
| پورونه | | | | |
| امانتونه | ۲۸,۹۱۳.۰۸ | ۲۵,۸۳۲.۰۳ | ۹۴٪ | - ۱۰.۶۶٪ |
| نورې پورونه | ۱,۵۷۱.۲۴ | ۱,۷۶۲.۹۲ | ۲۱٪ | ۶٪ |
| ټولیزه پورونه | ۳۰,۴۸۴.۳۲ | ۲۷,۴۹۸.۵۰ | | -۱۰٪ |
| مالي پانګه | ۴,۰۵۵.۲۶ | ۳,۸۳۹.۷۲ | | - ۵.۳۲٪ |
| ټولیزه پورونه + پانګه | ۳۴,۵۳۹.۶۰ | ۳۱,۳۳۸.۲۳ | | ۹.۲۷٪ |

سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۱.۸.۶ نګه (خالصه) مالي تمویل او پانګونه

د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه خالصه مالي تمویل او پانګونه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۱.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۴۵۴ میلیونه افغانۍ (۱۰ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي او د دې سکتور د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۳۶ جوړوي. د ټولیزه خالصه تمویل او د پانګونې په پورتوفولیو کې د زیاتوالي اصلي لامل په بیه لرونکو پاڼو (صکوکو) کې د پانګونې ۶۷۴.۹۳ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې، په زیرمو کې د زیانونو له امله د خالصه تمویل په مرابحه کې ۲۲۸ میلیونه افغانۍ زیاتوالی راغلی دی.


د دې سکتور د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ډله بندي د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ۶.۱۷ میلیارده افغانیو په ارزښت د ترلاسه کیدو وړ مرابحه چې ۲ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي او د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۵۳.۴۴ سلنه جوړوي، ټیټیدونکی مشارکت (۱۲۴.۱۰ میلیارده افغانۍ یا ۱.۰۴ سلنه)، د دوامداره مشارکت مالي تمویل (۵۰.۵۰ میلیونه)، د ۲.۱۱ میلیارده افغانیو په ارزښت د صکوکو پانګونه چې ۶۷۴.۹۳ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي او د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۱۸ سلنه جوړوي، د ۱.۹۵ میلیارده افغانیو په ارزښت د اجارې لپاره ترلاسه شوې شتمنۍ چې د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۱۶.۵۶ سلنه جوړوي او د ۱.۱۵ میلیارده افغانیو په ارزښت نورې پانګونې چې د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۱۰.۶۲ سلنه جوړوي، رانغاړي.

**۷.۶ جدول: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکدارۍ مالي تمویل او پانګونه (ناخالصه)**

| شمیره | محصول | ارقام په میلیون افغانی | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۲۰۱۸ ډیسمبر | ۲۰۱۹ مارچ | د مبلغ توپیر | د توپیر سلنه | د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې په توګه د محصولاتو سلنه |
| ۱ | د ترلاسه کیدو وړ مرابحه | ۶,۱۹۸.۴۸ | ۶,۳۱۹.۷۲ | ۱۲۱.۲۴۵ | ۲٪ | ۵۳.۴۴٪ |
| ۲ | ټیټیدونکی مشارکت | ۱۲۵.۵۱ | ۱۲۴.۱۰۳ | ۱.۴۰۵ | -۱٪ | ۱٪ |
| ۳ | د دوامداره مشارکه مالي تمویل | ۵۱.۰۷۶ | ۵۰.۵۰۳ | ۰.۵۷ | -۱٪ | ۰.۴۲٪ |
| ۴ | د پانګونې بیه لرونکې پاڼې (صکوک) | ۱,۴۳۹.۸۴ | ۲,۱۱۴.۷۷ | ۶۷۴.۹۳ | ۴۷٪ | ۱۸٪ |
| ۵ | د اجارې لپاره ترلاسه شوې شتمنۍ | ۱,۹۶۵.۲۴ | ۱,۹۵۸.۷۸ | -۶.۴۵ | -۰.۳۳٪ | ۱۷٪ |
| ۶ | نورې پانګونې | ۱,۲۴۱.۰۵ | ۱,۲۵۶.۳۰ | ۱۵.۲۴ | ۱٪ | ۶۲.۱۰٪ |
| ټولیزه | | **۱۱,۰۲۱.۲۰** | **۱۱,۸۲٤.۱۹** | **۸۰۲.۹۹** | **۱٦٪** | **۱۰۰٪** |


سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۳.۶ ګراف: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکدارۍ مالي تمویل او پانګونه د ۲۰۱۸ ډیسمبر او ۲۰۱۹ مارچ ترمنځ پرتله




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۴.۶ ګراف: د ۲۰۱۹ کال د مارچ په میاشت کې د محصول پر بنسټ پانګونه او مالي تمویل




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي بانک د مالي تمویل او پانګونې په پورتوفولیو کې زیاتوالی راغلی دی، په داسې حال کې چې د نوي کابل بانک د اسلامي بانکدارۍ دریڅه د ارزونې لاندې ربعه کې د مالي تمویل او پانګونې په برخه کې کومې کړنې ترسره کړې نه دي.


## ۲.۱.۸.۶ د مالي تمویل او پانګونې د زیان زېرمې

د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مارچ (۱۳۹۷ کب) په پای کې د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه تخصیص شوي مبلغونه ۸۱۳.۲۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې د مالي تمویل په پرتله ۳۵۱.۴۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې سکتور تخصیص شوي مبلغونه د مالي تمویل لپاره ۷۹۸.۱۵ میلیونه افغانۍ او د ترلاسه کیدونکي مبلغ لپاره ۱۵ میلیونه افغانۍ رانغاړي. د مالي تمویل لپاره تخصیص شوی مبلغ د تیرې ربعې د ۷ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د اسلامي بانکدارۍ د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل ۱۳ سلنه جوړوي.

## ۳.۱.۸.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د اسلامي بانکدارۍ د بانکونو ترمنځ طلبات چې د شتمنۍ په کټګوریو کې څلورمه لویه کټګوري ده، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۵.۱۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۷۴۱.۵۵ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي او د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۶.۴۰ جوړوي. د یادونې وړ ده چې په افغانیو د بانکونو ترمنځ طلبات ۵.۸۳ سلنه، په امریکایي ډالرو د بانکونو ترمنځ طلبات ۸۸.۳۴ سلنه او په نورو اسعارو د بانکونو ترمنځ طلبات ۵.۸۱ سلنه راکم شوي دي ( د لا ډیرو معلوماتو لپاره ۱۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

۱۵.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلبات




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

د اسلامي بانکدارۍ د شپږو دریڅو له ډلې دوه دریڅې او یو اسلامي بانک د بانکونو ترمنځ طلبات لري چې ۲.۰۰۹ میلیارده افغانۍ موده ایز امانتونه او ۳.۱۳ میلیارده افغانۍ جاري امانتونه رانغاړي او په

بانکونو کې د توکو د مرابحې او داخلي ليږدونو او د پورونو د معاملو د تصفيې او تسويې په توګه کارول کيږي.

### ۴.۱.۸.۶ په خزانه کې نغدې پيسې او پر د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې نغدې پيسې او پر د افغانستان بانک باندې طلبات د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۱۲.۴۰ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تيرې ربعې په پرتله ۲.۴۱ ميلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي. په خزانه کې نغدې پيسې او پر د افغانستان بانک باندې طلبات د اسلامي بانکدارۍ تر ټولو لويه برخه ده او د ټوليزه شتمنيو په سلو کې ۴۰ جوړوي. د شتمنيو په دې برخه کې په خزانه کې نغدو پيسو ۱.۷۲ ميلیارده او د افغانستان بانک په جاري حساب کې ۷۲۴.۴۸ ميليونه افغانۍ کموالی راغلی دی چې بنسټيز لامل يې د تيرې ربعې په پرتله د دې سکتور په ټوليزه امانتونو کې کموالی ګڼل کيږي. په ټوليزه توګه، په خزانه کې نغدې پيسې او پر افغانستان بانک باندې طلبات ۳.۸۴ ميلیارده په خزانه کې نغدې پيسې، ۶.۲۵ ميلیارده د افغانستان بانک جاري حساب او ۲.۳۰ ميلیارده د افغانستان بانک د الزامي زيرمو حساب جوړوي.

### ۲.۸.۶ پوراينې


د اسلامي بانکدارۍ ټوليزه پوراينې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ۲۴.۴۹ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تيرې ربعې په پرتله ۲.۹۸ ميلیارده افغانۍ (۱۰ سلنه) ټيټوالی ښکاره کوي. د ټوليزه پوراينو د کموالي اصلي لامل د دې سکتور په ټوليزه امانتونو کې ۳.۰۸ ميلیارده افغانۍ کموالی ګڼل کيږي. د يادونې وړ ده چې د اسلامي بانکدارۍ ۹۳.۹۳ سلنه امانتونه او ۴ سلنه نورې پوراينې رانغاړي.

### ۱.۲.۸.۶ امانتونه

امانتونه چې د اسلامي بانکدارۍ بنسټيزه تمويلي سرچينه ده، د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۳۵.۸۳ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تيرې ربعې په پرتله ۳.۰۸ ميلیارده يا ۱۰.۶۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ټوليزه امانتونو کې د تيرې ربعې په پرتله جاري امانتونو ۳.۹۰ ميلیارده افغانۍ کموالی ثبت کړی دی، حال دا چې په موده ايزو امانتونو او د سپما امانتونو کې په ترتيب سره ۴۹۸.۲۰ ميليونه افغانۍ او ۳۱۳.۳۳ ميليونه افغانۍ زياتوالی ثبت شوی دی.

د دې سکتور د مشتريانو ټوليزه امانتونه ۹.۶۳ ميلیارده افغانۍ جاري امانتونه، ۵.۷۶ ميلیارده افغانۍ موده ايز امانتونه او ۹.۶۳ ميلیارده د سپما امانتونه رانغاړي. همدا ډول، جاري امانتونه د دې سکتور په سلو کې ۳۷.۲۸ سلنه، موده ايز امانتونه په سلو کې ۲۵.۳۹ او د سپما امانتونه د دې سکتور په سلو کې ۳۷.۳۱ جوړوي. په ورته وخت کې، ټوليزه امانتونه ۲۵.۰۳ ميلیارده افغانۍ د مشتريانو امانتونه او ۷۹۹.۵۶ ميليونه افغانۍ د بانکونو امانتونه رانغاړي. د يادولو وړ ده چې د بانکونو امانتونه د ټوليزه امانتونو يواځې ۳.۰۹ سلنه جوړوي.

**۱۶.۶ ګراف: د ۲۰۱۹ کال د مارچ د مياشتې پر بنسټ د امانتونو ډله بندي**




سرچينه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو د آمريت، د افغانستان بانک

### ۳.۸.۶ نقدینه ګي (سیالیت)

په عامه توګه د نقدینه ګۍ خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدینه ګۍ څخه د رامنځته شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، اسلامي بانک او د اسلامي بانکدارۍ دریځه باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګۍ، د حساسیت د آزمابښت، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

۸.۶ جدول: د ۲۰۱۹ کال د مارچ د میاشتې په اوږدو کې د اسلامي بانکدارۍ د ټینګښت مهم شاخصونه

| نسبتونه (په سلنه) | د ۲۰۱۸ ډیسمبر | د ۲۰۱۹ مارچ |
|---|---|---|
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنۍ ونډه | ۶۰٪ | ۵۶٪ |
| لنډ مهاله پوراینو کې د سیالو شتمنیو ونډه | ۱۵۳٪ | ۱۸۲٪ |
| په ټولیزه مالي تمویلونو کې پر اسعارو د مالي تمویلونو ونډه | ۶۸٪ | ۶۸٪ |
| په ټولیزه مالي لګښتونو کې پر اسعارو د مالي لګښتونو ونډه | ۷۱٪ | ۷۲٪ |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) | ۱.۸۴ | (۵.۲۱) |
| د پانګه اچوونکو له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه (ROE) | ۱۴.۱۰ | (۲۶.۰۶) |
| سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک | | |

### ۴.۸.۶ پانګه

د اسلامي بانکدارۍ دریځې کافي پانګه نه لري، ځکه چې د اسلامي بانکدارۍ دریځو کې د اکویټۍ جلا پانګه نشته او د ونډه لرونکو د اکویټۍ (هغه پانګه ده چې د سیالې شتمنۍ په بڼه نه ده، خو د پانګونې د شتمنۍ ارزښت دی او د یوه بانک لخوا د اسلامي بانکدارۍ دریځې ته لېږدول کیږي/ ورکول کیږي)، د تیرو کلونو پاتې ګټو/زیانونو، نورو عمده عوایدو ( د ثابتو شتمنیو د بیې د نوي سنجش څخه ترلاسه شوي عواید) او د روان کال د ګټو/زیانونو څخه جوړه شوې ده .

د اسلامي بانکدارۍ پانګه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۳.۸۳ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۲۱۵.۵۴ میلیونه افغانۍ یا ۵.۳۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ د پانګې د کمیدو اصلي لامل په یاده موده کې د بانکي نظام زیانونه ګڼل کیږي. همدا ډول د افغانستان د اسلامي بانک د پانګې د کفایت نسبت ۱۲.۲ سلنه ښودل شوی دی.

### ۵.۸.۶ ګټورتیا

په ټولیزه توګه، د اسلامي بانکدارۍ د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۲۱۵.۵۴ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د تیرې ربعې په پرتله په ټولیزه تخصیص شویو مبلغونو کې ۱۸۲ میلیونه افغانۍ زیاتوالی او غیر انتفاعي عوایدو کې ۴۶ میلیونه افغانۍ کموالی یې اصلي لامل ګڼل کیږي.

په ورته وخت کې، د اسعارو له ارزښت تاکنې څخه ترلاسه شوې پیسې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې ۴۱.۲۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې له بیا ارزونې وروسته ۴۰ میلیونه افغانۍ مالیه کیږي او په دې توګه د اسلامي بانکدارۍ زیان له ۳۹۰.۷۰ میلیونه افغانۍ څخه ۲۱۵.۵۴ میلیونه افغانۍ ته راکموي. له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټې د تیرې ربعې د ۱.۸۴ سلنې څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې منفي ۵.۲۱ سلنې ته راکمې شوې دي، حال دا چې د پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه د تیرې ربعې د ۱۴.۱۰ سلنې څخه منفي ۲۶.۰۶ سلنې ته راټيټه شوې ده.

| ۹.۶ جدول: د اسلامي بانکدارۍ د ګټې او زیان جدول | | | |
|---|---|---|---|
| د ګټې او زیان جدول (مبلغ په میلیون افغانۍ) | | | |
| اقلام | ۲۰۱۸ ډیسمبر | ۲۰۱۹ مارچ | توپیر |
| انتفاعي عواید | ۲۰۷.۸۹ | ۱۹۶.۸۴ | (۱۱.۰۴) |
| انتفاعي لګښتونه | ۵۹.۴۰ | ۸۰.۵۶ | ۲۱.۱۵ |
| خالص انتفاعي عواید | ۱۴۸.۴۸ | ۱۱۶.۲۸ | (۳۲.۲۰) |
| نور غیر انتفاعي عواید | ۱۳۸.۷۴ | ۹۲.۴۵ | (۴۶.۲۸) |
| نور غیر انتفاعي لګښتونه | ۸۲.۶۴ | ۲۷۳.۰۹ | ۱۹۰.۴۵ |
| د پور تخصیصونه | (۲۴۲.۸۴۸) | ۳۲۶.۳۵ | |
| له مالیې مخکې ګټه / زیان | ۴۴۷.۴۳ | (۳۹۰.۷۰) | |
| له مالیې وروسته خالص انتفاعي عواید/زیان | ۷۷۸.۴۱ | (۲۱۵.۵۴) | |
| **سرچینه:** د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک | | | |

په ټولیزه توګه، د اسلامي بانکدارۍ د مالي تمویل اووه ډوله محصولات وړاندې کوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د مالي تمویل له یادو محصولاتو څخه ترلاسه شوي عواید په لاندې جدول کې ښودل کیږي.

| ۱۰.۶ جدول: د شریعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ګټه | | | |
|---|---|---|---|
| د شریعت مطابق تړون د عمده ډولونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو ارزښت (مبلغ په میلیون افغانۍ) | | | |
| محصول | ۲۰۱۸ ډیسمبر | ۲۰۱۹ مارچ | توپیر |
| د بانکونو سره موده ایز امانتونه | ۲۱.۴۶۸ | ۱۹.۱۱۸ | (۲.۳۵۱) |
| د نورو مالي ادارو د امانتونو څخه ترلاسه شوي انتفاعي عواید | ۱۱.۴۸۹ | ۱۸.۱۸۳ | ۶.۶۹۴ |
| مرابحه | ۱۳۸.۳۶ | ۱۰۶.۲۳۵ | (۳۲.۱۲۶) |
| دوامداره مرابحه | ۱.۲۲۹ | ۰ | (۱.۲۲۹) |
| ټیټیدونکې مشارکه | ۷.۸۱۴ | ۹.۱۷۳ | ۱.۳۵۹ |
| صکوک | ۷.۹۱۷ | ۲۰.۷۷۸ | ۱۲.۸۷۰ |
| اجاره | ۱۹.۶۱۳ | ۲۳.۳۵۱ | ۳.۷۳۸ |
| ټولیزه انتفاعي عواید | ۲۰۷.۸۹۲ | ۱۹۶.۸۴۷ | (۱۱.۰۴۵) |
| **سرچینه:** د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک | | | |

**۱۷.۶ ګراف: د شریعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ګټه**




**سرچینه:** د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک






د ریاست د دفتر عمومی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټیلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+